# ښوونه

# چې ورزده کړو

ليکوال : مولوي عبدالهادي حماد
مدرس وناظم جامعه اسلاميه اشرفيه

www.Hammedia.com

*Download From: Aghalibrary.com*

***Download From: Aghalibrary.com***

بسم الله الرحمن الرحيم

www.Hammada.com

*Download From: Aghalibrary.com*

# دکتاب ځانګړتياوي


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | ښوونه چي ورزده کړوه |
| دليکوال نوم | مولوي عبدالهادي حماد |
| چاپ کال | ۱۳۸۹ هـ ش |
| کمپيوټري چاري | ليکوال |
| دچاپ شمېر | زر ټوکه |


www.Hammadia.com

*Download From: Aghalibrary.com*

# فهرس


| شمېره | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱ | مقدمه | ۱ |
| ۲ | اورېدل په پوهولو راپوهولو کي رغنده رول لري | ۲ |
| ۳ | داورېدلو اړونده کوم څه اړين دي؟ | ۴ |
| ۴ | دماشومانو داورېدلو دمهارت لپاره اړين توکي | ۱۱ |
| ۵ | داستاذ دېږغ پرته دنورو ږغونو په اورېدلو سره دډېرو کوچنيو شاګردانو زده کړه | ۱۴ |
| ۶ | داستاذ دېږغ پرته دنورو ږغونو په اورېدلو سره دمتوسطو شاګردانو زده کړه | ۱۶ |
| ۷ | دژبي دوهم مهارت خبري کول | ۱۸ |
| ۸ | داستاذ په وړاندي دشاګرد په خبرو کولو کي پرتې ستونزي | ۱۹ |
| ۹ | دشاګردانو دخبروکولو دستونزو دحل لاري چاري | ۲۰ |
| ۱۰ | دګډوډو يا تورې خبرو لاملونه | ۲۲ |
| ۱۱ | دګډوډو خبرو داصلاح لاري چاري | ۲۳ |
| ۱۲ | ځان تېټ معلومېدل يوه رواني ناروغي ده | ۲۴ |
| ۱۳ | درواني ناروغۍ لاملونه او درملنه | ۲۴ |
| ۱۴ | دماشوم سپکاوی او توهين | ۲۵ |


www.Hammadia.com

# فهرس



| شمېره | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ۱۵ | علاج يې | ۲۷ |
| ۱۶ | پر اولادونو باندي زيات تېرېدل | ۲۸ |
| ۱۷ | داولادونو ترمنځ توپير کول داولاد دروانې ناروغۍ لامل دئ | ۳۰ |
| ۱۸ | ځوک چي دخبرو کولو جرئت نه لري څنګه يې بې جرئتي له منځه ځي؟ | ۳۲ |
| ۱۹ | دسام پرېوتلو يا کم جرئتۍ لاملونه | ۳۳ |
| ۲۰ | دشرم پديده | ۳۴ |
| ۲۱ | دشرم دپديدې علاج | ۳۵ |
| ۲۲ | دويري پديده | ۴۰ |
| ۲۳ | دويري دپديدې لاملونه | ۴۱ |
| ۲۴ | دزياتي ويري علاج | ۴۲ |
| ۲۵ | دچابکو خبرو علاج | ۴۵ |
| ۲۶ | ځوک چي پر يوه موضوع باندي تفصيل نه سي ورکولای علاج به يې څه وي؟ | ۴۶ |
| ۲۷ | دلوستلو مهارت | ۴۷ |
| ۲۸ | دلوستلو ګټې | ۴۷ |
| ۲۹ | شاګرد څنګه دلوستلو يا مطالعې سره اشنا | ۴۸ |



www.Hamraaia.com

## فهرس



| صفحه | موضوع | شمېره |
|---|---|---|
| | کېدلای سي؟ | |
| ۵۰ | دبنه لوستونکي صفتونه او ځانګړتیاوي | ۳۰ |
| ۵۱ | دتېز لوستلو غوره لار | ۳۱ |
| ۵۲ | په لوستلو کي دتېزوالي او کرار والي اندازه معلومول | ۳۲ |
| ۵۵ | دلوست بدعادتونه | ۳۳ |
| ۵۷ | دمطالعې اصول | ۳۴ |
| ۵۹ | دیوه شاګرد روزنه څه ته وایي؟ | ۳۵ |
| ٦۰ | دتربیت یا روزني برخي | ۳٦ |
| ٦۵ | دښوونکي مشخصات | ۳۷ |
| ٦۵ | دښوونکي شخصیت | ۳۸ |
| ٦۵ | داستاذ ظاهري وضع | ۳۹ |
| ٦٦ | په بیان کي تسلط او کافي استعداد | ۴۰ |
| ٦٦ | دشاګردانو پېژندنه | ۴۱ |
| ۷۷ | درسي امادګي | ۴۲ |
| ٦۷ | علمي افاقي امادګي | ۴۳ |
| ٦۷ | علمي مسلکي امادګي | ۴۴ |
| ٦۷ | دکار او وظیفې امادګي | ۴۵ |



www.Hammadia.com

فهرس



| صفحه | موضوع | شمېره |
|---|---|---|
| ٦٨ | پوهه | ۴٦ |
| ٦٨ | تجربه | ۴۷ |
| ٦٨ | ابتکار او روش | ۴۸ |
| ٦٨ | د څرګندي برنامي درلودل | ۴۹ |
| ٦۹ | ښه مطالعه لرل | ۵۰ |
| ۷۰ | مثبت عکس العمل | ۵۱ |
| ۷۱ | صحيح قضاوت | ۵۲ |
| ۷۲ | په درس ځای کي د استاذ لومړی حضور | ۵۳ |
| ۷۴ | د شاګردانو توجه ځانته جلبول او د ټولګۍ کنترول | ۵۴ |
| ۷۸ | که د استاذ خبري سلاست نه لري بايد څه وکړي؟ | ۵۵ |
| ۸۳ | په صنف کي د بې انضباطۍ مخه څنګه نيول کېدلای سي؟ | ۵٦ |
| ۸٦ | د توري يا سپيني تختې څخه استفاده کول | ۵۷ |
| ۸۸ | شاګردانو ته عملي درس ورکول | ۵۸ |
| ۹۰ | د شاګردانو سره د استاذ رويه بايد څنګه وي؟ | ۵۹ |
| ۹۴ | شاګردانو ته کورنی کار ورکول او د هغه کتل | ٦۰ |



www.Hamdadia.com

# فهرس


| شمېره | موضوع | صفحه |
|---|---|---|
| ٦١ | د شاګردانو د درس ارزيابي | ٩٧ |
| ٦٢ | ورځني ارزيابي | ٩٧ |
| ٦٣ | اونيزه ارزيابي | ٩٨ |
| ٦۴ | مياشتنۍ ارزيابي | ٩٩ |
| ٦٥ | د ارزيابۍ ګټې | ٩٩ |
| ٦٦ | په درس کي نغښتې ارزيابي | ١٠٠ |
| ٦٧ | د ښه استاذ صفتونه | ١٠٣ |
| ٦٨ | په ټولنه کي د استاذ صفات | ١٠٣ |
| ٦٩ | د ننه په صنف کي د استاذ صفات | ١٠۴ |
| ٧٠ | د استاذ مسلکي صفات | ١٠۴ |
| ٧١ | تدريس څه ته وايي؟ | ١٠٩ |
| ٧٢ | د تدريس خصوصيات | ١١٣ |
| | | |


www.Hamnadia.com

بسم الله الرحمن الرحيم

ان الحمد لله نحمده ونصلي ونسلم علي رسوله الكريم وعلي آله واصحابه حماة الدين المتين وعلي كل من تابعهم باحسان الي يوم الدين

وبعد ! درنو لوستونکو ! څښتن تعالي جل جلاله بشريت په ټولو مخلوقاتو کي په خپل خاص مرحمت او لورينه نازولی دئ او پرټولو مخلوقاتو باندي يې غوره والی ورکړی لامل يې دادئ چي الله جل جلاله وانسانانو ته دعلم او پوهي ستر وياړ ور په برخه کړی کومه ورځ چي دانسانانو دلومړی بابا يعني ادم عليه السلام دزېږد ورځ وه الله جل جلاله ملائکو ته امر وکړ، چي ادم عليه السلام ته سجده وکړي ځکه ادم عليه السلام دژوندانه دچارو په سرته رسولو علم درلودی ملائکو نه درلودی همدا دعلم ځانګړتيا وه چي ملائکي وادم عليه السلام ته سجده کولو امر سوې داچي علم دانسانانو لپاره ستر وياړ دئ نو انسانانو ته ددې وياړ دساتني او ددې وياړ څخه دګټي اخستني لوی مسؤليت دئ مطلب داچي انسانان اړ دي څو خپله علم زده کړي او نورو ته يې ورزده کړي خو علم زده کول په بېلابېلو طريقو باندي کېدلای سي چي په هغو کي سختي ، اسانه ، ميانه او داسي نوري لاري سته زما په اند چي څومره چي زده کړه مهمه ده په همغه داندازه دورزده کړي مهارت زده کول هم مهم دئ الحمد لله موږ ته الله جل جلاله داسلام سپېڅلي دين راکړی دئ په دې وياړمن دين کي دزده کړي او ورزده کړي لپاره ډېر ګټمن هدايات او لارښووني سته ورسره ترڅنګ دالله جل جلاله په مرسته دبشريت دتاريخ په اوږدو کي په ځانګړي ډول په دې وروستيو پېړيو کي ددې کار لپاره خورا زياتي تجربې رامنځته سوې له همدې امله به په دې رساله کي هغه مباحث او موضوعات رانقل کړو چي دورزده کړي مهارت پکښي زياتيږي او په

اسانۍ سره يو استاذکولای سي چي خپل شاګرد ښه پوه کړي او په پايله کي دغه استاذ ته دښه استاذ نوم ورکړل سي او ددې کار په کولو سره استاذ ددنيا او اخرت دګټو څخه برخمن سي.

# اوربدل په پوهولو راپوهولو کي رغنده رول لري

څرګنده خبره ده چي زده کړه او ورزده کړه دژبي يا لسان په مټ ترسره کېدای داچي ژبه په زده کړه کي زيات رول لري همدا وجه ده چي يو نامتو عالم ليکي: دژبي اهميت نسبت تر هغه ټولو حالاتو او اسبابو زيات دئ چي له ۲۰۰۰ کلونو څخه دبشر په واسطه کشف سوي او منځته راغلي دي بيا دټولني دودي ، سوکالۍ او پر مختيا لپاره په کار لوېدلي دي ـ ځکه ژبه دپوهولو راپوهولو مهمه وسيله ده او دبشر دورځني ژوندانه جز ګڼل کيږي ځکه که هر څومره اسباب او وسائل منځته راسي خو بيا هم دکاراخستني لپاره پوهولو راپوهولو ته اړتيا لري دساري په ډول که څه هم دټولني دپرمختيا لپاره طياره جوړه سوې ده داچي زده کړي ته اړتيا لري نو بېله پوهولو يا راپوهولو دټولني ګټي نسي ځني تر ګوتو کېدای حتما به هغه څوک چي ددې کار ابتکار يې کړی دی دزده کړي لپاره به زده کړيان لري او دژبي په وسيله به يې پوهوي. يعني وړاندي ترديي چي موږ په کوم مطلب په اسانۍ سره پوه سو بايد دپوهاوی او دموخي دڅرګندتيا لپاره بايد ژبه وکاروو بلکي هر کله چي موږ ديوې موضوع دڅرګندتيا هڅه وکړو دژبي په وسيله يې کولای سو. له همدې امله موږ نسو ويلای چي ژبه دانسانانو دنوو اختراع سوو داسبابو له ډلي څخه ده بلکي

ژبه دبشريت دتاريخ همزولې ده، دانسانانو ترڅنګ حيوانان همددې وسيلې څخه کار اخلي ، په خپل خاص ږغونو سره يو له بله پوهوي دساري په ډول که يو حيوان وغواړي چي خپل مالک په خپله لوږه ياتنده وفهموي نو يو خاص ږغ راباسي دهغه ږغ په مټ خپل مالک پوهوي چي زه وږی يا تږي يم .

ژبه دکار ، خبرو ،لوستلو ، ليکلو ، اورېدلو او فکر کولو لپاره په کارېږي لنډه داچي ژبه هغه مهمه وسيله ده چي دټولو مهارتونو مجموعه ورته ويلای سو او زموږ دژوند ټول مشکلات دهمدې وسيلې په مټ حلېدای سي. داچي دژبي په مټ زموږ ټول مشکلات حلېږي نو زده کړه هم ددې ژبي په مټ راتلای سي ځکه دمشکلاتو حل تر ډېره بريده په زده کړه پوري اړه لري نو دهر څه وړاندي بايد دژبي مهارتونه زده سي چي په ژبه کي کوم مهارتونه شتون لري او څنګه ددې مهارتونو څخه ګټه پورته کېدای سي . ددې مهارتونو په اړه دژب پوهانو نظر دادئ چي دژبي درې مهارتونه دي اورېدل ، خبري کول او پوهېدل . داچي ددې مهارتونو څخه څنګه بايد ګټه پورته سي نو يو په بل پسي به يې تربحث لاندي ونيسو چي لومړی يې اورېدل دي ځکه طبعا دبشريت دلومړۍ مرحلې څخه دغه مهارت ترنورو مخکي دئ.

# داورېدلو اړونده کوم څه اړين دي؟

کله چي يو ښوونکی دشروع څخه په ماشوم باندي يو څه زده کوي نو ماشوم يې داورېدلو په مټ زده کوي ، ماشوم هغه څه زده کوي چي دی يې واوري بيا په پوه سي سره ددې چي ماشومان په فاميلونو کي اوسيږي ، دخپلو کورنيو دغړو څخه اوازونه اوري نودښوونکي په هغه اواز پوهيږي چي ده په خپل فاميل کي اورېدلی وي حاصل داچي اورېدل چي دپوهولو او راپوهولو ستره وسيله ده ـ دژبي لومړی جز دئ. ددغه خبرو په نظر کي نيولو سره اړينه ده چي تر ټولو وړاندي دژبي ددغه جز يعني اورېدلو مهارت سمون او صلاح لپاره کار وسي، شننه پرې وسي ، بحث پرې وسي بالاخره دغه مهارت داصلاح تربريده ورسيږي. حقيقت دادئ چي ماشوم په فطرتي لحاظ باندي داسي يو مخلوق دئ چي دطبيعت له مخي ډېر دقيق او پلټونکی دئ له همدې امله هر ماشوم غوږ نيسي ، اوازونه اوري ورورسته بيا زيار باسي څو په خپل ځان کي ددغه اوازونو دتقليد منبع فعاله کړي. دماشوم دغه کار هغه وخت راپيليږي چي ماشوم مدرسې يا ښونځی ته شامل سوی نه وي بلکي تر دغه شموليت څو کاله وړاندي په ماشوم کي دغه کار په طبعي ډول راپارول کيږي. دبشر دغه طبعي فعاليت چي دڅښتن تعالي ﷻ په فضل او مرحمت په بشريت کي ايښودل سوی دئ ـ بايد درناوی يې وسي ، سالمه استفاده څني وسي او دماشوم لپاره بايد دوالدينو يا استاذ لخوا دغه فعاليت داسي پرمخ بوتلل سي چي ډېر معقول وي او په ازادانه ډول باندي وي څو ماشوم دخپل ستر نعمت يعني ژوند ټولي چاري په معقول ډول باندي پر مخ بوزي. البته کله چي ماشوم تر دغه لومړۍ مرحلې تيريږي دوهمي مرحلې يعني دمدرسې

يا مكتب محيط ته ځي دغه محيط دماشوم لپاره دوهمه مرحله ده او دماشوم په دغه وخت کي دڅېبي وانکشاف ته اړتيا دلومړۍ مرحلې په پرتله زياته وي. بدبختانه زموږ په دې وير لړلي هيواد کي دماشوم لومړۍ مرحلې ته هيڅ پام نه کيږي بلکي ددې پرځای چي په ماشوم باندي داسي ږغونه واورېدل سي چي دده په ګټه تمام سي ـ داسي ږغونه په اورېدل کيږي چي دماشوم لپاره تل پاتي بدبختي وي . دساري په ډول موږ مخکي وويل چي ماشوم دمدرسې تر شموليت مخکي په ځان کي طبيعتا دانفعال يا په ږغونو کي دتقليد قوه لري ، هر ږغ چي ورته واورېدل سي هغه زده کوي بيا يې تقليد کوي . زموږ په ټولنه کي ماشومانو ته ددې پرځای چي دادب خبري په واورېدل سي يا تلاوت ، اسلامي ږغونه ، يا دمعقول ژوندانه لپاره دځينو اساساتو ږغونه په واورېدل سي ـ ماشومانو ته ښکنځل اورېدل کيږي ، بې ادبه ږغونه په اورېدل کيږي چي ماشومان يې زده کوي ځکه په ماشوم کي پر دغه مهال باندي په طبعي ډول دغه قوه سته چي څه واوري بيا يې زده کړي په نتيجه کي ددغه ماشوم ټول ژوند دسترو مشکلاتو سره مخ سي او دا جفا به مور او پلار ورسره کړې وي دماشوم دغه حق به يې په ظالمانه ډول سره تر پښو لاندي کړی وي . خدای دي وکړي چي دموضوع څخه ډېر ليري ولاړ نسو يوه خبره ماته په ذهن کي راځي چي دماشوم دژوند سره تړاو لري هغه داچي په ډېرو کورونو کي يو کار رواج دئ هغه داچي ماشوم هغه وخت لا چي شرعا اوقانونا دمدرسې په تګ مکلف نه وي ، ددغه ماشوم دتهديد هيڅ جواز نه وي يعني ديوه کلنۍ څخه تر اوه کلنۍ وړاندي دمور ، پلار او دکورنيو دنورو

غړو لخوا وېرول کيږي ، ځيني ميندي ماشومانو ته دبلاوو انځور په خوله ښيي ، ځيني بيا ماشومانو ته وايي چي چوپ سه سپي يا پيشو راځي تا خوري ، ځيني ميندي يا پلرونه يې وهي . حال داچي داسي کړنه دماشوم سره ستره جفا ده ځکه دماشوم دغه مرحله هغه نازکه مرحله ده چي هرڅه دی واوري هغه ته په خپل ذهن کي ځای ورکوي ، دماشوم ددماغ نازک عواطف او نازکي رشتې دداسي فشار په وړاندي هيڅ مقاومت نه سي کولای په پايله کي دغه ماشوم دژوند ترپايه يا په روحي ناروغي باندي اخته وي ، يا ټول عمر زيات بيريږي ، يا دزده کړي پر مهال باندي زياته هيره لري ، يادژوند تر پايه ډېر غبي وي او داسي نوري ستونزي ورته پيښيږي ان تردې چي ددې وېره هم سته چي ځيني ماشومان دي بيخي لېونيان سي . داروا پوهني يو عالم وايي چي په ماشوم کي تر عادي ويري زياته وېره دڅو لاملونو څخه منځته راځي : کله داسي وي چي مور خپل ماشوم دنااشنا مخلوقاتو او تيارو څخهووېروي ، کله داسي وي چي دماشوم مور تل په پرېشانيو او زياتو فکرونو وهلو کي بوخته وي ، کله داسي وي چي دماشوم انطوايي روزنه وسي يعني ماشوم په داسي ځای کي وروزل سي چي هلته بيخي هيڅوک نه وي يا بل عبارت ماشوم يوازي په څلورو دېوالو کي لوی سي او کله داسي وي چي دمور له خوا ماشوم ته زياتي خيالي کيسې او نکلونه وسي چي له امله يې دماشوم په زړه کي تل پاتي وېره پيدا سي په هر صورت دماشوم سره په لومړی مرحله کي مور او پلار داسي ناوړه کړني ترسره کړي نو دا به په اصل کي دماشوم سره ستره جفا وي. همدا ډول که دا موضوع داسلامي او مذهبي اړخه وڅېړو دشک

**پرته دماشوم دغه مرحلې ته په اسلام کې زياته توجه سوې ده ځکه په اسلام کې ديتيم لپاره دښه کفالت کول دجنت زيرى دئ ځکه رسول الله ﷺ فرمايي :**

**4892** – حَدَّثَنَا عَمْرُو بْنُ زُرَارَةَ أَخْبَرَنَا عَبْدُ الْعَزِيزِ بْنُ أَبِي حَازِمٍ عَنْ أَبِيهِ عَنْ سَهْلٍ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَأَنَا وَكَافِلُ الْيَتِيمِ فِي الْجَنَّةِ هَكَذَا وَأَشَارَ بِالسَّبَّابَةِ وَالْوُسْطَى وَفَرَّجَ بَيْنَهُمَا شَيْئًا([1])

**ژباړه : رسول الله ﷺ فرمايي : زه او هغه څوک چې دماشوم ښه کفالت کوي په جنت کې به داسي يو لكه دمنځ او شهادت دوې ګوتي چې سره لازمي دي يعني ديتيم ښه کفالت کونکی به زما سره په جنت کې داسي لازم وي لكه دمنځ او شهادت ګوتي چې سره لازمي دي. ديتيم دښه کفالت کولو امر له دې امله سوى دئ چې يتيم ماشوم ښه ارام او هوسا ژوند وکړي او درواني ناروغيو څخه وژغورل سي. له همدې امله دماشوم دغه مرحلې ته چې دمدرسې ترشموليت وړاندې مرحله ده زياته توجه وسي. کله چې ماشوم دوهمي مرحلې ته راوستل سي يعني دمدرسې يا مکتب محيط ته راسي نو لكه مخکي چې مو وويل ماشوم په دغه مرحله کې دانفعال يا تقليد دقوې انکشاف ته ډېره اړتيا لري . کوم ښوونکی چې ماشوم ته ددغه مرحلې په پيل کې څه ورزده کوي نو بايد په ماشوم باندي زيات اوربدل وکړي ، خپلې خبري په بيا ، بيا ورته تکرار کړي څو ماشوم زيات اوربدل وکړي ، دزياتو اوربدلو په نتيجه کې ماشوم کولاى سي چې په يوڅه پوه سي او يوه نوي زده کړه لاسته راوړي . بدبختانه**

---

[1]: بخاري ج : ١٦ص : ٣٥٧

دځينو استاذانو دتغافل له امله يا دنه معلوماتو له امله ماشومانو ته زيات اوربدل نه کوي کله چي يوې ټولګۍ ته ودريږي نو يوځلي چي يې څه شاګردانو ته وويل پر هغه باندي بسنه وکړي شاګردان خالي لاس پاته سي بيا دغه استاذ په دليل کي داخبره کوي چي ماشومان غوږ نه نيسي. دغه دليل پرځای باندي نه دئ ځکه هر انسان په ځانګړي ډول ماشوم په فطرتي لحاظ داسي جوړ دئ چي فقط پنځه دقيقي يوې خاصي موضوع ته نسي متوجه کېدای حتما يې فکر بلي خوا ته ځي کوم انسان چي لوی وي هغه له دې امله چې عقل او پوره فکر لري خپله توجه او خپل پام راګرځوي ، ماشوم چي کامل فکر نه لري نو داستاذ لخوا به اوربدل ورته تکراريږي. که اوربدل ورته تکرار نه سي نو ګويا ماشوم هيڅ نه دي اوربدلي کله چي څو يو شي وا نه وري نه پوهه به چيري لاسته راوړي . ځيني استاذانو ددې پرځای چي ماشومانو ته اوربدل تکرار کړي دتهديد په مټ دشاګردانو توجه ساتي ، دتهديد په مټ يې ددې څخه راګرځوي چي خپل پام بلي خوا ته بوزي په داسي صورت کي هم ماشوم داسي زده کړه نه سي کولای چي دده په ذهن کي نقش سي او دی يې په مفهوم باندي پوه سي بلکي ماشوم داسي زده کړه کوي لکه توتکۍ چي خبري کوي مګر په مفهوم يې نه پوهيږي . ماشوم به داستاذ څخه هغه څه ياد کړي چي استاذ ورته ويلي وي مګر په مفهوم به يې نه پوهيږي دساري په ډول که يو استاذ په دغه بڼه يعني دتهديد په صورت کي ماشوم ته ديوه عدد څخه تر لسو پوري حساب ورياد کړي بيا ورته ووايي چي دصفر سره چي ديوه عدد څنګته وليکې نو لس څني جوړيږي . ماشوم داستاذ دغه

خبره یاد کړي چي دیوه عدد څنګته چي صفر ولیکل سي لس ځني جوړیږي خو کله چي استاذ ورته ووایي چي ونیسه دغه عملیه اجرا کړه ماشوم یې نسي کولای ، که فرضا استاذ یو مثال ورته ولیکي نو دماشوم به هغه مثال زده سي بل مثال بیا نه سي جوړولای. که دغه ناوړه پروسه دوام پیدا کړي نو کېدای سي چي ماشوم ته دي یو بل ناورین هم پیښ سي هغه داچي که تاسو په ځینو مشورو او مجلسو کي لیدلي وي پر یوه موضوع باندي دمجلس غړي نظرونه ورکوي په دغه نظرو کي ډېر عمیق او ښایسته نظرونه پیدا سي خو ځیني غړي بیا داسي وي چي هیڅ نظر نه لري که وپوښتل سي نو دی وایي چي زه هم داسي وایم لکه دغه بل ملګری چي وایي یا یو څه ووایي په کټ مټ ډول داسي خبري وکړي چي دمجلس یوه بل غړي کړي وي خپل نظر نه لري نو که استاذ په تهدیدي ډول سره دماشومانو پام ثابت ساتي نو کېدای سي چي ماشوم به دژوند تر پایه پوري دنظر لرلو څخه بې برخي سي. بله خبره داده چي لکه په پیل کي چي مو وویل : دماشومانو لومړۍ مرحله په کور کي وي په کور کي چي ماشوم دفامیل دغړو څخه کوم ږغونه اورېدلي وي په همغه ږغونو باندي ماشومان پوهیږي که چیري ماشوم ته نابلده ږغ واورېدل سي ماشوم نه پوهیږي له همدې امله استاذ باید ماشوم ته په داسي الفاظو اورېدل وکړي چي ماشوم په هغه پوه سي که نابلده ږغ وي نو ماشوم هیڅ زده کړه نسي کولای دمثال په ډول که څوک موږ ته یو درسي پروګرام چي یو علمي موضوع پکښي څېړل سوي وي ـ جوړ کي البته دا پروګرام په انګلیسي ژبه وي ، نوموږ په انګلیسي ژبه نه پوهیږو نه سو کولای چي په دې

پروګرام کې چې هر ډول عملي موضوع وي هغه زده کړو مطلب داچې تر څو چې موږ  په هغه ژبه ونه پوهیږو داورېدلو ، ویلو او پوهېدلو دایره دویونکي او اورېدونکي په منځ کې نه تکمیلیږي نو لازم دی چې پوهېدل موجود وي تر څو چې دغه دایره پوره او تکمیل سي . تاسو ته معلومه ده چې موږ تل داورېدلو څخه یو هدف لرو ، اورېدل له دې امله کوو چې څه زده کړو یا معلومات حاصل کړو تر څو په هدایاتو وپوهیږو او دهغه څخه یو څه مقصد لاسته راوړو دساري په ډول موږ رادیو اورو ددې رادیو څخه بېلابېلي خپروني اورو که موږ په دغه خپرونو پوه نه سو مقصد نه سو ځني اخیستلای ، همدا ډول دخپل شاوخوا دخلکو دژوند او اشنا کېدلو لپاره دپوهي ضرورت داورېدلو په پرده کې پټ دئ نو ځکه زموږ ډېر وخت په اورېدلو کې تیریږي. له  همدې امله هر ښوونکی دي دې ته پوره پاملرنه وکړي کله چې شاګردانو ته څه وایي دې ته پوره توجه وکړي چې څنګه ویل کوي؟ ایا په دې ویلو سره شاګردان پوهیږي که یا؟  ایا دده اورېدل وشاګردانو ته په  کومه کچه دي یعني شاګردانو ته  دغه اورېدل بسنه کوي که یا؟ که استاذ په دې وتوانیږي چې داورېدلو ، ویلو او پوهېدلو دائره بشپړه کړي نو حتما به یې خپل مقصد ترګوتو کړی وي چې دشاګردانو پوهېدل دي او شاګردانو به هم خپل مقصد ترګوتو کړی وي چې ځانونه پوهول دي . په دې صورت کې به بیخي هغه ستونزه له منځه تللې وي چې وایي ماشومانو ته درس ویل کیږي خو  کومه پایله نه لري بلکي شاګردان بې زده کړې پاته او استاذ یو کامل استاذ نه دئ .

# دماشومانو داوربدلو دمهارت لپاره اړين توکي

په زياتو مدرسو او مکاتبو کي موږ وينو چي استاذ خپلو شاګردانو ته ډېر څه وايي او شاګردان لږ څه زده کوي يا په بل عبارت استاذ شاګردانو ته ډېر څه وايي خو دټولو پوهول ورته ګران کار وي ددې ستونزي دحل لپاره استاذ بايد شاګردانو ته داسي څه ووايي چي دشاګردانو ذهن ته نژدې وي او دشاګردانو ذهن ددغه شيانو پر درک باندي برلاسی ولري يعني داسي مطالب په داسي الفاظو وي چي دشاګردانو مقصد ته څېرمه او نژدي وي په دې لحاظ استاذ ته اړينه ده چي لاندي شيان په لازمي توګه په نظر کي ونيسي :

1. ښوونکی بايد شاګردانو ته داسي څه ووايي چي داوربدلو ارزښت ولري مطلب داچي هغه څه شاګردانو ته ووايي چي په درس پوري اړه لري ، په داسي الفاظو يې ووايي چي شاګردان په پوه سي ، دبې ځايه او نامناسبه خبرو څخه لاس پر سر سي.
2. ښوونکی بايد خپلو شاګردانو ته منظمي يو په بل پسي پر خپل مقصد باندي خبري وکړي دتيت او پاشل سوو مقاصد څخه لاس واخلي يوازي بايد استاذ شاګردانو ته دموضوع او دده دمضمون اړونده خبري وکړي اودموضوع دتشريح لپاره د داسي تکتيک څخه

کار واخلي چي هغه موضوعات مخکي ورته وايي چي وروسته موضوع پرې موقوفه وي دمثال په ډول که يو استاذ غواړي چي خپلو شاګردانو ته دضرب عمليه ورزده کړي نو په کار ده چي لومړی مضروب او مضروب فيه ورته وښيي بيا دضرب علامه وروښيي ، بيا دعدد ليکلو مواقع وروښيي په څلورم قدم کي دضرب دعمليې حل وروښيي ، که استاذ لومړی شيان ورته ونه ښيي دستي دضرب دعمليې حل ورته وښيي او په خپلو الفاظو کي دمضروب او مضروب فيه نومونه يادوي ، شاګردان به هيڅ نه پوهيږي چي دا څه وايي او دا کوم شيان دي چي استاذ يې نومونه اخلي. له همدې امله استاذ بايد خپلو شاګردانو ته ددرس لپاره ورځنی پلان ولري او دپلان له مخي خپل درس پر مخ بوزي.

3. استاذ بايد دخپلو شاګردانو دتشويق او غوږ نيولو لپاره دداسي تکتيک څخه کار واخلي چي هم شاګردان درس ته دلچسپه سي او هم ددرس په مطلب باندي ډېر ښه پوه سي دمثال په ډول شاګردانو ته ددرس اړونده يو لنډکۍ او جالبه قصه وکړل سي په دې قصه باندي شاګردان تشويق کړل سي په ښه غور غوږ ورته ونيسي البته داقصه به په داسي ډول وي چي ددرس سره تړلې وي او ددرس څرګندتيا هم پکښي وي.

4. استاذ بايد شاګردانو ته داسي ووايي چي دپوهېدلو ارزښت ولري يعني استاذ بايد شاګردانو ته داسي څه ورزده کړي چي شاګردانو ته زيات اړين وي او دشاګرد ورته اړتيا وي دهغه څه دزده

www.Hammadia.com

کولو څخه ډډه وکړي چي دشاګرد بیخي اړتیا ورته نه وي یا خو اړتیا ورته وي مګر اوس اړتیا نه ورته لري.

5. استاذ شاګردانو ته باید په لوړ او واضح اواز خبري وکړي چي شاګردان يې واوري البته داواز دلوړوالي کچه به په هغه پیمانه وي چي دشاګردانو ورته اړتیا وي او ددومري لوړ اواز څخه به هم ډډه کوي چي دشاګردانو دسردرد لامل ګرځي.

6. استاذ به خپلو شاګردانو ته پوره او درستي کلمې استعمالوي چي دشاګردانو دښه فهم سبب وګرځي.

7. استاذ باید شاګردانو ته په معتدله لهجه خبري وکړي یعني داچي خپلي خبري به چابکي نه کوي چي شاګردان يې درک نه کړي او نه به يې داسي کرار کوي چي دشاګردانو دخستګۍ سبب وګرځي.

8. استاذ به دشاګردانو په وړاندي دورین تندي څخه کار اخلي ځکه که استاذ په ترش تندي او دقهر پر مهال شاګردانو ته درس وايي نو شاګردان سالمه استفاده نه سي کولای ځکه دشاګرد په زړه کي وېره او وهم وي فکر يې په هم دغه وېره بوخت وي هغه څه ته نه فارغه کیږي کوم چي استاذ يې درسوي.

9. استاذ باید شاګردانو ته محیطي جوړښت په نظر کي ونیسي یعني په داسي ځای کي درس ورته وايي چي ددباندي له خوا غالمغال وانه وربېدل سي او نه داسي ځای وي چي خالي فضا وي یوه اوبل طرفته تګ راتګ وي یا داسي نور شیان وي چي دشاګردانو فکر

www.Hammadia.com

ور اوړي.

10. ددرس ځای فضا باید معتدله وساتل سي نه داچي ډېره سخته ګرمي او نه داچي ډېر سخت یخ وي چي له امله یې دشاګردانو پام ددرس څخه دځپل جسمي ارام لوري ته اوړي.

11. په کوم ځای کي چي استاذ شاګردانو ته درس وایي داسي یو ځای به وي چي دټولو شاګردانو لپاره پکښي ځای وي یعني که په درس ځای کي دچوکیو نظام وي باید ټولو شاګردانو ته دناستي لپاره چوکیاني موجودي وي که ځني شاګردان دناستي لپاره چوکیاني نه لري نو دغه شاګردان چي چوکۍ نه لري ناارامه به وي درس ته هیڅ نه سي متوجه کېدای او هغه شاګردان چي چوکیاني لري دهغو بیا په دوی کي فکر بندیږي په پایله کي به شاګردان دزده کړي پرځای خالي لاس پاته وي.

12. کله چي استاذ په ټولګۍ کي درس وایي نو استاذ به پر یوه ځای باندي نه دریږي بلکي دشاګردانو دتوجه دجلبولو لپاره به دټولګۍ یو سر او بل سر ته ځي ځکه مخکي موږ وویل چي ماشوم ددې توانایي نه لري چي تر ډېر مهاله دي داستاذ درس ته متوجه سي حتما یې فکر او نظر بل لوري ته ځي که استاذ ددوی دجلب او ددوی دفکر او نظر دثبات لپاره دټولګۍ یو سر او بل سرته ولاړ سي شاګردان پوهیږي چي استاذ موږ ته متوجه دئ زموږ څخه توجه غواړي نو که یې فکر بل لوري ته تللي وي داستاذ په ورتګ سره یې فکر بېرته راګرځي.

# داستاذ دړغ پر ته دنورو ږغونو په اوریدلو سره دډیرو کوچنیو شاګردانو زده کړه:

مخکي موږ وویل چي استاذ به خپلي خبري شاګردانو ته اوروي شاګردان به دده دخبرو داوریدلو څخه زده کړه کوي او ددې کار لپاره مو ځیني اړین شیان هم وښودل اوس راځو دې خبري ته چي شاګردان دمدرسې یامکتب په محیط کي دنورو شیانو او نورو خلکو ږغونه هم اوري دهغو څخه هم څه زده کولای سي؟ جواب دادئ : چي دا کار داستاذ مهارت ته اړتیا لري که استاذ ددې کار لپاره خپل مهارت په کار واچوي حتما به شاګردان دنورو ږغونو څخه هم زده کړه وکړي بلکي دابتدایي شاګردانو لپاره ډیره اړینه ده چي ددې اوریدلو څخه زده کړه وکړي علاوه پردې داستاذ لپاره دا کار یوه غوره وسیله ده چي دشاګردانو ذهنونو ته انکشاف ورکړي او په ډیره اسانه طریقه سره خپلو کوچنیانو ماشومانو ته زده کړه ورکړي البته په دې کار کي به استاذ خپل میتود په کار اچوي دمثال په ډول که یو استاذ غواړي چي ددې لاري څخه خپلو شاګردانو ته زده کړه ورکړي نو یوه بېلګه یې داده چي استاذ خپل شاګردان دمدرسې انګړ ته راوباسي بیا ورته ووایي چي سترګي پټي کړئ کله چي ماشومانو سترګي پټي کړې نو استاذ ترې وپوښتي چي ایا تاسو دکوم شي ږغونه اورئ؟ شاګردان به حتما مختلف جوابونه ورکوي ځیني به وایي چي دموټر ږغ مو واوریدی ، ځیني به وایي چي دبایسکل ږغ مو واوریدی ، ځیني به چي دسړي ږغ مو وازریدئ او داسي نور تردې کار وروسته بیا شاګردان را

ولاړ کړي دکومو شیانو نومونه چې دوی یاد کړه هغوی به پر تخته ورته رسم کړي یا به یې په خپله انځور ورته تعریف کړي تردې وروسته به دهغو شیانو دنومونو لیکل پیل کړي چې دکومو تورو څخه جوړ دي او تردې وروسته به دهغو شیانو پر نومونو باندي جملې ورته جوړول پیل کړي . کېدلای سي چې استاذ دخپل مهارت په مټ داسي نوري تګلاري هم په کار واچوي په هر صورت که استاذ دداسي کارونو څخه استفاده وکړي یعني په شاګردانو عملي ډول کار وکړي نو دشاګردانو ذهنونه به دیوې خوا انکشاف وکړي دبلي خوا به زده کړه په ډېره اسانۍ سره وکړي ځکه مخکنی مثال چې موږ بیان کړی چې لومړی استاذ دشاګردانو څخه دړغو پوښتنه وکړه شاګردانو جواب ورکړ ، حتما په دغه شاګردانو کي داسي څوک سته چې دده ملګرو دکومو شیانو نوم واخیستی هغه به یې تر دغه مهاله بیخي لیدلی نه وي او یا به یې نوم اورېدلی نه وي ، بیا چې استاذ دهغه شي رسم ورته ولیکی هغه ماشوم چې دغه شی یې تر دغه مهاله نه وولیدلی ددې فکر ورسره پیدا سو چې داسي شي حتما سته زه یې بایدووینم په ده کي دپلټني ماده پیاوړې سوه او هغه شاګرد چې لیدلی یې وي دهغه سره دافکر پیدا کیږي چې دیو شي لپاره انځور هم کېدای سي نو چې دجسم لپاره یې انځور کېدای سي نو نوم یې هم حتما لیکل کېدای سي داچې نوم یې لیکل کېدای سي نو باید څنګه ولیکل سي؟ هر وخت چې استاذ دهغه شي دنوم په لیکلو پیل کوي شاګرد ډېر ښه ورته متوجه کیږي او ډېر ژر یې زده کوي.

# داستاذ دړغ پر ته دنورو ړغونو په اوربدلو سره دمتوسطو شاګردانو زده کړه

کله چې شاګردان يوڅه وده وکړي تر يوځايه يې زده کړي کړي وي او دپخوا په پرتله يې دذهن انکشاف سوی وي مثلا که شاګرد دريم ټولګي ته رسېدلی وي په دغه کي وخت بايد استاذ يو بل ډول مهارت په کار واچوي څو شاګردان په تشويقي او تکتيکي ډول زده کړه راجلب کړي ددې لپاره استاذ اړ دئ چې دخپلو شاګردانو دښې زده کړي لپاره مختلف مهارتونه او تکيتکونه په کار واچوي موږ به يې دلته يو مثال ووايو استاذ به ددې څخه کار اخلي بيا به په دې لاره ددغه مثال په ډول نور مهارتونه هم په کار اچوي .دمثال په ډول شاګردانو ته په دغه وخت په نسبي ډول يو څه ګران مضامين ويل کيږي مثلا په رياضي کي جمع ، تفريق او داسي نور ورته ويل کيږي نو استاذ به خپلو شاګردانو ته ووايي چې ما تاسو ته يو څه ويلي دي تاسو زده کړي دي؟ دشاګردانو جواب به حتما داوي: بلي استاذه! موږ هغه څه زده کړي دي چې تا راته ويلي دي. بيا به استاذ ورته ووايي : ددې لپاره چې ماته ستاسو زده کړه معلومه سي زه ستاسو څخه پلټنه کوم تاسو پر دوو ګروپونو وېشم پنځه پوښتني دهر ګروپ څخه کوم دهر ګروپ غړي چې جواب راکړی لس نمرې ورکوم که يې نيمګړی جواب راکړی پنځه نمرې ورکوم هر ګروپ چې ډيري نمرې واخيستې هغه ګټونکی ګروپ دئ او جائزه به ورکول کيږي. استاذ چې ددې خبري يادونه شاګردانو ته وکړه شاګردان په دې کار سره خورا زيات خوشاله کيږي نو استاذ به خپل شاګردان پر دوو ګرپونو وويشي يوه

ګروپ ته به مثلا دضرب نوم ورکړي او بل ګروپ ته به دتفریق نوم ورکړي . دهر ګروپ چي هر څو غړي دي وهر غړي ته به دعدد نوم ورکړي مثلا احمد ته به د ۱۰ عدد نوم ورکړي محمود ته به د۱۲ عدد نوم ورکړي بیا به ددوی څخه پوښتني پیل کړي لومړی به دګروپ نوم اخلي بیا به په هغه ګروپ کي دکوم کس څخه چي استاذ پوښتنه کوي نو دهغه نوم به نه یادوي بلکي هغه نوم به یې یادوي چي په عدد سره یې ورکړی دئ استاذ چي پوښتني بشپړي کړې ټولو ته یې نمرې ورکړې بیا به دشاګردانو څخه وپوښتي چي په تاسو کي څوک ګټونکی او دجائزې مستحق دئ . دشاګردانو څخه هر ګروپ ادعا کوي موږ ګټونکی یو بیا به استاذ محاسبه ورسره پیل کړي چي دضرب په ګروپ کي درو کسانو پوره او یوه کس نیمګړی جواب راکړی ، دتفریق په ګروپ کي دوو کسانو پوره او دروو کسانو نیمګړي جوابونه راکړه تاسو دغه نمرې سره جمعه کړی چي دکوم ګروپ نمرې زیاتیږي ، وروسته به په شاګردانو په عملي ډول کار وکړي دې کار ته خورا ډېر دوی متوجه وي په جمعه او ضرب باندي دخپل مطلوب دحصول لپاره ډېر ښه ځان پوه کوي په دې ځای ک یشاګردانو داستاذ دږغ پرته دنورو ټولګیوالو ږغونه واورېدل کوم څه چي به دده ټولګۍ وال وویل که به دده پخوا زده وه ښه به یې په مغزو کي کښېناستل او که به یې زده نه وه دټولګۍ والو دخولې څخه یې زده کړه همدا ډول دوی پوه سوه چي ضرب دڅه لپاره په کاریږي او جمع دڅه لپاره په کاریږي او داسي نوري ډېري ګټي پکښي سته له همدې امله استاذ که دا یا دې ته ورته نور کارونه ترسره کړي نو دشاګردانو په زده کړه کي به

يې ډېري لاسته راوړني کړي وي.

# دژبې دوهم مهارت خبري کول

دژبي لپاره دوهم مهارت خبري کول دي مخکي موږ وويل چي ماشوم لومړی اورېدل کوي ، داورېدلو په مټ يو څه زده کوي بيا يې وايي تر هغه مهاله چي ماشوم څه نه وي اورېدلي دويلو توانايي هم نه لري ځکه تاسو ليدلي دي چي ډېر ماشومان دژوند دپيل څخه ګونګيان وي داځکه چي په غوږو نه اوري يعني کاڼه وي ، څه يې نه وي اورېدلي نو څه ويلای هم نه سي ، ددغه ماشوم ګونګتوب يوازي دنه اورېدلو له امله دئ په هرصورت راځو خپلي اصلي موخي ته چي خبري کول دي ، خبري کول دژوندانه يوه ستره وسيله ده په همدې لحاظ دشاګرد سره دخبرو په زده کړه کي بايد دوس تربريده همکاري وسي . کله چي ماشوم ښوونځی ته راسي نو هغه ډول خبري کوي چي ده په کور کي اورېدلي وي ، مناسبي او کاملي خبري نه سي کولای ، ياځيني داسي خبري کوي چي تلفظ يې صحيح نه کوي .استاذ ته په کار ده چي دخپلو ټولو شاګردانو سره په تکلم کي په پوره مهارت همکاري وکړي او دشاګردان په مخ دتکلم په ډګر کي پرتې ستونزي له منځه يوسي دا په هغه صورت کي چي استاذ دځان سره لاندي سوالونه وکړي او بيا يې جوابونه پيدا کړي هغه داچي استاذ دځان سره فکر وکړي چي زه ډول ، ډول درس شاګردانو ته وايم په درس کي بايد ددوی تکلم اصلاح کړم.

www.Hammadia.com

# داستاذ په وړاندې دشاګرد په خبرو کولو کې پرتې ستونزې

که یو شاګرد دځینو اړینو شیانو تلفظ صحیح نه سي کولای مثلا ډوډۍ په دودۍ بولي استاذ ته به حتما ددې فکر وي چې زه به ددغه ماشوم تلفظ څنګه اصلاح کوم.

ځیني شاګردان دبلي ژبي ویونکی وي خبري په ګونګه او ګډوډه لهجه کوي نو داستاذ سره به دافکر وي چې زه به یې دخبرو ګونګوالی او ګډوډې څنګه لمنځه وړم.

ځیني شاګردان پوهیږي جرائت نه لري چې څه وایي څنګه به ددغه شاګرد کم همتي استاذ له منځه وړي.

ځیني شاګردان توریان وي چابکي خبري کوي ځوک مفهوم نسي ځني اخستلای استاذ به څنګه ددغه شاګرد تکلم اصلاح کوي.

ځیني شاګردان دپوښتنیو ستونزو څخه یوه هم نه لري مګرکله چې خبري کوي پر ټاکلي موضوع تفصیل نه سي کولای . کله چې استاذ دغه پوښتني دځان سره وکړې نو دحل لاره به یې لټوي که دغه استاذ لاندي هدایات په نظر کي ونیسي نو پورتنۍ ټولي ستونزي به یې حل وي :

# دشاګردانو دخبروکولو دستونزو دحل لاري چاري

لومړی : نوو تجربو ثابته کړې ده چې استاذ څومره چې په شاګردانو

ډېر عملي کارکوي په همغه پیمانه يې درس ښه پایلي لرونکي وي نو که يو ماشوم دځيني الفاظو صحيح تلفظ نه سي کولای په کار ده چي استاذ ددغه میتود څخه کار واخلي یعني عملا په ماشوم باندي خپلي غلطۍ معلومي کړي داچي ماشوم دیو لفظ تلفظ غلط کوي اصلا ماشوم نه پوهیږي چي زه تلفظ غلط کوم که یا؟ کله چي دی پوه سي چي زما تلفظ غلط دئ حتما په ماشوم کي دپلټني ماده پیاوړې ده دصحيح تلفظ لټه يې کوي په پایله کي خپل تلفظ صحیح کوي دمثال په ډول که يو ماشوم ډوډۍ ته دودۍ وايي نو استاذ دي په ټولګۍ کي دوه داسي هلکان ولاړ کړي چي ډوډۍ ته په دودۍ وايي او پنځه دي داسي هلکان ولاړ کړي چي دډوډۍ تلفظ صحیح کوي بیا به لومړۍ ځل دهغه شاګرد څخه پوښتنه وکړي چي ډوډۍ ته په دودۍ وايي چي ته ډوډۍ تلفظ کړه ماشوم چي خپل تلفظ وکړی نو دده تلفظ خو صحیح نه دئ بلکي ډال په دال وايي بیا به دهغه شاګرد څخه پوښتنه وکړي چي دډوډۍ تلفظ صحیح کوي هغه شاګرد چي صحیح تلفظ وکړی بیا به دټولګۍ دنورو شاګردانو څخه پوښتنه وکړي چي په دوی دوو کي دکوم یوه تلفظ صحیح دئ شاګردان حتما هغه شاګردته ګوته نیسي چي تلفظ يې صحیح کړی دئ یعني ډوډۍ يې په ډوډۍ یاده کړې . هغه شاګرد چي ډوډۍ ته يې په دودۍ ویلي دي نور شاګردان ده ته ګوته نیسي چي دده تلفظ غلط دئ په دې حالت کي دستي دهغه شاګرد سره دپرېشانۍ فکر پیدا کیږي چي تلفظ يې غلط دئ او په دې لټه کي به سي چي زما تلفظ نو ولي او څنګه غلط دئ دخپلي غلطۍ په نقطه پسي به ګرځي ځکه دی خو دفکر څښتن نه دئ چي

دخپل او دبل دتلفظ عميق توپير وکړي ځکه که ده کولای سوای نو بيا يې تلفظ هم غلط نه کاوه. په دې کار کي به هم استاذ همکاري ورسره کوي چي ده ته په عملي ډول وښيي چي ستا غلطي په څشي کي ده هغه په دې ډول چي استاذ خو په شروع کي لا دوه داسي کسان ولاړ کړي وه چي ډوډۍ ته يې په دودۍ ويل. استاذ به لومړۍ هغه اول شاګرد ته متوجه سي چي تلفظ صحيح نه کوي او ورته وبه وايي چي ته پوه سوې چي تلفظ صحيح نه کوې ؟ هغه به ورته وايي : بلي استاذه ! استاذ به ورته ووايي چي ته غوږ ونيسه! ستا په څېر يوبل شاګرد هم سته چي تلفظ صحيح نه کوي بيا به هغه بل شاګرد ته ووايي چي ته تلفظ صحيح نه کوې ته دډوډۍ تلفظ وکړه هغه ماشوم به ډوډۍ ته په دودۍ ووايي بيا به استاذ په بل داسي شاګرد دډوډۍ تلفظ وکړي چي تلفظ صحيح کولای سي ورپسي به نو هغه اول شاګرد ته چي تلفظ يې صحيح نه سوای کولای ووايي : وګوره په دغه دوو شاګردان کي يوه داسي تلفظ وکړی لکه ته چي يې کوې او هغه بل شاګرد صحيح تلفظ وکړی شاګردان چي کله دغه دواړه ږغونه واوري چي يو صحيح دئ او بل غلط دئ نو يو دبله يې سره پرتله کوي او خپله نيمګړتيا ځني راباسي بيا به استاذ دهغه بل شاګرد داصلاح لپاره هم داسي کار وکړي چي هغه تلفظ صحيح نه کوي . دا دکوچنيو شاګردانو دتلفظ داصلاح لپاره يو مثال وو دې ته ورته به استاذ نور هم داسي مهارتونه او عمليې په کار اچوي څو وکولای سي چي دشاګردانو تلفظ اصلاح کړي.

دوهم : که داستاذ سره داسي شاګردان شتون ولري چي دبلي ژبي ويونکي وي مثلا يو شاګرد دفارسي ژبي ويونکی دئ په پښتو کي پوره

مهارت نه لري بلکي په پښتو باندي نيمګړي او ګډوډي خبري کوي او دلته په ټولګۍ کي په پښتو ژبه درس ويل کيږي په دې حالت کي هم استاذ ته په کار ده چي دخپل شاګرد تکلم اصلاح کړي هغه په دې ډول چي استاذ به لومړی ددغه شاګرد دګډوډو خبرو اصلي لامل په نښه کړي ځکه ددې ستونزي لپاره يو دلاندي لاملونو څخه کېدای سي :

# دګډوډو يا توړې خبرو لاملونه

الف : کله داسي وي چي شاګرد په فطرتي ډول باندي توړی وي ګونګي جملې وايي .

ب : کله داسي وي چي دشاګرد سره دلغاتو ذخيره کمه وي نه څه ويلای سي او نه جملې سره تړلای سي .

ج : کله داسي وي چي شاګرد ته ځان کم معلوميږي او ځان تر نورو کښته ورته معلوميږي .

# دګډوډو خبرو داصلاح لاري چاري

که شاګرد په فطرتي ډول باندي توړی وي دحل لپاره يې په څلورمه شمېره کي انشاء الله حل ښيېو.

که دشاګرد سره دلغاتو ذخيره کمه وه نو استاذ به په خپل پوره مهارت سره ددغه شاګرد دلغاتونو زخيره بډايه کړي دمثال په ډول استاذ به ودغه شاګرد ته يوه خيالي قصه جوړوي چي زيات لغاتونه پکښي کار سوي وي لکه چي استاذ شاګرد ته ووايي : يوه ورځ يو سړی په سفر تلی دځان سره

www.Hamnadia.com

يې كوزه ، قلم ، كتابچه ، كتاب ، داوبو څيښنلو لوښي ، كالي ، صابون ، لونګوټه ، خولۍ ، مسواک ، هنداره ، تسبيح ، ساعت ، ډوډۍ ، ديګ ، قاچوغه ، مالګه ، غوړي ، دارو، پياز ............. واخيستل پر موټر سايكل سپور سو پر لاري باندي يو بل سړی په مخه ورغلی چي انار ، انګور ........ ميوې ورسره وي...........استاذ چي دا قصه شاګرد ته کوي نو دهر لغت په اړه به پوښتنه څني کوي چي ته دا پيژني؟ دشاګرد څخه به جواب غواړي وروسته به بيا استاذ دهغه لغت په اړه پوره تعريف او معلومات ورکوي په صبا به بيا دهغو لغاتو په اړه پوښتني څني کوي څو ورځي چي استاذ دخپل دغه شاګرد سره داسي وکړي دشاګرد دلغاتو زخيره پياوړي كيږي او دتكلم ستونزي يې حليږي. كه استاذ دې ته ورته نور مهارتونه په كار واچوي ګټه به يې نوره هم زياته وي.

# ځان تيټ معلومېدل يوه رواني ناروغي ده

دريم : كه يو شاګرد ته په ټولګۍ كي ځان ټيټ معلوميږي دايوه ډيره بده پديده ده چي زيات وخت ماشومان په ډېر ويرجن حالت اخته كوي ، ناروا او بدو كارونو ته يې هڅوي دا ناروغي نه يوازي په هغه شاګردانو كي پيدا كيږي چي په ټولګۍ كي دبلي ژبي ويونكي وي بلكي دا ناروغي په عمومي ډول په ټولو ماشومانو كي پيدا كېداى سي دا چي دا موضوع ډيره مهمه موضوع ده يو څه به يې په تفصيل سره وڅېړو لومړی به ددې

ناروغۍ لاملونه وښیو څو خلک ځانونه ځني وژغوري ور پسې به یې داسلامي اړخه علاج وڅېړو.

# دروانې ناروغۍ لاملونه او درملنه

دغه ناروغي یعني داچي ماشوم ته ځان ټیټ معلومیږي ددې څو لاملونه کېدای سي چي دلاندنیو لاملونو څخه عبارت دي:

1. دماشوم سپکاوی او توهین.
2. دمور او پلار لخوا پر ماشوم باندي ډېر تېرېدل.
3. دمور او پلار له خوا داولادونو ترمنځ توپیر.
4. بدني ناروغي.
5. یتیم توب.
6. مسکنت.
7. دوطن بېلوالی.
8. دژبي او توکم بېلوالی.

پورته چي یې نومونه واخیستل سوه په زیاتو ځایونو کي دماشوم ددغه رواني ناروغۍ چي ځان ټیټ ورته معلومیږي لاملونه دي چي په پایله کي ماشوم ته دغه رواني ناروغي پیښیږي داچي علاج به یې څه وي نو لومړی به پر دغه لاملونو یو څه په تفصیل سره وږغیږو څو ښه څرګند سي بیا به یې علاج په نښه کړو.

## دماشوم سپکاوی او توهین

www.Hammadia.com

لومړی : دماشوم سپکاوی او توهین دې ته وايي چي کله ماشوم غلا وکړي نو ددې پرځای چي ماشوم فکرا دغلا څخه منعه سي او دا عادت دده څخه په داسي فکر پاته سي چي دا يو ناوړه کار دئ او دی يې دزړه له کومي بد وګڼي ـ دکور دغړو له خوا ده ته غل ويل کيږي کله چي دکورنۍ يو کس ده ته ناره کوي نو ورته وايي : اې غله ! يا کله چي دماشوم څخه ديوه کار غوښتنه کيږي هغه دناوسۍ يا ناروغۍ په وجهه نه کوي نو دکور غړي يې په په سپين سترګي ونوموي او ده ته په سپين سترګي باندي بږغ کوي . يا ځيني وخت ماشوم ډېر ښوري حال داچي دغه ښورېدل خپله په ځان کي يوه رواني ناروغي ده نو ددې پرځای چي درملنه يې وکړي دکور غړي ورته وايي : اې ښورانده ، لوچکه ! کله داسي وي چي ماشوم په هر شي کار لري مثلا که يو موټر په لاس ورکړل سي دی يې دستي خلاصوي ، په کور کي چي نوی شي پيدا سي دی حتما ګوتي په وهي ځان ته يې معلوموي ، که پلار ساعت ور رانيسي نو دی يې داغسي نه پريږدي خلاصوي يې لنډه داچي هر شي خرابوي داسي ماشوم ته دکور خلګ ټوله په کرکه ګوري او همغرضه ورته وايي ټول غړي شيان ځني ساتي حال داچي دماشوم دغه کار دده په توان نه دئ بلکي دده دغه کار دده پر ذهانت باندي دلالت کوي ځکه په هر ماشوم کي چي دتجسس ماده پياوړې وي که ښه وروزل سي نو په ټولنه کي ديوه مبتکر او نظرلرونکي کس په توګه وړاندي کېدلای سي . کوم ماشوم چي ارام وي هيڅ نه ښوري ، په هيڅ شي کار نه لري زموږ خلګ دغه ماشوم خوښوي حال داچي دغه ماشوم ناروغه دئ که نه نو دده دغه وخت ددې دئ چي دی تجسس وکړي ارام

نه کښيني. که دکورنۍ له خوا ماشوم په دغه ناوړه اوازونو او نومونو باندي نومول کيږي په ځانګړي ډول دنورو نابلده خلګو په مخ کي په دغه نومونو ياديږي ماشوم دډيري بدبختی احساس کوي ځکه انسان داروا پوهانو له نظره داوبو په څېر دئ لکه اوبه چي فطرتا په خپل منځ کي تداخل نه مني انسان هم هيڅکله فطرتا فشار نه سي زغملای تر څو چي په خپله خوښه يو کار ته اماده سوی نه وي نو په فشار باندي هيڅ کار نه کوي که فرضا فشار پر راسي نو دی بله چاره نه لري پرته له دې چي په وجود کي يې رواني ناروغي پيدا سي لکه اوبه چي سره کښېکاږي نو په هرڅومره کلک شي کي چي وي ماتوي يې. دکورنۍ دغه ماشوم چي دکور دغړو يعني مور ، پلار خوندو او داسي نورو له خوا په سپکه ورته کتل کيږي اودخلګو په مخ کي شرميږي چي ده ته په غله ، لوچک ، ښورانده او داسي نورو نومونو باندي وويل سي نو دمقابلې توان خو دی نه لري او نه دکورنۍ غړي دده په وينا ددې خبرو څخه منعه کيږي نو بله هيڅ لاره پاته نسي دده په جود کي يوډول نفس تنګي ، بدبختي ، ناارامي پيدا سي چي له امله يې په دغه ناروغي اخته سي چي ځان ټيټ ورته ښکاري کله چي په دې ناروغي باندي اخته سو بيا دی ددې توان نه لري چي چاته دي ورسي او دهغه څخه دي دکومک غوښتنه وکړي ځکه خو ده ته ځان ټيټ معلوميږي او په دې باور وي چي څوک زما خبره نه مني، نه چاته دمزدورۍ ويلای سي ، نه چاته ويلای سي چي درس راته ووايه په پايله کي ځانته دخلګو څخه دليري والي خوا خوښوي بالاخره غلاوو ، ناروااوو او هغه لارو ته مخه کړي چي دده زړه يو ډول نه يوډول ارام په کوي.

# علاج يې :

که دداسي ماشوم سره مخ سي چي په داسي ناروغي اخته وي ښکاره خبره ده چي دغه ماشوم درس نه سي زده کولای ځکه دی روحا ناارامه دئ کله چي يې درس زده نه کړی نو استاذ هم خپل مطلوب ته نه ورسېدئ ، ددغه ماشوم ژوند ژغورل داستاذ حق دئ پکار ده چي استاذ دداسي ماشوم درملنه وکړي البته درملنه يې داسي نه کيږي لکه جسمي ناروغي چي ديوډول درملو په خوړلو سره يې درملنه کيږي بلکي ددې ماشوم ددرملني لپاره به استاذ لومړی دماشوم اولياء راغواړي ددغه ماشوم ناروغي به ورته بيانوي بيا به ورته وايي چي ستاسو دکورنۍ دغه غړی ستاسو په نه پاملرنه او ستاسو په روحي تعذيب ناروغه سوی دئ نو اکيداً بايد تاسو دغه ماشوم نور ونه زوروی په کومو نومونو چي يې تاسو يادوی او يايې دپرديو خلګو په مخ کي توهينوئ لاس ځني واخلی بلکي دغه ماشوم ته وښياست چي ته په کورنۍ او ټولنه کي مقام لري ، مور او پلار ته محترم يې ، قريبانو ته محترم يې او داسي نور بلکي استاذ به دشاګرد اولياؤ ته توصيه وکړي چي په هره طريقه باندي دده زړه ارام کوي بايد تاسو هغسي ورسره وکړی تردې وروسته به استاذ دخپل شاګرد علاج په عقلي او اسلامي طريقو سره وکړي هغه داچي لومړی به ده ته وښيي چي په ټولنه کي کوم مشران ، دعزت څښتنان ، واکمنان ، علماء او داسي ددرنښت وړ خلګ راغلي هغه ټوله تاغوندي ماشومان وه ستا او ددوی

هیڅ توپیر نسته ته هم کېدلای سي چي یو وخت عالم سي ، واکمن سي او یا دکومي بلي لویي رتبې څښتن سي نو ته به تل جرئت کوي هیڅکله به ځان ته په ټیټه سترګه نه ګوري بلکي ته خپل ځانته ټاکلی مقام لري ستا نور ټولګی وال هیڅ درنښت پرتا نه لري. ددې ترڅنګ به استاذ په اسلامي طریقو سره هم دده درملنه وکړي کوم عزت چي الله جَلَّ جَلَالُهُ وبشریت ته ورکړی دئ هغه به ورته ابلاغ کړي کوم ایاتونه ، حدیثونه او دعلماؤ ویناوي چي دبشریت دبهتر والي لپاره راغلي دي هغه به ورته ابلاغ کړي څو شاګرد په دې وپوهیږي چي زه هم یو څوک یم هسي ماته ځان ټیټ ښکاره سوی دئ لنډه داچي استاذ به داسي کړنه په تکراري ډول ترسره کړي او دا کار یوازي داستاذ مسؤلیت نه دئ بلکي دشاګرد کورنۍ هم دده په درملنه کي رغنده رول لري.

# پر اولادونو باندي زیات ټپر بدل

دوهم : کله داسي وي چي مور او پلار پر خپل اولاد باندي ډېر ټپریږي یوازي یې نه پریږدي کله چي یې محضي دسترګو نهام سي دستي یې پلټنه کوي ، دنورو نابلده خلګو سره یې نه پریږدي دا کار زیات وخت په هغه مور او پلار کي رامنځته کیږي چي زیات وخت یې اولادونه نه وي سوي کله چي یو اولاد پیدا کړي نو په دغه پیمانه پر ټپریږي او یا نارینه اولاد نه لري کله چي یې پیدا کړي نو بیخي ډېر ورته متوجه وي ، تل زامنو ته هیڅ اجازه نه ورکوي چي یو ځای ولاړ سي ، تل داحتیاط وصیتونه ورته کوي، ژر ، ژر یې پوښتنه کوي ، ځیني میندي او پلرونه

خو لا داسي وي چي دکلي دټولو خلګو سره يې داولادو پر سر جنګ کړی وي او تل داخبره کوي چي زما دسپين ږيري ، يا دسپين سر زوی او يا وايي چي زما داغه يو يادوه زامن دي نو ځکه ډېر پر ټپريږم هسي نه چي يو څه ورته پېښه سي. دمور او پلار دغه کار دماشوم سره مينه نه بلکي دښمني ده ځکه که ماشوم په دغه ډول عادت سي او بيا دمور او پلار څخه بيل سي دستي دبدبختۍ احساس کوي دخپل ځان لپاره بله هيڅ دفاع نه وي نو په پايله کي ځان ټيټ ورته معلوميږي که ماشوم داسي سوی وي نو استاذ بايد لومړی مور او پلار دتقدير په مسئله پوه کړي ځکه هرڅه چي دالله جَلَّ جَلَالُهُ په تقدير کي ليکلي وي هغسي کيږي نه دمور او پلار په داسي ټپرېدلو سره ماشوم راګرځي او نه په بله طريقه سره راګرځي چي الله جَلَّ جَلَالُهُ ونه غواړي .کله چي يې مور او پلار دخپل زوی دزيات ټپرېدلو څخه لاس واخيستی ماشوم يې يوازيتوب ته پرېښودئ او بيا يې ددلاورۍ پيغام ورکاوه ، دهمت څاکونه يې وروچتول شاګرد په ډېر لنډ وخت کي خپله ناروغي غورځوي او ديوه فعاله اوويښ شاګرد په صفت په ټولګۍ کي ځان وړاندي کوي.

# داولادونو ترمنځ توپير کول داولاد درواني ناروغۍ لامل دئ

درېيم: هغه وخت هم ماشوم ته ځان ټيټ معلوميږي چي پلار

داولادونو ترمنځ توپیر کوي ځینو ته امتیازات ورکوي او ځینو ته یې نه ورکوي په دې صورت کې ماشوم فکر کوي چې زه په رتبه کې ټیټ یم که نه پلار به زما څخه پام نه اړولای کله چې دماشوم سره دافکر پیدا سو سمدلاسه په رواني ناروغي اخته کیږي او دزده کړي څخه بې برخي کیږي حال داچې داولادونو ترمنځ مساوات کول یو حتمي کار دئ ځکه دبخاري شریف په یوه حدیث کې راځي:

2397 – حَدَّثَنَا عَبْدُ اللَّهِ بْنُ يُوسُفَ أَخْبَرَنَا مَالِكٌ عَنْ ابْنِ شِهَابٍ عَنْ حُمَيْدِ بْنِ عَبْدِ الرَّحْمَنِ وَمُحَمَّدِ بْنِ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ أَنَّهُمَا حَدَّثَاهُ عَنْ النُّعْمَانِ بْنِ بَشِيرٍ أَنَّ أَبَاهُ أَتَى بِهِ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ إِنِّي نَحَلْتُ ابْنِي هَذَا غُلَامًا فَقَالَ أَكُلَّ وَلَدِكَ نَحَلْتَ مِثْلَهُ قَالَ لَا قَالَ فَارْجِعْهُ(2)

نعمان بن بشر ﵁ فرمایي چې زه خپل پلار رسول الله ﷺ ته راوستلم او رسول الله ﷺ ته یې وویل : چې ما خپل دغه زوی ته غلام ورکړی . رسول الله ﷺ ورته وفرمایل : ټولو زامنو ته دي ورکړل. زما پلار ورته وویل : یا ، یوازي مي دغه زوی ته ورکړی. رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: بېرته یې څني واخله. درسول الله ﷺ ددې وینا څخه مطلب دادئ چې دنعمان بن بشیر ﵁ پلار ته یې دا پیغام ورکاوه چې دخپلو اولادونو ترمنځ مساوات وکړه.ځکه په بل ځای کې رسول الله ﷺ فرمایي: وَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اعْدِلُوا بَيْنَ أَوْلَادِكُمْ فِي الْعَطِيَّةِ...............(3)

ژباړه : تاسو واولادونو ته په ورکړه کې عدل وکړی .

---

[2]: بخاري ج : ۹ص : ۳۸ط : المکتبة الشاملة

[3]: بخاري ج : ۹ص : ۳۷ط : المکتبة الشاملة

همدا ډول که ماشوم په بدني ناروغي ، يتيم توب، مسکنت اخته وي او له امله يې په رواني ناروغي اخته سوي وي نو استاذ به يې په پورته ډول علاجونه کوي اويا ماشوم دوطن بېلوالی، يا دژبي او توکم بېلوالی په روهي لحاظ زورولی وي نو استاذ به خپل شاګرد دبشريت په قدرداني پوه کړي او دا به دده په ذهن په عقلي او نقلي دلائلو ومني چي عزت او برتري په سيمه ، توکم او ژبي سره نه ده بلکي په تقوا سره ده او تقوا هرڅوک کولای سي.

په لومړی سر کي موږ ويلي وه چي استاذ مسؤليت لري چي په شاګردانو خبري وکړي ځکه خبري کول دلسان دوهم مهارت دئ اوژبه دپوهولو او راپوهولو ستره وسيله ده .په پيل کي موږ وويل چي دشاګردانو دخبرو نه کولو په صورت کي به يوه دپنځو ستونزو څخه پرته وي چي لومړی ، او دوهمه مو وښودل او دحل لپاره مو ځيني اړيني خبري وکړي اوس راځو دريمي ،څلورمي او پنځمي ته چي په خپل وار سره به يې يو په بل پسي تربحث لاندي ونيسو:

# څوک چي دخبرو کولو جرئت نه لري څنګه يې بې جرئتي له منځه ځي؟

وړاندي موږ وويل: كله چي استاذ وخپلو زده كونكو ته درس وايي نو ده ته اړينه چي دڅبي ددوهم مهارت يعني خبرو كولو څخه كار واخلي خپله خبري وكړي يعني په شاګردانو اوربدل وكړي چي دڅبي لومړى مهارت وو او په شاګردانو خبري وكړي چي دڅبي دوهم مهارت دئ له بده مرغه په ډېرو مدرسو او مكاتبو كي داسي وي چي يو شاګرد دخبرو كولو هيڅ جرئت نه سي كولاى څرګنده خبره ده چي انسان دماشتوب پر مهاله دصحيحي رواني روزني څخه برخمن سوى نه وي پورتنۍ او دې ته ورته نوري ستونزي ورته پيښيږي په كار داده چي هر مور او پلار خپل زوى دپيل څخه يعني دهغه وخت څخه چي ماشوم ديو شي درک كوي په جرئت ، شجاعت ، دكمال په احساس ، ښه سلوک ، دنورو په خيرښيګڼي خوشالېدلو ، دغصې په وخت كي پرځان دكنټرول او ټولو رواني او اخلاقي فضايلو وروزل سي ، همدا روزل دي چي يو ماشوم دتكامل او دانسانيت دتوازن تر بريده رسوي او كله چي دمسؤليت تر مهاله ورسېدى نو خپل مسؤليتونه په پوره او كامله توګه ترسره كړي او بيا په ټولنه كي مخ كښن ، هوښيار ، نظرلرونكى او عالم كس جوړ سي.

ماشوم دپيدايښت له مهاله دمسلمان روزونكي په لاس كي ديوه امانت په ډول دئ مسلمان روزونكى ، پلار وي ، مور وي ، استاذ ، اكا او هرڅوک چي وي اسلام لارښوونه ورته كوي څو ددغه ماشوم پوره او صحيح رواني روزنه وكړي او كله چي دماشوم سترګي خلاصي سي نو روزونكى يې بايد ددغه ماشوم درواني صحت ټول اصول په نظر كي ونيسي څو دماشوم څخه پوه ، تكړه ، سالم فكر لرونكى ، متوازن صحت لرونكى او دلوړي

ارادې لرونکی کس جوړ سي. دا هم ښکاره خبره ده چي که روزنکی دماشوم صحیح روزنه وکړي نو کولای سي چي دماشوم څخه ټولي هغه نیمګړتیاوي لري کړي چي دماشوم تکامل ، جرئت ، حیثیت ، اعتبار او شخصیت ته تاوان رسوي. داچي یو څوک دخبرو کولو جرئت نه لري یا شاګرد په خپله ټولګۍ کي دنورو ټولګیوالو یا استاذ په مخ کي څه ویلای نسي نو حتما به دلاندي لاملونو څخه یو لامل موجود وي که هغه له منځه ولاړ سي نو شاګرد به دخبرو کولو جرئت پیدا کړي بیا به کولای سي چي دټولګیوالو ، استاذ ، پر دریځ او دهر چا په مخ کي خبري وکړي.

## دسام پر ړوتلو یا کم جرئتۍ لاملونه

کله چي دماشوم صحیح روزنه نه وي سوې نو ماشوم یا په داسي رواني ناروغي اخته وي چي ځان کم ورته معلومیږي چي پورته مو خبري پرې وکړي او یا داچي دماشوم دشرم پدیده تر نورمال حالت زیاته وي او یاداچي دویري پدیده یې تر نورمال حالت زیاته وي چي تفصیل یې په لاندي ډول دئ:

## دشرم پدیده

ښکاره خبره ده چې دشرم پدیده دانسان پیدایښت څخه وروسته په طبعي ډول په انسان کې پیدا کیږي کله چې ماشوم پیدا سي په څلور میاشتنۍ کې په ماشوم کې دشرم نښې ښکاره کیږي کله چې ماشوم یو کلنۍ ته ورسېدی نو دغه پدیده په څرګند ډول په ماشوم کې ښکاره کیږي پر دغه مهال نو چې کله ماشوم دنابلده چا سره مخ سي مخ بل لوري ته ګرځوي ، سترګې پټوي او لاسونه پر مخ ږدي کله چې ماشوم درې کلنۍ ته ورسیږي دماشوم دغه پدیده پیاوړې کیږي همدا وجه ده چې په دغه عمر کې ماشوم نابلده کور ته ولاړ سي نو دمور په غیږ کې چوپ کښیني ، غالمغال ، ښورېدل او خبري کول دشرم له امله نه کوي. البته دشرم دپدیدې په زیاتوالي کې وراثت هم رول لري یعني کله داسي وي چې په ماشوم کې په مورثي ډول سره دشرم پدیده پیاوړي وي خو زیات وخت دماشوم چاپېریال دماشوم دشرم دپدیدې په زیاتوالي کې زیات رول لري یعني که ماشوم دنابلده خلګو او کوچنیانو سره په ورځني ژوند کې زیات ګډون کوي دشرم پدیده یې کمه وي او که کم ګډون کوي نو دشرم پدیده یې زیاته وي . که چیري دماشوم دشرم پدیده زیاته پاته سي نو دژوند تر پایه ماشوم دیو لړ ستونزو سره مخ وي یوه ستونزه یې داده چې په ټولګۍ کې خبري نه سي کولای استاذ نه سي کولای چې دبسني په پیمانه په دغه شاګرد زده کړي وکړي ځکه ده دژبې دوهم اساسي مهارت دلاسه ورکړی دئ داچې دشاګرد دشرم پدیده څنګه راټیټېدلای سي نو علاج یې په لاندي ډول دئ:

www.Hammadia.com

# دشرم دپديدې علاج

که دماشوم دشرم پديده تر نورمال حالت زيات وي نو ددې پديدې په راکمولو کي لومړی دشاګرد اولياء يعني مور ، پلار او نور نژدې قريبان زيات رول لري دساري په ډول که پلار دخپل زوی سره لاندنۍ رويې غوره کړي دماشوم دشرم پديده را کمېدلای سي:

1. داچي پلار خپل اولادونه اړ کړي چي دنورو ماشومانو او خلګو سره ګډون وکړي که څه هم پر ماشوم به لومړی يوه اندازه فشار راسي خو دلږ وخت په تېرېدو سره دغه ستونزه حلېدای سي

2. داچي پلار خپل ماشوم دنورو قريبانو سره په ملګرتوب کي يوازي پرېږدي البته دغه يوازي پرېښودل به لومړی لږه مده وي په کراره ، کراره به مده ورزياتوي څکه که لومړی ډېره مده يوازي پاته سي ښايي په نورو رواني ناروغيو اخته سي.همدا ډول که پلار دقريبانو پوښتني ته ځي ماشوم دځان سره ملګری کړي او دقريبانو يا نورو خلګو کور ته يې بوزي.

3. داچي پلار دخپل زوی سره داسي رويه غوره کړي لکه يو انډيوال چي دبل انډيوال سره ژوند کوي پلار هم دخپل زوی سره په دغه ډول په ازادانه ډول ژوند کول اختيار کړي.

4. داچي پلار دخپل زوی څخه دنورو مشرانو په مخ کي دخبرو کولو غوښتنه وکړي يعني داچي دمشرانو په مخ کي پلار دخپل زوی څخه ځيني پوښتني کوي او بيا دزوی څخه دهغه پوښتنو

جوابونه غواړي که دا پروسه تکراري سي نو دماشوم دشرم پدیده به کمه سي.

داچي داسلام دین تر ټولو دینونو پوره او کامل دین دئ ټول هغه څه پکښي سته چي نن دنیاوالو دتجربې په مټ کشف کړی دي خو داسلام دین ډېر پخوا لا دهغه ستونزو حل ښودلی دئ چي په ځینو ځایو کي اوس هم خلک ورسره لاس او ګرېوان دي له همدې امله ځیني حدیثونه رانقلوو چي زموږ مطالب پرې ثابتیږي او کومي لاري چاري دشاګردانو دجرئت دپیدا کولو لپاره دي هغه په ټینګیږي او کوم چي سالم فکر ولري ستر پیغام ځني پورته کولای سي:

بخاري شریف دعبدالله بن عمر ﷜ یو روایت رانقل کړی دئ چي دده مبارک دماشومتوب دمهال دئ. عبدالله بن عمر ﷜ روایت کوي چي یو وخت زه ماشوم وم رسول الله ﷺ داصحابانو څخه وپوښتل: هغه کومه درخته ده چي په ژمي کي پاڼي نه رژوي؟ زما په ذهن کي راغلل چي دا درخته دخرما درخته ده خو داچي زه ماشوم وم شرمېدلم نو ځکه مي بږغ ونه کړی. درسول الله ﷺ ددې پوښتني په جواب کي دنورو اصحابانو په ذهنو کي دا ورګرځېدل چي کېدای سي دابه دصحرا یوه درخته وي صحیح جواب یې ورته معلوم نه وو نو ځکه یې درسول الله ﷺ څخه وپوښتل چي اې دالله ﷻ رسوله! ته یې راوښیه چي دا کومه درخته ده؟ رسول الله ﷺ په جواب کي ورته وویل دا دخرما درخته ده. په یوه بل روایت کي راځي چي عبدالله بن عمر ﷜ فرمایي: درسول الله ﷺ دپوښتني په جواب کي زما په زړه کي راګرځېدل چي دخرما درخته ده خو داچي زه په ټولو کي

www.Hammadia.com

ماشوم وم نو دشرم له وجهي مي ږغ ونه کړی . په یوه بل روایت کي راځي عبدالله بن عمر رضي الله عنه فرمایي: کله چي رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه نو زما په ذهن کي يې جواب وو مګر داچي ابوبکر رضي الله عنه او عمر رضي الله عنه چوپ ناست وه نو ما هم مناسبه ونګڼل چي څه نه ووایم. کله چي دمجلس څخه راولاړ سو نو ما خپل پلار ته وویل چي درسول الله ﷺ دپوښتني جواب زما سره وو مګر ما دشرم له وجهي نه ووایه، پلار راته وویل : که تاویلي وای نو تاته تر سرو اوښانو ښه تماميدل.

که په پورتني حدیث کي لږ فکر وسي نو حتما ځني معلوميږي چي عبدالله بن عمر رضي الله عنه ماشوم وو دشرم پدیده ورسره وه بیا چي کله يې پلار ته څرګنده کړه چي زما سره دشرم پدیده وه نو ځکه مي جواب نه ورته ووایه پلار دستي وهڅوی چي کاشکي دي ویلي وای ځکه دا کار تاته ترسرو اوښانو غوره دئ . ددوی مبارکانو په زمانه کي تر ټولو غوره اوښه مال اوښان وه نو ځکه عمر رضي الله عنه خپل زوی ته وایي چي که تا په دغه مجلس کي خبري کړي وای خپل جواب دي ویلی وای نو ستا جرئت به زیات سوی وای دشرم پدیده به دي کمه سوې وای. که ته ددې ځانګړتیا څخه برخمن سوی وای نو تاته تر هر ډول مال دا شي غوره وو.عمر رضي الله عنه يو ښه استاذ وو ځکه دده دپوهي ، مېړاني او ذکاوت نوم يې تر پېړیو ، پېړیو پوري پاته دئ نو که څوک دځان څخه ښه استاذ جوړول غواړي نو دعمر رضي الله عنه تقليد دي وکړي چي هغه دخپل ماشوم اولاد تربیه څنګه کول ، زده کړه يې څنګه ورکول؟

مسلم شریف دسهل بن سعد الساعدي رضي الله عنه څخه روایت کوي چې یوه ورځ رسول الله ﷺ اوبه راوړې په داسي حال کې یې دڅیښلو اراده وکړه چې په مجلس کي کښېناستی راسته طرفته یې ماشوم ناست وو او چپه طرفته یې نور مشران ناست وه رسول الله ﷺ دماشوم څخه پوښتنه وکړه او ورته وې ویل : ته اجازه راکوې چې زه دغه اوبه نورو کسانو ته ورکړم؟ ماشوم ورته وویل : په الله جل جلاله قسم کوم چې په اوبو څیښلو کي هیڅوک تر تا ډېر حقداره نه دئ.

تاسو وګورئ رسول الله ﷺ دماشوم څخه داجازې غوښتنه کوي دا په دې معنا نه ده چې دماشوم رتبه تر رسول الله ﷺ لوړه وه او رسول الله ﷺ اړ وو چې دماشوم څخه اجازه وغواړي بلکي درسول الله ﷺ مطلب داوو چې ماشوم ښه وروزي ، او همدا ډول خپلو امتیانو ته پیغام ورکړي چې تاسو به دکشرانو تربیه په داسي ډول کوئ چې هغه جرئت والا سي او دخبرو کولو توانایي پیدا کړي ، دشرم پدیده یې له منځه ولاړه سي. بدبختانه زموږ په ځینو ځایو کي داسي رواج سته چې ماشوم ته هیڅ اجازه نه ورکوي چې دمشرانو په مجلس کي خبري وکړي او که ماشوم دمشرانو په مخ کي خبري کوي هغه بې ادبه بولي حال داچې دماشوم سره جفا ده او درسول الله ﷺ دروزني څخه بېله او مخالفه روزنه ده په کار داده چې ماشوم خبري نه کوي نور خلګ یې وهڅوي چې خبري وکړي څو جرئتمن سي او ددرس په وخت کي په جرئت سره داستاذ سره خبري وکړي او استاذ په دې وتوانیږي څو په ماشوم خبري وکړي دڅښې ددوهم مهارت څخه چې خبري کول دي ګټه ځني واخلي.

په يوه بل روايت کي راځي چي عبدالله بن عباسؓ يې کوي دی مبارک وايي : زه ماشوم وم چي عمرؓ به ماته دخپل خلافت په دور کي دمشرانو په مشوره کي بلنه راکول. دځينو مشرانو په زړونو کي داسي ورګرځېدل چي دا ماشوم دمشرانو مشورې ته راځي يعني داچي دا مناسبه نه ده موږ هم کوچني اولادونه لرو. عمرؓ دوی ته وويل : تاسو پوهيږئ چي زه دا ماشوم دڅه لپاره راغواړم؟!! دعمرؓ هدف داوو چي ددې ماشوم سالمه تربيه وکړي او سالمه زدکړه ورکړي . همدا برکت دئ چي الله جل جلاله دعبدالله بن عباسؓ څخه داسي عالم جوړ کړی چي داسلامي تاريخ په اوږدو کي په لومړيو او سترو علماؤ کي راځي.

که يو استاذ يا دشاګرد پلار دماشوم کامله روزنه او دماشوم کامله زده کړه غواړي نو دهمدغه ميتود څخه دي کار واخلي کوم چي عمرؓ په کار اچولی وو.

په يوه بل روايت کي راځي چي عبدالله بن عباسؓ کړی دئ ، دی مبارک فرمايي: يوه ورځ عمرؓ مشران راوغوښتل زه يې هم را وغوښتلم زه په دغه وخت کي ماشوم وم خو زه پوهېدم چي دڅه لپاره مي غواړي . عمرؓ دنورو مشرانو څخه پوښتنه وکړه چي تاسو ددې ايت په اړه څه واياست چي الله جل جلاله فرمايي: إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ ......... ؟ ځيني مشرانو ورته وويل : ددې ايت مطلب دادئ چي الله جل جلاله موږ ته فرمايي چي کله دمکې فتح راسي نو تاسو دالله جل جلاله حمد بيان کړی او دالله جل جلاله څخه دمغفرت غوښتنه وکړی. ددوی تر جواب وروسته عمرؓ زما څخه پوښتنه وکړه او راته وې ويل : عبدالله ! ته همداسي وايي؟ ما ورته وويل :

www.Hammadia.com

یا ، عمر رضي الله عنه راته وویل : نو ته څنګه وایې؟ ماورته وویل : دالله جل جلاله دا کلام چې فرمایې: إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ .. موږ ته درسول الله صلی الله علیه وسلم اجل راوښودی او داچې وې وفرمایل : فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا په دې کلام سره یې ستا اجل راوښودی.

داچې موضوع ډېره اوږده نسي په لنډ ډول ویلای سو چې دماشومانو دشرم دپدېدې دراکمولو لپاره ټولي هغه کړني په کار ولویږي کومي چې مو پورته بیان کړې نو استاذ به حتما ددې ستونزي څخه خلاص سوی وي چې شاګردان یې دشرم دپدیدې له امله خبري نسي کولای.

مخکي مو وویل چې کله ماشوم خبرې له دې امله نسي کولای چې وېره یې په زړه کي ورګرځي چې هسي نه چې زه خبري وکړم زما خبري غلطي وي داستاذ له خوا تهدید سم یا دنورو ټولګیوالو له خوا په خندلو یا کم ګڼلو تهدید سم نو ددغه ویري له امله خبري نه سي کولای لومړی به دویري پر پدیدې باندي یو څه خبري وکړو:

# دویري پدیده.

دویري پدیده په ټولو انسانانو کي وي لویان ، کوچنیان ، نارینه او ښځي ټول ددې پدیدې لرونکي وي او دا پدیده په ماشوم کي په طبعي ډول وي او دا پدیده تر ډیره بریده خوندوره او ګټه لرونکې ده ځکه څښتن تعالي جل جلاله دانسانانو دحفاظت لپاره دې ته ورته ځیني شیان په طبعي ډول په انسانانو کي ایښي وي چې دانسانانو ساتنه پرې کیږي لکه دغه دویري پدیده چې ډېر وخت انسان ددغه پدیدې په مټ دځینو خطرونو څخه

ځان ژغوري. اروا پوهان وايي چي په ماشوم کي په طبعي ډول په شپږ میاشتنۍ کي دويري دپديدې نښې ښکاره کيږي او تر درې کلنۍ پوري بشپړيږي . داچي دغه پديده تر يوه بريده دانسان لپاره غوره پديده ده خو په دې شرط چي په نورمال حالت کي وي او که دغه پديده تر نورمال حالت زياته سي نو زيات وخت دانسان درواني ناروغۍ لامل ګرځي چي دانسان جرئت له منځه وړي اويوه ستونزه يې داده چي په ټولګۍ کي دخبرو کولو جرئت نه لري او دې ته ورته دنورو ستونز سره هم لاس اوګريوال کيږي نو لومړی هر مور او پلار دنده لري چي ددغه پديدې دنورمال ساتلو لپاره فکر وکړي او هغه لاملونه په نښې کړي کوم چي دويري پديده زياتوي چي دلاندي لاملونو څخه عبارت دي:

# دويري دپديدې لاملونه

1. کله داسي وي چي مور خپل ماشوم دنااشنا مخلوقاتو او تيارو څخه ووېروي لکه چي دځينو حيوانانو نومونه ورته اخلي دماشوم په زړه کي دهغو شيانو ويره پاته سي او تل يې وېره تر نورمال حالت زياته وي.
2. کله داسي وي چي دماشوم مور تل په پرېشانيو او زياتو فکرونو وهلو کي بوخته وي ماشوم دمور دغه کيفيت زوروي بالاخره ويره يې په زړه کي ټينګ ځای ونيسي.

www.Haqmedia.com

3. کله داسي وي چي دماشوم انطوايي روزنه وسي يعني ماشوم په داسي ځاى کي وروزل سي چي هلته بيخي هيڅوک نه وي يا بل عبارت ماشوم يوازي په څلورو دېوالو کي لوى سي.

4. کله داسي وي چي دمور له خوا ماشوم ته زياتي خيالي کيسې او نکلونه وسي لکه دديبانو قصې ، دپيرانانو قصې او داسي نوري چي له امله يې دماشوم په زړه کي تل پاتي وېره پيدا سي

که فرضا يو شاګرد په دغه ويرجن حالت اخته سوى وي نو استاذ ته په کار ده چي ددغه ماشوم علاج وکړي چي علاج يې په لاندي ډول کېدلاى سي.

# دزياتي ويري علاج

دويري دعلاج لپاره يو لړ علاجونه سته چي ځيني تجربه سوي علاجونه يې په لاندي ډول دي :

لومړى : استاذ به داسي شاګرد دتقدير موضوع ابلاغ کړي او په دې به يې پوه کړي چي که تاته يو مشکل په تقدير کي نه وي ليکل سوى که ته وبيرېږي او که ونه بيرېږي تاته هغه مشکل نه پيښېږي الله جل جلاله دې خبري ته اشاره کړې ده چي انسان په خپل ځان کي هيڅ کلکتوب ، بهادري او قوت نه لري بلکي طبعا کمزورى دئ لکه چي الله جل جلاله فرمايي :

www.Hammadia.com

إِنَّ ٱلۡإِنسَـٰنَ خُلِقَ هَلُوعًا ﴿١٩﴾ إِذَا مَسَّهُ ٱلشَّرُّ جَزُوعًا ﴿٢٠﴾ وَإِذَا مَسَّهُ ٱلۡخَيۡرُ مَنُوعًا ﴿٢١﴾ إِلَّا ٱلۡمُصَلِّينَ ﴿٢٢﴾ ٱلَّذِينَ هُمۡ عَلَىٰ صَلَاتِهِمۡ دَآئِمُونَ ﴿٢٣﴾ ([4])

ژباړه : بېشکه انسان بې صبره پيدا کړل سوی دئ کله چي شر (تکليف) ورورسيږي فرياد کوي او کله چي نيکي ورورسيږي منعه کونکی وي مګر داسي نه دي هغه کسان چي لمونځ کونکی وي هغه کسان چي تل لمونځونه کوي او هيڅ يې نه قضا کوي.

استاذ به شاګرد ته په تفصيل سره دا خبره وځيري چي ته خو دالله جل جلاله بنده يې پر الله جل جلاله باندي ايمان لرې او په دې باور يې چي الله جل جلاله پر هر شي باندي قادر دئ. الله جل جلاله هغه څوک بهادر بللی دئ چي لمونځ ګذاره وي نو ته خو لمونځ ګذاره يې بايد دبهادرۍ چم وکړې بې زړه نه واوسې.

دوهم : شاګرد ته به دخپل عمر په اندازه مسؤليت ورکول کيږي څو دی ځان ازاد او خپلواک محسوس کړي او دی وکولای سي چي په ځينو چارو کي په ازادانه ډول سره تصرف وکړي په داسي کړنو سره چي شاګرد ځان خودمختار ، ازاد ، تصرف کونکی ووينې په تدريجي ډول يې وېره کميږي.

خپلو شاګردانو ته دزړورتوب ، بهادرۍ او شجاعت احساس ورکول په دې اړه داصحابانو ، تابعينو او نورو سلفو صالحينو دژوندانه حال شاګردانو ته بيان کړل سي. سعد بن معاذ رضي الله عنه فرمايي : موږ به خپلو ماشومانو ته درسول الله صلى الله عليه وسلم دغزاګانو زده کړه داسي ورکول سورة بقرة چي وريادوو

[4]: سورة معارج الايات ١٩الي ٢٣

دمثال پـه ډول خپلـو شـاګردانو تـه دماشـومو اصـحابانو لانـدي دشـجاعت او زړورتوب قصه وسي چي ويل سوي دي: دنبـي ﷺ مبـارک عـادت داوو چـي کله بـه لښـکر دمـدينې څخـه وواتـی نودسـتي بـه يـې لښـکر معاينـه کـاوه د لښکر حال به يې ځـان تـه معلومـاوه او اړتيـا وي بـه يـې ځانتـه معلومـولې د لښکر اصلاح به يې کول کم عمره هلکان يې بېرتـه استول زيات هلکـوان بـه پـه خپـل شـوق سـره د غـزا لپاره ووتـل نبـي ﷺ چـي کلـه د احـد غـزا تـه تشـريف وړی نـو د معـاينې لپـاره يـې يـو ځـای لښـکر ودراوه او کـم عمـره هلکان يې د کوچني والي په وجه بېرته استول چي پدغـه هلکـانو کښـي دغـه لاندي مبارکان وه. عبد الله بن عمر ، زيـد بـن ثابـت، اسامه بـن زيـد، زيـد بن ارقم ، براء بن عازب ، عمرو بن حزم ، اسيد بن ظهير ، عرابـه بـن اوس ، ابوسعيد خدري، سمرة بن جندب او رافع بن خـديع رضي الله عنهم ددوی عمرونـه نـژدې (۱۳) او (۱۴) کلونـه وه کلـه چـي دوی تـه د بېرتـه تللـو امـر وسـو نـو حضرت خـديج رضي الله عنه و نبـي ﷺ تـه د خپـل زوی سپارښـت وکـړی او ورتـه وې ويل چي اې د الله ﷻ رسوله ! زما دزوی غشي ويشتل ډېر ښه زده دي رافـع چي د پلار دا خبره واورېدل داجازې په شـوق جګ جګ سـو چـي قـدم يـې اوږد معلوم سي نبي ﷺ اجازه ورکړه. سـمرة بـن جنـدب رضي الله عنه خپـل پلنـدر مـره بـن سـنان تـه وويـل چـي نبـي ﷺ رافـع تـه اجـازه ورکـړه او و ماتـه يـې اجـازه رانکړه حـال داچـي زه پـر رافـع بانـدي غښـتلي يـم کـه چيـري زمـا او د هغـه مقابلـه وسـي نـو زه بـه هغـه راڅپـه کـړم نبـيﷺ ددوی دواړو مقابلـه وکـړه ريښتيا هم سمرة رافع راڅپه کړی پـدې وجـه نبـي ﷺ سـمرة تـه هـم اجـازه ورکـړه ددې څخه وروسته نورو کوچنيانو هم د اجازې هڅي وکړي په هغـو

کښې هم ځينو ته اجازې ورکړل سوې پدغه بهير کښې شپه سول نبي ﷺ د ټول لښکر د حفاظت انتظام وکړل سو او پنځوس کسه يې د ټول لښکر د حفاظت لپاره مقرر کړل بيا يې وفرمايل: څوک به زمونږ حفاظت وکړي؟ يو ملګری ولاړ سو او وې ويل چي يا رسول الله ! زه و دې کار ته تيار يم نبي ﷺ ورته وويل چي ستانوم څه شي دی؟ ده مبارک وويل ذکوان دئ نبي ﷺ وفرمايل: ښه دئ ته کښېنه بيا يې و فرمايل : څوک به زمونږ حفاظت وکړي؟ يو ملګری ولاړ سو وې ويل : يا رسول الله ﷺ ! زه ودې کارته تيار يم نبي ﷺ د نامه پوښتنه ځني وکړه ده ورته وويل چي زما نوم ابو سبغ دئ نبي ﷺ ورته وفرمايل چي ښه دئ ته کښېنه نبي ﷺ دريم ځلي بيا پوښتنه وکړه چي زمونږ حفاظت به څوک کوي؟ بيا يو ملګری ولاړ سو چي يا رسول الله ﷺ ! زه ودې کارته تيار يم نبي ﷺ د نامه پوښتنه ځني وکړه ده ورته وويل چي زما نوم ابن عبد القيس دئ نبي ﷺ ورته وفرمايل چي ښه دئ ته کښينه لږ وخت وروسته نبي ﷺ و فرمايل هغه درې سره کسان دي راسي يو ملګری د نبي ﷺ حضور ته راغلی نبي ﷺ ورته وفرمايل چي ستا هغه نور دوه ملګري څه سول ده ورته وويل : اې دالله ﷻ رسوله! درې سره واره زه ولاړ سوی وم نبي ﷺ دعا ورته وکړه او د حفاظت امر يې ورته وکړی ده هم ټوله شپه د نبي ﷺ د خيمې حفاظت وکړی.(5)

# دچابکو خبرو علاج

---

(5) خميس

تـردې ځايـه پـوري دهغـه شـاګردانو دتکلـم داصـلاح پـه اړونـد خبـري وسوي چې دکم جرئتۍ له امله خبري نه سي کولای دا چې شاګرد داستاذ په وړاندي ، یا دټولګیوالو په وړاندي او یا دعامو خلګو پـه وړانـدي خبـري کولای سي خو خبري يې سمي نـه استفاده کیـږي ډيـري تيـزي او چـابکي وي استاذ به ددې شاګرد داصلاح لپاره ده تـه دخبـرو کولـو سـرعت پـه دې ډول وښيي چې یو به دغه شاګرد ولاړ کړي چې دخبـرو سـرعت يـې زيـات دئ او یو به هغه شاګرد ولاړ کړي چې دخبـرو سـرعت يـې نورمـال وي يـوه صـفحه ليکنـه بـه ور کـړي مـثلا بيـا بـه داسـي ريکـاډر ورتـه کښـيږدي چـې دثبت وخت معلوموي ددې ریکاډر په مټ به تېز سرعت لرونکي شـاګرد ته وښيي چې تـا یـوه صـفحه لیکنـه مـثلا پـه یـوه دقیقـه کـي وویـل او هغـه شاګرد چې دخبرو سرعت يې نورمال دئ هغه په دوې دقيقې کي وويل نـو تاتـه پـه کـارده چـې خپـل سـرعت راکـم کـړي دسـرعت راکمولـو لپـاره بـه شاګرد ته توصيه وکړي څو دخپلو خبـرو پـه جريـان کـي وقفونـه او سـکتې وکړي البته استاذ به دوقف او سکتې ځاي شـاګرد تـه ور وښـيي ، پاتـه دي نه وي چې شاګرد ته پر ځينو کلماتو باندي مد کـول هـم ګټـه لـري . داچـې دخبرو سرعت تېز ،نورمال او کرار کـوم دئ وروسـته دلوسـتلو پـه مهـارت کي پردې باندي خبري کوو.

# څوک چې پر یوه موضوع باندي تفصیل نه سي ور کولای علاج به یې څه وي؟

که استاذ دداسي شاګرد سره مخ سي چي خبري کولای سي مګر کله چي استاذ ديوې موضوع تفصيل وغواړي شاګرد هيڅ تفصيل نه سي ورکولای ددغه شاګرد ستونزه داده چي دنوموړي شاګرد ذهن انکشاف نه دئ کړی دذهن دانکشاف لپاره يې بايد استاذ کار وکړي هغه په دې ډول چي استاذ به يوه شاګرد ته هره ورځ يوه موضوع ورکوي بيا به نوموړي شاګرد ته يوه ورځ يادوې ورځي وخت ورکوي څو شاګرد پر دغه موضوع باندي تفصيلات پيدا کړي او بيا يې استاذ ته بيان کړي کله چي استاذ شاګرد ته دغه وظيفه ورکړه په شاګرد کي دپلټني ماده پياوړي کيږي دمور ،پلار او نورو خلګو څخه پوښتني کوي څو پر هغه موضوع باندي داسي توکي پيدا کړي چي دهغې موضوع تفصيل پکښې وي . استاذ که دخپل شاګرد سره په دغه ډول دڅو ځلو لپاره دا کار وکړي نو دشاګرد ذهن انکشاف کوي او بيا کولای سي چي پر هره موضوع باندي تر خپله وسه تفصيل ورکړي او که استاذ دشاګرد دذهن دانکشاف لپاره نور ميتودونه په کار واچوي هم کېدلای سي.

# دلوستلو مهارت

درنولوستونکو ! وړاندي مو دژبي لومړی او دوهم مهارت چي اورېدل او خبري کول وه وښودل په دې بحث کي دژبي دريم مهارت چي لوستل دي تر بحث لاندي نيسو:

دښووني او روزني دپوهانو له انده لوستل دزده کړي دلاسته راوړلو لپاره بنسټ ګڼل کيږي ځکه همدا لوستل دي چي يوه شاګرد ته دمطالعې لاره

خلاصوي او شاګرد دمطالعې له لاري خپلي زده کړي ته دوام ورکوي او دخپل علم عرصه پراخوي داچي یو شاګرد لوستل پیلوي داستاذ همکارۍ ته اړتیا لري . استاذ به خپل شاګردان تشویقوي څو مطالعه وکړي او دمطالعې له لاري په خپله زده کړه کي ترقي وکړي.

# دلوستلو ګټې

که استاذ شاګردانو ته درس وایي ، شاګردان دویل سوي درس پرته نور څه نه لولي نو دشاګرد پوهه به یوازي پر هغه زده کړه راچاپېره وي کومه چي استاذ ورته ښودلې ده حال داچي درسي ټول کتابونه مختصر وي تفصیل واره نه وي نو پر هره موضوع چي کوم تفصیل وي شاګرد به ځني بې برخي وي دمثال په توګه که یو استاذ خپلو شاګردانو ته دجغرافیې مضمون وایي نو په درسي کتاب کي به شاګرد دخپل هېواد په اړه معلومات تر لاسه کړي دمثال په ډول دافغانستان موقعیت به وپېژني ، ولایتونه ، مشهورسیندونه ، غرونه او داسي نور به وپېژني داچي یو شاګرد دکندهار اوسېدونکی دئ نو دکندهار تفصیل واره جغرافیایي موقعیت ددرسي کتابونو پرته په نورو کتابونو کي سته په درسي کتاب کي نسته که استاذ شاګرد ته دمطالعې یا دلوستلو لاره خلاصه نه کړي نو شاګرد به دخپل ولایت دمعلوماتو څخه بې برخي وي او که استاذ خپله هڅولی وي هغه کتاب یې شاګرد ته ورپیدا کړی وي چي ددې ولایت تفصیل واره جغرافیایي موقعیت پکښي بیان سوی بیا یې شاګرد تشویق کړی څو هغه

مطالعه کړي نو شاګرد به دخپل مضمون په اړه ډېر معلومات لري او په زده کړه کي به یو پیاوړی زده کونکی وي

# شاګرد څنګه دلوستلو یا مطالعې سره اشنا کېدلای سي؟

کله چي یو استاذ غواړي چي شاګرد دمطالعې سره اشناکړي نو پکارده چي دشاګرد ذهن ته په کرار او تکتیک سره انکشاف ورکړي دمثال په ډول استاذ به لومړی وشاګرد ته ځني انځورونه ښکاره کړي چي ددرس سره تړلي وي لکه چي یو استاذ خپلو شاګردانو ته لمونځ ورزده کوي دمکې مکرمې یادونه پکښي وسي استاذ لا دوړاندي شاګردانو ته دمکې مکرمې انځور پیدا کړی شاګردانو ته یې ښکاره کړي او ورتهووایي چي دا دمکې انځور دئ ایا تاسو دمکې مکرمې په اړه نور معلومات لرئ؟ شاګردان به طبعا بېلابیل جوابونه ووایي بیا استاذ بله ورځ یوه کوچنۍ لیکنه ورته راوړی ټولو ته به یې ورکړي او ورته وبه وایي چي په دې لیکنه کي دمکې مکرمې په اړه معلومات سته تاسو یې مطالعه کړئ په کوم ځای چي پوه نه سواست زما څخه پوښتنه وکړي کله چي شاګردانو هغه لیکنه مطالعه کړه حتما به دوی ته نوي لغاتونه په مخه ورغلي وي ځیني لیکنۍ نښي به مخي ته ورته راغلي وي دهغه په اړه به داستاذ څخه پوښتنه وکړي استاذ به معلومات ورکړي بیا به دې ته ورته یو بل انځور ورته راوړي بیا به دوی مطالعې ته وهڅوي ، کرار ، کرار به شاګردان دمطالعې او لوستلو پر

لوري بيايي تر هغه بريده چې شاګرد وکولای سي پوره مطالعه وکړي او په مربوطه مضمون کي ژور معلومات تر ګوتو کړي او يو پياوړی شاګرد به جوړ سي . ديوه ښه استاذ لپاره دا لاره ډېره مهمه ده چې شاګردان دلوستلو يا مطالعې کولو سره اشنا کړي ځکه دښووني او روزني پوهان دشلمي پېړۍ راپدې خوا په دې اند دي چې شاګرد که يوازي ددرس تکرار په لوړ اواز کوي لکه طوطي چې نارې کوي دا شاګرد ته هيڅ ګټه نه رسوي پکار ده چې په مفهوم باندي يې پوه سي که يې په مفهوم باندي پوه نسي شاګرد خالي لاس پاتيږي . په ډېرو مدرسو او مکاتبو کي شاګردان ليدل کيږ ي چې استاذ په شاګردانو په لوړ اواز تمرين کوي خو شاګردان يې په مفهوم نه پوهيږي دا کار پرته له دې چې دشاګردانو وخت ضائع کړي نوره هيڅ ګټه نه لري.

# دښه لوستونکي صفتونه او ځانګړتياوي

1. لوستونکی بايد په هغه الفاظو پوه وي کوم چې مطالعه کوي يعني داچې که يو لوستونکی ځيني شيان مطالعه کوي او په مفهوم يې نه پوهيږي هيڅ ګټه نه لري نو پکار ده چې لوستونکی لومړی په هغه لغاتونو او کلماتو ځان پوه کړي کوم چې په دغه ليکنه

کي سته څو وکولای سي چي هغه مطلوب ترګوتو کړي کوم چي په دې ليکنه کي سته.

2. لوستونکي ته پکار ده چي دليکني په نښو ځان پوه کړي لکه نقطې ، کامې ، مفسرې ، قوسونه ، خنجکونه او داسي نور ځکه ددغه نښو دلاري لوستونکی کولای سي چي جملې ، مفردات ، دمضامينو بېلتون او داسي نور سره بيل کړي.

3. لوستونکي ته په کار ده چي دليکني اړونده اړتياوي وپېژني لکه جمله ، مفرد ، پاراګرافونه ، دمطلب لنډيز ، نقشونه ، تصويرونه او داسي نور چي دتفکيک او تشريح په وخت کي کار ځني اخستل کيږي.

4. لوستونکي ته په کار ده چي دکتاب په مختلفو برخو باندي ځان پوه کړي لکه فهرست، فصلونه ، بابونه ، عنوانونه ، جدولونه او داسي نور . ددې لاري لوستونکی کولای سي چي پرلوستلو باندي برلاسی سي او خپله مربوطه ګټه ځني پورته کړي.

5. لوستونکي ته پکارده چي دهغه شي مطالعه وکړي کوم چي دی مينه او علاقه ورسره لري، همدا ډول هغه څه مطالعه کړي کوم چي دده ورته اړتيا وي ځکه که داسي نه وي ددغه مضمون سره لوستونکی مينه ونه لري نو طبعا فکر دخستګۍ احساس کوي کله چي فکر دخستګۍ احساس وکړ، نو بيا فکر دې ته نه فارغه کيږي چي ليکنه په عميق ډول تر څارني لاندي ونيسي او ځان دي په پوه کړي.

پورته کړني که یو لوستونکی په نظر کي ونیسي نو کولای سي چي ددې شیانو په نظر کي نیولو سره ښه مطالعه وکړي او خپل مطلوب په موفقیت سره تر لاسه کړي البته داشیان پر شاګرد باندي ګران تمامیږي یو شاګرد بیخي داشیان نه پېژني نو تطبیق به يې څنګه کړي؟ ددې لپاره استاذ ته پکارده چي دغه شیان شاګرد ته په کرار ، کرار او هغه طریقه سره چي دشاګرد استعداد وي ورزده کړي او بیا يې په شاګرد عملي کړي.

# دتېز لوستلو غوره لار

څرګنده خبره ده چي دمعاصري نړۍ پوهان په دې اند دي چي انسان ته پکارده چي دمعقولو او منل سوو شیانو څخه په معقوله او منل سوې لاره کي چټکه ګټه واخیستل سي چي له هغوی څخه ددې شیانو لوستل او مطالعه کول هم دي ، مطالعه او لوستل هم باید تېز وسي ، استاذ به شاګرد هڅوي څو چټکه مطالعه وکړي په لنډ وخت کي ډېر معلومات راغونډ کړي. په دې ځای به حتما داپوښتنه چاته پیدا سي چي داسلام له نظره په کارونو کي بېړه په کار نه ده نو دپوهانو دا نظر به داسلامي ایډیالوژي سره ټکر نه وي؟ جواب دادئ چي اسلام په هغه کارونو کي دچټکۍ منعه کړې ده چي خیر اوشر يې په انساني فکر نه توپیرېږي یا په بل عبارت تدبر او تفکر ته اړتیا لري په زیاتو کارونو کي بیا اسلام دچټکۍ ښودنه کوي لکه خیریه کارونه ، دلمانځه ادا ، دحج ادا او داسي نور. معاصر پوهان، چي دچټکۍ ښودنه کوي دهغه کړنو چي معقولي وي . په هرصورت کي استاذ به شاګرد هڅوي چي چټکه مطالعه وکړي او په لنډ

www.Hammadia.com

وخت کي دخپل لوست تېزوالی زيات کړي او په مټ يې زياته ګټه په لنډ وخت کي ترلاسه کړي .پاته دي نه وي چي لوست يوازي په زياته مطالعه باندي تېزېدلای سي يعني څومره چي يوڅوک مطالعه زياته کوي دهغه لوست به دهغه کس په پرتله زيات وي کوم چي مطالعه لږ کوي په دې بنياد استاذ ته په کارده چي خپل شاګرد زياتي مطالعې ته وهڅوي ، په ګټو دي يې پوه کړي او دا دي ورته څرګنده کړي چي زياته مطالعه ددې ترڅنګ چي ستا په معلوماتو کي زياتوالی راولي ستا لوست هم تېزوي ته بيا کولای سي چي په ډېر لنډ وخت کي زيات معلومات راغونډ کړې.

# په لوستلو کي دتېزوالي او کراروالي اندازه معلومول

که تاسو غواړئ چي شاګردانو ته ددوی دلوست اندازه وروښاياست چي ددوی دلوست اندازه کومه ده يعني داچي ددوی د لوست کرار دئ او که تېز دئ او دوی هم متوجه کړئ چي تاسو دخپل لوست اندازه معلومه کړئ نو تاسو لومړی لاندي عمليه پر خپل ځان باندي عملي کړي بيا يې په دوی عملي کړئ هغه داچي يوه قصه چي تاسو ته په زړه پوري وي انتخاب يې کړئ په ښه غور او فکر سره يې ولولئ مثلا په درو دقيقو کي يې پای ته ورسوئ بيا په لاندي اندازو کي وګورئ چي کومه اندازه ده :

1. ډېر کرار لوستونکی: په يوه دقيقه کي د (۱۰۰) کلمو څخه تر (۲۰۰) کلمو پوري لولي.

2. کرار لوستونکی : په یوه دقیقه کې د (۲۰۰) کلمو څخه تر (۳۰۰) کلمو پوري لولي.

3. ښه لوستونکی : په یوه دقیقه کې د (۳۰۰) کلمو څخه تر (۵۰۰) کلمو پوري لولي.

4. تېز لوستونکی : په یوه دقیقه کې د (۵۰۰) کلمو څخه تر (۹۰۰) کلمو پوري لولي.

5. ډېر تېز لوستونکی : په یوه دقیقه کې د (۹۰۰) کلمو څخه تر (۱۰۰۰) کلمو پوري لولي.

کله چې استاذ پورتنۍ عملیه شاګردانو ته وښودل بیا دي شاګردان په دې امر کړي چې په خپل لوست کې تمرین زیات کړي چې په پایله کې یې دلوست دتېزوالي اندازه زیاته سي ، استاذ دي شاګر وګوماري چې دیو څه تمرین وروسته دي دخپل لوست داندازې دمعلوملو لپاره پورتنۍ عملیه اجرا کوي څو دئ دخپل تمرین په ګټه پوه سي او نور دوام ورکړي.

بدبختانه په ځینو ځایونو په اشتباهانه ډول دځینو لارښوونکو او استاذانو له خوا شاګردانو ته ویل کیږي چې تاسو لوستل کرار کوئ ، په ارامۍ سره مطالعه کوئ دتېز لوستلو څخه ډډه کوئ ځکه تېز لوستل د لوستونکي لیاقت کموي ، استعداد سوځي په پایله کې شاګرد دکمزوري استعداد څښتن ګرځي . حال داچي دایوه اشتباه ده ځکه تېز لوستل دانسان مهارت او کمال دئ دتېز لوستونکی مهارت تر هغه چا زیات دئ چي تېز لوستل نه سي کولای دمثال په ډول بزګر دوه یا درې ساعته په پرله پسې ډول په بېلچه کار کولای سي خو دوکاندار بیا شل دقیقې هم په پرلپسې

ډول کار نه سي کولای دا ځکه چي دبزګر په دې کار کي تر دوکاندار مهارت زيات دئ همدا ډول هغه څوک چي دځغاستي ورزش کوي هغه کولای سي چي دډيري مودې لپاره ځغاسته وکړي کوم څوک چي دځغاستي ورزش نه کوي هغه بيا نسي کولای چي په دغه کچه ځغاسته وکړي . لوست هم داسي دئ څوک چي مطالعه زياته کوي دهغه مهارت زياتيږي عصبي سيستم يې په چټکۍ سره داخل سوي مواد خپل مرکز ته انتقالوي او کوم څوک چي زيات مهارت نه لري نو عصبي سيستم يې په کراره ورداخل سوي مواد خپل مرکز ته انتقالوي. پاته دي نه وي تېز لوستل په سترګو او ځينو نورو غړو پوري هم اړه لري که دچا سترګي روغي وي دليدل سوي شي څخه چابک عکس اخلي عصبي سيستم ته يې ورکوي هغه يې بيا خپل مربوطه مرکز ته سپاري دچا چي سترګي روغي نه وي نو په ليد کي دستونزو سره مخ وي کوم څه چي عصبي سيستم يې غواړي چابک نه ورته سپارل کيږي همدا ډول که په عصبي سيستم کي ځيني غړي نا ارامه يا ناروغه وي هم دغه ستونزي منځته راځي يعني چټک لوستل نه سي کولای.يوه بله خبره هم ډېره اړينه ده بايد يادونه يې وسي هغه داچي کوم کتابونه چي لوستل کيږي دکيفيت له مخي بيل وي ځيني کتابونه دمحتوا له پلوه اسانه وي يعني دکوم څه بيان چي پکښي سوي وي هغه يو اسانه مضمون وي ، ځيني کتابونه بيا داسي وي چي مضامين يې مشکل وي کوم کتابونه چي مضامين يې مشکل وي لکه رياضي ، ساينس ، منطق ، فزيک او داسي استاذ بايد شاګرد ته توصيه وکړي چي دداسي مضامينو لوست په ارامه او کرار وکړي څو ځان په پوه

www.Hammadia.com

کړي او ګټه ځني واخلي، کوم مضامين چې نارمل وي دهغه لوست بايد نارمل وکړي او کوم مضامين چې اسانه وي بايد لوست يې تېز وکړي. که استاذ خپل شاګرد ته داسانه، ميانه او ګران مضامينو دمطالعې اندازه په لاندي ډول وښيي نو تر ډېره بريده به يې مشکل حل وي.

| په يوه دقيقه کي کلماتو اندازه | کرار لوستونکی | تېز لوستونکی |
|---|---|---|
| دنارمل لوستونکي اصلي اندازه | ۳۰۰ | ٦۰۰ |
| دډېر اسانه موادو دلوستونکو اندازه | ۴۰۰ | ۸۰۰ |
| دډېرو مشکلو موادو دلوستلو اندازه | ۳۰۰ | ۴۰۰ |
| داحتياطي مطالعې اندازه | ۱۸۰ | ۳۰۰ |

# دلوست بدعادتونه

استاذبايد شاګردانو ته دلوست بد عادتونه وروښيي چې شاګرد ځان ځني وژغوري او دستونزو څخه يې ځان خلاص کړي. دلوست لپاره يو شمېر بد عادتونه سته چې ځني يې په لاندي ډول دي:

1. په شونډو کي لوستل: ددې مطلب دادئ چې لوستونکی دلوست پر مهال باندي شونډې ښوروي که يو لوستونکي دا کار کوي يعني دمطالعې پر مهال باندي شونډې ښوروي نو دده دچټک لوست مخ نيسي، لوستونکی نسي کولای چې په يوه دقيقه کي تر ۳۰۰ کلمو زياتي کلمې ولولي ددې عادت دپرېښودلو لپاره بايد لوستونکی په لومړی وخت کي پر خپلو شونډانو باندي ګوته ونيسي او شونډان

www.Hamnadia.com

دحرکت څخه بند کړي ددې کار په تکراري کولو سره کېدلای سي چي دغه بدعادت دلوستونکي څخه پاته سي او دستونزو څخه به يې ځان خلاص کړي.

2. په مرۍ کي لوستل : ددې مطلب دادئ چي يو لوستونکی دکتاب مطالب په ستوني کي لولي داسي لوستل دچټک لوست مخه نيسي. لوستونکی بايد ددې کار څخه ځان وژغوري.

3. په لوړ اواز لوستل : يعني مطالعه په څرګند او لوړ بږغ باندي کول داسي کړنه ديوې خوا دعصبي سيستم پر ځينو غړو باندي فشار راوړي چي دډېر لږ وخت وروسته دمطالعې څخه ناتوانه کيږي دبله پلوه لوستونکی نه سي کولای چي دلوړ اواز سره دي چټک لوست وکړي.

4. تکراري لوستل: کله چي لوستونکی يوه جمله ولولي ددوهم ځل لپاره يې بيا لولي دا کار دلوست بدعادت دئ لوستونکی دچټک لوست څخه منعه کوي لوستونکی بيا نه سي کولای چي په لنډ وخت کي ډېره مطالعه وکړي او ډېر مواد دي په خپل ذهن کي په لنډ وخت کي را غونډ کړي.

استاذ ته په کار ده چي خپلو شاګردانو ته دلوست پورتني بد عادتونه وروښيي او شاګردان دمطالعې پر مهال ددغه بدو عادتونو څخه ځانونه وژغوري.

www.Hammadia.com

# دمطالعې اصول

استاذ ته په کارده چي خپلو شاګردانو ته دمطالعې اصول وښيي او شاګردان ددغه اصولو مطابق خپلي مطالعې ته دوام ورکړي . دمطالعې لپاره زيات شمېر اصول سته چي ځيني يې په لاندي ډول دي:

1. مطالعه بايد په ارامو مغزو باندي ترسره سي يعني داچي کچيري دماغ ستړی وي ، يا لوستونکی دروحي فشار سره مخ وي بايد مطالعه ترسره نسي چي کومه ګټه نه لري.
2. مطالعه بايد په داسي وخت کي ترسره سي چي لوستونکی ډېر وږی نه وي او نه به په داسي وخت کي مطالعه کوي چي خوراک يې زيات کړی وي يعني ډېر موړ وي.
3. کله چي مطالعه کوي نو کافي رڼا به وي په تاريک ځای کي به مطالعه نه کوي. او نه به داسي ځای مطالعه کوي چي هلته داسي مصنوعي رڼا وي چي سترګي پر بريښي.
4. داسي ځای به مطالعه نه کوي چي هلته ږغونه وي او دلوستونکي فکر ور اوړي.
5. داسي ځای به مطالعه کوي چي هلته دتګ راتګ لاره نه وي يعني پر داسي ځای به مطالعه نه کوي چي هلته عبور او مرور وي.
6. دډيري خوشالۍ پرمهال به مطالعه نه کوي ځکه چي فکر نورمال نه وي.
7. دغم او خفګان په حالت کي به مطالعه نه کوي.

www.Hammadia.com

8. په داسي ځای کي به مطالعه نه کوي چي هلته ډېر يخ وي او لوستونکی يخ نا ارامه کوي.

9. داسي ځای به مطالعه نه کوي چي هلته ګرمي لوستونکی نارامه کوي.

10. دداسي شي مطالعه به نه کوي چي لوستونکی په هغه نه پوهيږي.

11. پرداسي مهال به مطالعه نه کوي چي دلوستونکي په يوشي کي فکر بند وي.

12. دويري په حالت کي به مطالعه نه کوي.

13. دداسي شي مطالعه به کوي چي دی مينه اوعلاقه ورسره لري او يااړتيا ورته لري.

14. کله چي دکتاب مطالعه کوي نو کتاب به ډېر سترګو ته نژدې نه نيسي او نه به يې ليري نيسي. بلکي په داسي ډول به يې نيسي چي سترګي يې په هوسايۍ سره ويني.

استاذ ته په کارده چي پورتني اصول شاګردانو ته ورزده کړي او بيا يې په عملي کولو سره وګوماري که يو لوستونکی پورتني اصول په پام کي ونيسي نو ديوې خوا به يې په اسانۍ سره مطالعه کړې وي او دبله پلوه دکوم شي مطالعه چي وکړي لوستل سوي مضامين به يې په ذهن کي ناست وي ځکه زيات شمېر خلګ شکايت کوي چي زه ماښام يو شي مطالعه کړم سهار مي بېرته هير وي که يو لوستونکی پورتني اصول په نظر کي ونيسي نو ددغه ستونزي حل به يې هم ترلاسه کړی وي.

www.Hammadia.com

# دیوه شاګرد روزنه څه ته وایي؟

تربیت یا روزنه بېلابېل تعریفونه لري ځیني پوهان په دې اند دي چې تربیت دشخصیت دانکشاف دپروسې څخه عبارت دئ. ځیني بیا په دې اند دي چې تربیت دیوه فرد داجتماعي کېدو دپروسې څخه عبارت دئ . زما په اند دتربیت غوره تعریف دادئ چې تربیت دیوه فرد دروحي او جسمي دمعقولي روزني دپروسې څخه عبارت دئ ، په یوه داسي تربیت کي ټول فرهنګي مؤسسې رول لري لکه فامیل ، مدرسه ، مکتب ، شفافه ټولنه او داسي نور . دتربیت دغه تعریف ته عام تعریف ویل کیږي او دتربیت خاص تعریف په دې ډول دئ: تربیت داستاذ دسیستماتیک تاثیر څخه عبارت دئ چې یو شاګرد دټولني دمعقولو اقتضاءاتو سره سموي په هرصورت دتربیت اغېز دادئ چې په یوه شاګرد کي یو ډول بدلونونه رامنځته سي دمثال په ډول یو شاګرد مور او پلار ته سپکي خبري کوي ، دمشرانو احترام نه کوي ، په مدرسه کي نورو ټولګیوالی ته سپکي سپوري وایي. تردې وروسته شاګرد تربیت واخلي او وړاندي چې شاګرد کوم کارونه کول هغه پرېږدي یعني دمور اوپلار سره په رویه کي بدلون راولي ، دمشرانو احترام پیل کړي ، دټولګیوالو سره غوره سلوک پیل کړي ، داچي په شاګرد کي دغه نوی بدلون راغلی ، دا داستاذ دتربیې اغېز وو همدغه اغېز ته تربیت یا روزنه وایي.

www.Hammadia.com

يو عالم وايي : ددې لپاره چي دتعليم او تربيې څخه ګټمنه استفاده وسي نو لومړی بايد دشاګرد تربيه وسي ورپسې بيا دپرمختګ پرلوري تحريک سي.

# دتربيت يا روزني برخي

دتربيت دپوهانو له انده تربيت پر شپږو برخو وېشل سوی دئ چي دلاندنيو برخو څخه عبارت دئ:

1. فکري تربيت: ښکاره خبره ده چي يو شاګرد اړ دئ چي ديوې مفکورې څښتن سي دانسان لپاره مفکوره يو اړين عنصر دئ ځکه کله چي ماشوم سترګي پرانيزي نو زيات شمېر شيان يې تر سترګو کيږي خو تفکيک يې کولای نه سي او نه يې ارزښتونه سره توپيرولای سي خو کله چي ماشوم دفکر څښتن سي ، فکر يې دتکامل پر لوري وخوځيږي نو دځينو داسي شيانو سره مخ سي چي هغه دفکر او ايډيالوژۍ سره اړه لري لکه مذهبي مسائل، ملي مسائل ، وطن دوستي ، احساس او داسي نور يعني داچي حتما په ټولنه کي بېلابېلي مذهبي ټولني سته استاذ اړ دئ چي دخپل شاګرد فکرا ديوې حقيقي مذهبي مفکورې څښتن کړي همدې کار ته فکري تربيت وايي ، ددې ترڅنګ موږ وينو يو کس راځي دملت او وطن يو عام المنفعة شي اخلي ورانوي يې خپل شخصي ګټه ځني اخلي ، بل کس دغه شي خو بيخي نه ورانوي بلکي که څوک کوم تاوان ورسوي دهغه مخه نيسي

www.Hammadia.com

ددغه دوو کسانو په اړه موږ ویلای سو چي دلومړی کس دفکر سالم تربیت سوی دئ او ددوهم کس فکري تربیت نه دئ سوی په دغه ډول نور فکري مسائل هم دي.

2. اخلاقي تربیت: استاذ ته په کارده چي دشاګردانو په دغه تربیت کي زیاتي هلي ځلي وکړي دغه تربیت دیوه شاګرد دسلوک ، رفتار او کردار دسمېدو څخه عبارت دئ کوم شاګرد چي دغه تربیت ترلاسه کړی وي هغه شاګرد مذهب پاله ، باډسلپینه ، وطن پرسته او مهربانه کس وي . که څه هم دغه تربیه خورا لویه موضوع ده خو مهم ټکي یې په لاندي ډول دي:

الف : په شفاف او غوره طریقه سره دخپلي دندي ترسره کول .

ب : دسپین بږیرو او درنو خلګو احترام کول.

ج : دغریبانو ، کمزورانو او ناتوانه خلګو سره همدردي او غوره سلوک کول.

د : په یوه ټولنه کي دوجداني دندي پر بنسټ داسي کړني کول چي منفعت یې عام وي.

هـ : دوخت مراعات او قدر کول یعني بې ځایه وخت نه تېرول.

و: دمذهب پایبندي ، دټولني دکلتور او کلچر سره برابر رفتار کول.

3. ذهني تربیت : لکه څرنګه چي جسمي پرورښت په غذائي شیانو سره صورت نیسي ، ذهني پرورښت بیا دتربیت په واسطه صورت نیسي لکه دبېلابېلو شیانو سره مقایسه کول، په شیانو او پدېدو کي فکر وهل ، دموضوعاتو تحلیل او تجزیه ، دموادو او مطالبو

www.Hammadia.com

نتيجې څرګندول ، تحقيق کول او داسي نور. استاذ ته پکار ده چي دخپل شاګرد دذهني تربيت لپاره دشاګرد ذهن ته انکشاف ورکړي کله چي دشاګرد ذهن انکشاف وکړی دشاګرد ذهني تربيت رامنځته کيږي البته دذهني انکشاف لپاره استاذ ته پکار ده چي دبېلابيلو طريقو څخه کار واخلي دمثال په ډول کله چي استاذ ټولګۍ ته راسي نو لومړی بايد وشاګردانو ته څو ذهني سوالونه ووايي او شاګرد دهغه سوالونو په جوابونو باندي بوخت سي او دحل لپاره يې زيات فکر وهي داچي شاګرد په داسي موضوعاتو کي فکر وهي چي شاګرد ته پېچلي وي ددې لاري څخه دشاګرد ذهن انکشاف کوي اوتربيت تر لاسه کوي.

4. دکار تربيه : ښکاره خبره ده چي معاصره ودانه او پر مختللې نړۍ دالله جَلَّ جَلَالُهُ په اراده دخلګو دهلو ځلو ، کارونو او زيارونو په پايله کي رامنځته سوې ده ، هره ټولنه چي وګړي يې زيار ايستونکي وي ، کار کوي او کوشش کوي هغه ټولنه دهغه ټولني په پرتله زياته پر مخ ځي چي وګړي يې دکار څخه ليري پاته وي پر همدې بنسټ استاذ ته پکار ده چي دشاګرد دکار تربيه هم وکړي چي اساسي ټکي يې په لاندي ډول دي:

الف : دبېلابېلو فعاليتونو دانجام سره دذوق او علايقو تربيه.

ب : شاګردان دپوهي او مهارت له نظره غني کول.

ج : دشاګردانو سره دمسلک په تعينولو کي کومک .

د : دکار په انجام کي دشاګرد جسمي توان اوسن په نظر کي نيول.

www.Hammadia.com

5. هنري تربيت: ښکاره خبره ده چي الله جل جلاله دانسانانو استعدادونه بېل ، بېل پيدا کړي دي په هر انسان کي يو ډول نه يو ډول استعداد پروت وي او ټول استعدادونه هم يو ډول نه وي بلکي يوه کس ته الله جل جلاله دښه اواز مهارت ورکړی وي چي په ټولنه کي ديوه ښه قاري په صفت راڅرګند سي ، بل کس بيا ديوه ښه انځور ليکلو مهارت په ځان کي لري، يو بل کس بيا دښه ليکلو مهارت په ځان کي لري استاذ ته پکارده چي دخپل شاګرد استعداد کشف کړي او دده دذوق او هڅي سره يې استعداد راڅرګند کړي او بيا يې داستعداد مطابق خپل هنر ته وهڅوي او دتلو لاره يې ورونښيي . زموږ په ټولنه کي داشي بيخي لازمي دئ ځکه زموږ په ډېرو سيمو کي خورا ښه ، ښه استعدادونه پټ دي خو بدبختانه چي نمو يې نه ده کړې يا دبې علمۍ په وجه او يا داچي استاذ يې هنري تربيت نه دئ کړی همدا وجه ده چي زموږ افغاني ټولنه دتمدن څخه دنورو په پرتله ليري پاته ده.

6. خودي تربيت : دا تربيت ډېر ساده او اسانه دئ او دتربيت عرصه يې هم دنورو په پرتله عامه ده ځکه مخکي موږ ويلي وه چي په ماشوم کي په طبعي ډول دپلټني او تقليد قوه نغښتې وي کوم څه چي اوري هغه زده کوي او کوم څه چي ويني هغه په ځان کي عملي کوي دښه روښانتيا په موخه ويلای سو : يو ماشوم چي په يوه علمي او ادبي ټولنه کي لوی سوی وي هغه طبعا پوه او اديب وي او کوم ماشوم چي په بې علمه ټولنه کي لوی سوی وي هغه بې علمه او بې ادبه

وي کوم ماشوم چي دپوهانو سره لوی سوی وي هغه دقلم ، کتاب او کتابچې سره مینه لري ، په خبرو کي ادبي الفاظ استعمالوي او دځان لپاره یوه معقوله لاره لټوي ، کوم ماشوم چي دناپوهانو سره لوی سوی وي هغه دنامعقولو شیانو سره علاقه لري لکه جنګ کول ، ښکنځل کول ، دجنګ اسباب او داسي نور همدا ډول خبري يې نامعقولي وي .ددغه خبرو په نظر کي نیولو سره که استاذ وټولګۍ ته پر خپل وخت ورسي او بیا شاګرد ته ووايي چي ته پوهیږې زه ولي ناوخته نه راځم ؟ بیا شاګرد ته دوخت دپابندۍ اهتمام ور په ښه کړي ، همدا ډول استاذ په ټولګۍ کي بې ځایه وخت نه تېروي او شاګرد ته دوخت ارزښت هم وروښيي ، استاذ سپکي خبري نه کوي ، په خبرو کي دروغ نه وايي ، نامشروع اعمال لکه نسوار سګريټ دشاګردانو په مخ کي نه کوي ، بې ځایه ټوکي ټکالي نه کوي او داسي نور که استاذ دغه کړني په ځان کي عملي کړي شاګرد يې طبعا تقلید کوي په ځان کي همدغه صفات راولي او که خدای مه کړه استاذ شاګردانو ته ښکنځل کوي ، یا سپکي خبري کوي ، دوخت اهتمام نه کوي ، په صنف کي بې ځایه وخت تېروي ، نامشروع کړني ترسره کوي او داسي نور نو شاګرد فکر کوي چي کوم کارونه چي استاذ کوي دا بد کارونه نه دي که وای نو استاذ به نه کولای . بدبختانه زموږ په افغاني ټولنه کي خودي تربیت ته بیخي پام نه کیږي په زیاتو مدرسو کي استاذان ناوخته ټولګیو ته ورځي ، شاګردانو ته ښکنځل کوي ، په صنف کي بې ځایه وخت تېروي درس چي يې ورته ووایه استاذ ورته کښيني

www.Hammadia.com

دوی سره پرېږدي ، او داسي نور نیمگړتیاوي سته چي زموږ دافغاني ټولني زیات شمېر شاگردان یې بې تربیې کړي دي .او تل مو دا گیله هم وي چي زموږ دشاگردانو اخلاق ډېر ټیټ دي حال داچي دا په استاذانو پوري اړه لري که استاذ شاگردانو ته نظیف، شفاف ، بااحساسه ، با مسؤلیته ځان څرگند کړي شاگرد یې هم تقلید کوي. همدا وجهه ده چي اموزش پوهان دشاگردانو په زده کړه کي داستاذ رول زیات مهم بولي چي استاذ باید مشخص سي او باید دلاندنیو مشخصاتو لرونکی وي :

# دښوونکي مشخصات

1. **دښوونکي شخصیت** : دښوونکي شخصیت دښوونکي تر تدریس مهم دئ . ددې مطلب دادئ چي په زیاتو ځایونو کي دیوه استاذ درس چي مشهور وي په شاگردانو کي تر هغه استاذ زیات اغېز لري چي هغه زیات مشهور نه وي که څه هم دغه غیر مشهور استاذ په پوهه کي تر مشهور استاذ زیات وي . ځکه دښوونکي سلوک دښوونکي دشخصیت بیانونکی دئ باید دښوونکي سلوک په داسي ډول وي چي زده کوونکی هغه دخپل شخصیت درشد په حیث قبول کړي. او لارښووني یې په رښتیني ډول دځان لپاره گټوري وگڼي.

2. **داستاذ ظاهري وضع** : استاذ باید خپله ظاهري بڼه داصولو مطابق جوړه کړي یعني داچي استاذ باید خپل لباس پاک وساتي ، دخپل دود ، مذهب او منطقي سره برابر لباس واغوندي ، دا

لازمي نه ده چي استاذ به حتما قيمتي لباسونه اغوندي بلکي هڅه به کوي چي خپل نظافت پوره مراعات کړي. همدا ډول به خپل کړه وړه داصولو سره برابروي يعني داچي دشاګردانو سره به په اصوليکه علمي فضا کي ژوند کوي . دکبر او لويۍ څخه به ځان ژغوري او نه به دډيرو ټوکو ټکالو فضا ورسره رامنځته کوي.

3. **په بيان کي تسلط او کافي استعداد**: مطلب داچي استاذ به دخبرو ډول داسي جوړوي چي ښه جذاب وي ، ساده الفاظ وکاروي ، په داسي بڼه وي چي شاګردان ښه ورته متوجه سي. استاذ به هڅه کوي چي دداسي الفاظو دکارولو څخه ځان وژغوري چي دشاګردانو تر سويې لوړ وي لکه مخکي چي موږ دخبرو کولو په ميتود کي وويل : شاګردان هرڅه زده کوي البته چي ددوی په ژبه وي يعني داچي په داسي الفاظو وي چي دوی په پوهيږي. استاذ به هڅه کوي چي خپلي خبري په لنډ مطلب کي سره راغونډ کړي ، لنډيز يې مخکي ورته ووايي ، بيا تفصيل ورکړي او وروسته يې خلاصه ورته بيان کړي . استاذ به دګډو وډو خبرو څخه ځان ژغوري چي ديوې سر وي دبلي پاي وي.

4. **دشاګردانو پېژندنه** : داستاذ دغوره صفاتو څخه بل صفت دادئ چي شاګردان وپېژني ، ددوی په منځ کي فردي اختلافات درک کړي او له منځه يې يوسي ، همدا ډول ددوی استعدادونه ځان ته معلوم کړي او بيا ددوی داستعدادونو مطابق کار وکړي . پاته دي نه وي چي استاذ به دمتوسطو استعداد لرونکو شاګردانو په سويه

درس وايي او دکمزورو شاګردانو سره به شخصي همکاري کوي او يو ، يو به دتکړه شاګردانو سره کښېنوي چي هغوی همکاري ورسره وکړي.

5. **رهنمايي** : ښه ښوونکی هغه څوک دئ چي دښووني او روزني اصول زده کړي په مټ يې په ځان کي درهنمايۍ قوه پياوړي کړي.

6. **درسي امادګي** : استاذ چي کوم درس شاګردانو ته وايي نو ټولګۍ ته تر راتګ وړاندي بايد پوره تياري ولري که څه هم ددرس موضوع استاذ ته ډېره ساده وي بيا به هم شاګردانو ته ددرس لپاره تياري نيسي ددې لپاره چي درس ترتيب کړي ، ددرس اندازه ځانته معلومه کړي بيا دوخت مطابق درس بيل کړي او وې وايي.

7. **علمي افاقي امادګي** : استاذ چي شاګردانو ته کوم درسي کتاب وايي بايد دهغه مضمون نور تشريحاتي کتابونه پيدا کړي هغه وګوري تر درس دباندي نور زيات معلومات پر موضوع باندي پيدا کړي او شاګردانو ته يې ووايي . په دې امادګۍ کي به استاذ هڅه کوي چي اړين شيان دوخت او پلان مطابق دنورو تشريحاتي کتابونو څخه شاګردان ته راوړي البته په دې ډول چي دشاګردانو ترسويه لوړ نه وي.

8. **علمي مسلکي امادګي** : ددې مطلب دادئ چي استاذ به کوشش کوي چي خپل درس مېتوديک کړي په مېتوديک درس کي حتما ځينو داسي توکو ته اړتيا سته چي درس په شرحه کيږي ،

لکه چارټ ، نقشه ، عملي کار ، مثالونه او داسي نور ، استاذ به په خپله امادګي کي ددرس تر مطالعې وروسته په ګوته کوي چي سبا په درس کي کوم شي ته اړتیا سته ، زه باید دکومو میتودونو څخه کار واخلم . لنډه داچي ددرس پرته په میتودونو کي فکر وهل ، باندني توکي اماده کول دې ته مسلکي امادګي وایي.

9. **دکار او وظیفې امادګي** : استاذ چي په کومه مدرسه او مکتب کي درس کوي ځان به دهغه ادارې داصولو سره مطابق جوړوي یعني داچي ددرس دشروع وخت او دپای وخت به ځان ته معلوموي دتګ لپاره به امادګي نیسي ، دادارې له خوا چي دکومو شیانو غوښتنه وي دهغه لپاره به امادګي نیسي. او کوم شیان چي باید دځان سره یوسي هغه به اماده کوي.

10. **پوهه** : استاذ باید په هغه مضمون کي چي شاګردانو ته یې درسوي پوره برلاسی ولري ، که برلاسی پکښي ونه لري نو ددرس لپاره دي ځان نه ورته اماده کوي ځکه داسي استاذ ته یو ناکام استاذ ویل کیږي ، دشاګردانو وخت ضائع کیږي په دې کار کي تعلیمي اداره زیات رول لري چي استاذ ته به داسي مضمون ورکوي چي استاذ دهغه ماهر وي.

11. **تجربه** : استاذ باید په درس ، دادارې سره په رویه ، دشاګردانو سره په رویه ، درسي میتود ، درسي کیفیت او داسي نورو کي کافي تجربه ولري ، که تجربه نه لري نو حتما به په خپل درس

کي ناکامه استاذ وي پکارده چي خپله تجربه دنورو تجربه کارانو استاذانو سره دمشورو دلاري پیاوړې کړي.

12. **ابتکار او روش** : استاذ باید په خپل درس کي مبتکر وي دداسي شیانو ابتکار وکړي چي دشاګردانو په درس کي زیات اغېزمن وي همدا ډول دداسي روشونو څخه کار واخلي چي دمقبولیت تر بریده رسیدلي وي.

13. **دځرګندي برنامي درلودل** : مطلب داچي استاذ کله ددرسي کتاب پیل کوي نو خپله برنامه به شاګردانو ته ابلاغوي دمثال په ډول په درسي کتاب کي بیع ، اجاره ، هبه او اعاره بیان سوي وي استاذ دکتاب په شروع کي دوی ته برنامه داسي ابلاغ کړي : ګرانو شاګردانو ! څوک چي بل چاته شي ورکوي یا به یې دپیسو په بدله کي ورکوي یا به یې بېله پیسو ورکوي که یې په پیسو ورکاوه نو یا به یې دټول عمر لپاره ورکوي او یا به یې بېرته ځني غواړي که یې بېرته ځني غوښتی اجاره ورته وایي او که یې نه ځني غوښتی بیع ورته وایي او که یې بېله پیسو ورکاوه هغه شي به بېرته ځني غواړي یا به یې نه ځني غواړي که یې بېرته ځني غوښتی اعاره ورته وایي او که یې نه ځني غوښتی هبه ورته وایي. بیا به استاذ شاګردانو ته ووایي چي هر کله موږ دغه څلور شیان دمذهبي احکامو له اړخه زده کړه بس زموږ کتاب به هم خلاص وي داسي برنامه شاګردانو ته ورکول په حقیقت دشاګردانو پر ذهنونو باندي یوه لنډه عملي نقشه او رهنمود دئ ، ټول شاګردان هره ورځ ، هره واونۍ او هره میاشت متوجه وي چي نن موږ

www.Hammadia.com

دخپلي برنامې تر کومه بريده رسېدلي يو. استاذ هم پردغه نقشه باندي ځي ، هره ورځ او هره اونۍ شاګردانو ته وايي چي نن زموږ او ستاسو نقشه څلور زاويې لري نن ورځ يا دا اونۍ فلانکۍ زاويه تربحث لاندي نيسي ، دداسي کړني په کولو سره شاګردانو ته ددرس خط سير معلوميږي او که داسي برنامه موجوده نه وي ، شاګردان پر يوه نامعلوم لوري روان وي ، شاګردان دخستګۍ احساس کوي ، په ناشوقۍ سره درس وايي او تل دلالهانده تګ احساس کوي چي موږ به ترکومه ځای پوري په څنګه او څه ډول روان يو

14. **ښه مطالعه لرل** : استاذ بايد ژوره مطالعه ولري څو وکولای سي ددې لاري څخه هر اړخيز معلومات راغونډ کړي دشاګردانو سره په هره زاويه کي همکاري وکړي دا کار ديوې خوا داستاذ په ژوندانه کي مثبت بدلون رامنځته کوي دبله پلوه داستاذ شخصيت دشاګرد په وړاندي درنيږي چي له امله يې شاګرد داستاذ درس ته زياته پاملرنه کوي.

15. **مثبت عکس العمل** : دفوري او انفعالي عکس العمل پرځای تفکري عکس العمل مطلب داچي کله دشاګردانو دلوري څخه کوم بې پروا کړنه ترسره سي چي ددرس په نه توجه پوري اړه لري او ياکومه بله بداخلاقي وکړي نو استاذ ددې پرځای چي داحساساتو څخه کار واخلي جدي او فوري عکس العمل وښيي تفکري او دعميق فکر وهلو وروسته به عکس العمل ښيي داسي عکس العمل به ښيي چي شاګرد خپلي نيمګړتيا ته متوجه سي ، استاذ خپل حيثيت

وساتي دمثال په ډول يو شاګرد داستاذ سره بداخلاقي وکړه استاذ ددې توان لري چي شاګرد دټولګۍ څخه دباندي وباسي ، کولای سي چي سزا ورکړي ، کولای سي چي سپکي سپوري ورته ووايي ، دشاګرد ددغه بداخلاقۍ په پايله کي استاذ ته هم يو ډول فکري ناارامتيا په طبعي ډول پېښيږي خو استاذ ته پکار ده چي زغم وکړي دټولو غير معقولو لارو څخه لاس پر سرسي ، په دغه حالت کي دي بيخي هيڅ پرېکړه نه کوي کله چي يې حواس ارام سوه بيا دي فکر وکړي په مشوره دي يوه داسي معقوله لاره ولټوي چي دشاګرد په وړاندي داستاذ حيثيت هم برقراره سي ، شاګرد دراتلونکي لپاره بيا دغه بده کړنه تکرار نه کړي او ددرس څخه هم ليري پاته نسي که استاذ داسي ونه کړي بلکي جدي اقدام وکړي دستي شاګرد ته سزا ورکړي نو دشاګرد احساسات نور هم پورته کيږي ، داستاذ په وړاندي ناوړه درېز اختياروي ، پر خپل شوم او ناوړه اقدام باندي ټينګيږي ، دفاع يې کوي ، داهم کېدلای سي چي دشاګرد دي داستاذ سره غده زياته سي او دراتلونکي لپاره دي بيخي تر درس تير سي که داسي وکړي نو دژوند تر پايه به دغه شاګرد استاذ ته ديوه دښمن په سترګه ګوري

16. **صحيح قضاوت** : استاذ ته په کار ده چي په خپلو کارونو کي دغور او فکر څخه کار واخلي که فرضا داستاذ څخه کومه نيمګړتيا ترسره سي او دشاګرد له خوا نيوکه پرې وسي نو استاذ دي نيوکه په ورين تندي ومني او کومه کمزوري کړنه چي داستاذ څخه

ترسره سوې ده پر هغه دي نه ټینګیږي ځکه که استاذ پر خپله نیمګړتیا باندي ټینګ سي او شاګرد په یو ډول نه په یو ډول قانع کړي نو داوس لپاره خو شاګرد چوپ سو مګر استاذ لوی تاوان وکړی ځکه دیوې خوا یې شاګرد پر باطله او غلطه لاره باندي بوتلی او دبلي خوا یو وخت نه یو وخت شاګرد پوهیږي دمسئلې اصل حقیقت ورته معلومیږي نو په هغه وخت کي بیا شاګرد داستاذ په وړاندي ډېره بده فیصله کوي او بیا استاذ ته دیوه ناپوه استاذ په سترګه ګوري.

# په درس ځای کي داستاذ لومړی حضور

کله چي استاذ ودرس ځای (ټولګی) ته ورسي نو ددې لپاره چي درس یې ښه مؤثر سي ، شاګردان داستاذ درس ته ښه متوجه سي او درس یې ښه پایلي ولري نو پکار ده چي لاندي توکي په نظر کي ونیسي:

1. کله چي استاذ درس ګاه یا ټولګی ته ورغلی نو استاذ لومړی باید خپلو شاګردانو ته ځان معرفي کړي او خپل نوم پرتخته باندي ورته ولیکي.

2. کله چې استاذ ټولګۍ (درس ګاه) ته ورسي نو خپله برنامه به شاګردانو ته ابلاغ کړي یعني داچې استاذ دټولګۍ لپاره کوم اصول لري هغه به شاګردانو ته یو په یو وښيي یعني داچې کوم شیان په ټولګۍ کي لازمي دي هغه باید وسي او کوم شیان چې منع دي دهغو څخه شاګردان باید جدا پرهیز وکړي.

3. استاذ ته په کار ده چې ټولګۍ ته دلومړی ځل تر ورتګ وروسته دټولو شاګردانو نومونه زده او یاد کړي ځکه کله چې استاذ یو شاګرد ته دکومې موضوع لپاره خطاب کوي او هغه ته په خپل اواز خطاب وکړي ښه مؤثر تامیبږي دهغه په پرتله چې نوم یې ورته معلوم نه وي.

4. استاذ چې کله ټولګۍ ته ورسي که شاګردانو یو دبله نومونه زده نه وه استاذ دي شاګردان وهڅوي چې یو دبله خپل نومونه زده کړي او استاذ دي په دغه زده کړه کي همکاري ورسره وکړي یو دبله دي یې سره معرفي کړي ځکه چې ددوی یو دبله معرفت په زده کړه کي رغنده رول لري.او استاذ دي دمعرفت ګټې هم دوی ته وښيي.

5. کله چې استاذ شاګردان په لومړی سر کي یو دبله سره معرفي کوي نو داسي فضا دي جوړه کړي چې هر شاګرد به ولاړیږي خپل نوم او پوره پته به یادوي ځکه دا کار دیوې خوا دشاګردانو جرئت زیاتوي دبلي خوا کوم معرفت چې دی په لوړ اواز دنورو شاګردانو په وړاندي ابلاغ کړي ښه مؤثر تامیبږي.

6. استاذ ته پکارده چي په لومړی سر کي خپله درسي برنامه شاګردانو ته ابلاغ کړي چي موږ به په راتلونکو څو هفتو کي کوم ، کوم څه وايو او په څه ډول به يې وايو.

7. استاذ ته پکارده چي په لومړيو وختو کي شاګردانو ته ثابته کړي چي درس ويل ګټه لري او کوم درس چي زه تاسو ته وايم پر تاسو لازمه ده چي زده يې کړئ او زما مسؤليت دئ چي تر کومه بريده زما توان وي زه به په تاسو باندي درس زده کوم نو ددې لپاره زه هره ورځ ، هره هفته او هره مياشت ارزيابي کوم . استاذ به ددغه ارزيابۍ کړنلاره شاګردانو ته ابلاغ کړي.

8. استاذ ته پکارده چي کله خپلو شاګردانو ته مربوطه مضمون شروع کوي نو ځيني اوليه درسونه دي ورته ووايي چي دهغه مضمون لپاره تمهيدي بڼه اختيار کړي.

9. استاذ ته په کارده چي کله يو مضمون شاګردانو ته درسوي استاذ به شاګردانو ته وښيي چي دا درسي کتاب دئ طبعا مختصر دئ تاسو بايد په دې مضمون کي تفصيل واره معلومات تر لاسه کړئ ددې مضمون لپاره به تاسو پراخه مطالعه کوئ دمطالعې لپاره به کتابونه ورته وښيي چي ديوې خوا شاګردان دمطالعې سره اشنا سي دبلي خوا په مربوطه مضمون کي زيات معلومات تر لاسه کړي او بيا شاګرد په جرئت او شوق سره خپل مضمون تعقيب کړي.

10. استاذ چي کله خپل اصول شاګردانو ته ابلاغ کړه نو په لومړی اونۍ کي دي ارزيابي وکړي هغه اصول چي ده ټاکلي دي هغه

www.Hammadia.com

پلي سوي دي که یا؟ کوم درسي پلان چي ده جوړ کړی وو هغه عملي سوی دئ که یا؟ که عملي سوی وو خو ډېر ښه که عملي سوی نه وو نو استاذ به حتما هغه لاملونه په ګوته کوي چي له امله یې شاګردانو دده اصول نه دي پلي کړي او یا له امله یې دده درسي پلان نه دی عملي سوی دعملیت لپاره به رغنده ګامونه پورته کوي.

# دشاګردانو توجه ځانته جلبول او دټولګی کنترول

زیات وخت استاذ درس وایي شاګردان نه ورته متوجه کیږي او یا په ټولګی کي غالمغال وي په پایله کي شاګردان بېله درسه پاته سي او یا داستاذ احساسات راپورته سي ، دقهر څخه درس پرېږدي ، یا دټولګی څخه ووزي او یا ددوی په وهلو او کوټولو پیل وکړي نو ددې پرځای چي استاذ درس وایي شاګردان استفاده نه ځني کوي او یا استاذ دقهر په وجهه دوی ته درس ورپرېږدي استاذ ته پکارده چي داصولیکي لاري څخه کار واخلي ، دوی متوجه کړي او دغالمغال څخه یې راوګرځوي او خپل درس ته ادامه ورکړي . ددغه کار لپاره استاذ ته پکارده چي لاندي ټکي په نظر کي ونیسي:

1. که داستاذ ددرس په جریان کي شاګردانو بل لوري ته توجه واړول کرار یا په زوره یې خبري شروع کړي او یا یې بل شغل اختیار کړئ نو استاذ دي ځای پرځای درس بس کړي څو دقیقي دي چوپ ودرېږي ، بېله دي چي چاته پاملرنه وکړي دټولګی یو سر او بل

سرته دي ولاړ سي شاګردان چي داستاذ دا عمل وويني دستي په دې فکر کيږي چي يو څه پېښه ده چي داستاذ درس بند سو او استاذ يو بل دريز اختيار کړئ ټوله شاګردان خپل پام داستاذ لوري ته ور اړوي کله چي دشاګردان پام استاذ ته ورواوښتئ استاذ به زيات علمي او منطقي دلائل ورته ووايي څو دوی قانع کړي چي درس ته نه متوجه کېدل کوم نقصانونه لري او درس ته متوجه کېدل کومي ګټې لري.

2. که شاګردانو داستاذ په درس کي بې نظمي جوړه کړه استاذ دي دزشتي رويې څخه کار نه اخلي چي په وهلو کوټولو او يا په پوچ رد ويلو شاګردان ارام کړي ځکه که دا کار وکړي نو دشاګردانو داستاذ څخه طبعي کرکه کيږي په ښکاره چوپ پاته کيږي ځکه پوهيږي چي څه ويل ګټه نه لري خو په زړه کي داستاذ او درس دواړو سره بې علاقه کيږي ځکه موږ مخکي پردې خبري باندي په تفصيل سره خبري کړي وي چي انسان طبعا فشار نه مني څو چي انسان فکرا يو کار ته نه وي اماده سوی دفشار په مټ نه سي اماده کېدلای که څه هم تر يو وخته په فشار باندي په ښکاره اماده سي خو کله چي لږ وخت پيدا کړي بېرته خپل طبيعت ته اوړي. استاذ ته پکار ده چي هر کله په ټولګۍ کي بې نظمي جوړه سوه نو ديوه يا دوو شاګردانو دي کرار خبري اتري پيل کړي چي ليري شاګردان يې نه اوري او ا ستاذ دي ددغه شاګردانو لوري ته چي خبري ورسره کوي ډېر په غور سره متوجه سي چي په څېره کي يې نښي ښکاريږي نور شاګردان چي داستاذ او نورو ټولګيوالو خبرو اترو ته متوجه سي دستي نور مشاغيل

پرېږدي داستاذ لوري ته متوجه کيږي کله چي دشاگردانو توجه را
واوښتل استاذ دي خپل بيان ورته شروع کړي ، هر څومره چي استاذ
پر خپل بيان باندي برلاسی وي په هغه پيمانه اندازه دټولگۍ
دراتلونکي بې نظمۍ مخه نيول کيږي.

3. که داستاذ په درس کي بې نظمي پيل سوه استاذ يو
شاگرد يادوه شاگردان کشف کړل چي بې نظمي ددوی له امله
رامنځته سوه نو استاذ دي درس پرېږدي دهغه دوو شاگردانو نومونه
دي پر تخته باندي وليکي او په غټ خط دي بې نظمي ورسره وليکي
شاگردان يو دم ددغه شاگردانو نومونو ته متوجه کيږي چي نومونه
يې پرتخته باندي ليکلي دي او سوال ورته پيدا کيږي چي دانومونه
ولي ليکل سوي دي بيا دي استاذ دټولگۍ دټولو شاگردانو څخه
پوښتنه وکړي چي دانومونه ولي ليکلي دي ؟ ښکاره خبره ده چي ډول
، ډول نظرونه به شاگردان ورکړي ، استاذ دي ټوله په غور سره
واوري او بيا دي ورته ووايي چي دا نظرونه ماواورېدل خو داچي دکوم
يوه نظر صحيح دئ مخکي به زه تاسو ته دنظم په اړه يو څه بيان
وکړم استاذ دي خپل بيان پيل کړي په څرگند ډول دي دهغه
شاگردانو اهانت نه کوي کوم چي بې نظمي يې رامنځته کړې ده بلکي
خپل بيان دي پرنظم باندي راچاپېره کړي ځکه که دهغوی اهانت
وکړي دهغو په زړه کي يو ډول غده پيداکيږي داچي دوی پوه سوه چي
استاذ زموږ بې نظمي درک کړې ده او بيا يې هم زموږ توهين ونه
کړئ بلکي دنصيحت او اشارې له لاري يې موږ پوه کړو دا داستاذ يو

www.Hammadia.com

ډول احسان بولي او په راتلونکي کي دبې نظمي په مخ نیولو کي تر یوه بریده رول لري.

4. که په ټولګۍ کي بې نظمي رامنځته سوې وه نو استاذ دي انګېزه خپره کړي مثلا تخته دي وټکوي ، یا دي رسم پر تخته باندي ولیکي ، یا دي یو چارټ وځړوي او یا دي کومه بله انګېزه خپره کړي چي دشاګردانو پام دنورو مشاغلو څخه ددغه انګېزې پر لوري راجلب سي بیا دي استاذ خپل جالب بیان پیل کړي څو دخپل بیان په مټ وتوانیږي چي شاګردان دبې نظمۍ څخه رامنعه کړي او دنظم پر لوري یې تشویق کړي او بیا خپل درس ته ادامه ورکړي.

5. که په درس ځای کي دشاګردانو له خوا غالمغال رامنځته سي استاذ دي دهغه شاګردانو نومونه په نښه کړي چي ډېر منظم وي دهغو نومونه دي پرتخته ولیکي دهغو ستاینه دي پیل کړي انساني فکر طبعا ستایش خوښوي کوم شاګردان چي بې نظمي جوړوي هغه هم دې ته لېواله کیږي چي یووخت زموږ نومونه هم ددې لپاره پرتخته ولیکل سي چي ستاینه مو وسي ، استاذ دي دخپلو خبرو په جریان کي زیاته کړي چي زه به په راتلونکي کي تر ټولو دښه شاګرد نومونه تاسو ته په ډاګه کوم او داسي دي هم وکړي بیا نو هر شاګرد هڅه کوي چي دبې نظمۍ څخه ځان وژغوري او ځان ددې جوګه کړي چي استاذ یې دغوره شاګردانو په لیست کي ولیکي او ستاینه یې نورو شاګردانو ته وړاندي کړي.

www.Hammadia.com

6. استاذ دي دبې نظمۍ پرمهال شاګردان په ګروپي کار اخته کړي مطلب داچي که بې نظمي رامنځته سوه استاذ دي يوه موضوع وټاکي ټول شاګردان دي پردوو يا درو ګروپونو وويشي او وظيفه دي ورکړي چي هر ګروپ پر نوموړې موضوع باندي څېړنه وکړي دمثال په ډول استاذ دي شاګردانو ته موضوع ورکړي چي تاسو دښه شاګرد مواصفات وليکئ هر ګروپ چي ښه مواصفات وليکل هغه دتقدير وړ دئ.

# که داستاذ خبري سلاست نه لري بايد څه وکړي؟

ښکاره خبره ده داستاذ خبري دشاګردانو په ښه استفاده کي زيات رول لري ځکه لايقو او تکړه شاګردانو ته داستاذ درس داسي مثال لري لکه يو انځور ګر چي ديو باغ يا غره ډېر ښائسته انځور وليکي مګر دانځور پر يوه برخه يې ډېره لږه بدخوندي وي کله چي يې ليدونکی ووينې پوه سي چي ددې انځور په ليکلو کي ډېر کمال سوی دئ کله چي يې هغه نيمګړتيا ته پام سو نو دانځور کمال يې هير سي يوازي نيمګړتيا ته متوجه سي په کمالاتو کي يې فکر نه وهي بلکي په نيمګړتياوو کي يې فکر وهي. تکړه او لايق شاګردان هم داستاذ درس ته زيات متوجه وي که داستاذ په درس کي ډېره لږه نيمګړتيا څرګنده سي نو شاګردان داستاذ کمالات هېر کړي نيمګړتياوو ته يې متوجه سي کله چي شاګرد داستاذ نيمګړتياوو ته متوجه سو دستي داستاذ حيثيت دشاګرد په وړاندي ټيټيږي کله چي

داستاذ حیثیت ټیټ سو بیا داستاذ درس په شاګرد کي هیڅ اغېز نه کوي دلاروښانتیا لپاره ویلای سو چي بطلیموس دریاضي دعلم مؤسس دئ دتاسیس ویاړ دده په برخه دئ که څه هم وروسته ددې فن علماؤ تر ده ښه ابتکارات کړي دي خو بیا ددې فن ویاړ دده په برخه دئ اوس نو که څوک په دې فن کي دبطلیموس ډېر ساده نظر  یا مقوله بیان کړي دریاضي دفن  خوښونکي ډېر ورته متوجه کیږي دبطلیموس دغه مقوله خوښوي ، یادوي یې او دمثال لپاره یې هرځای بیانوي که چیري یو بل څوک دبطلیموس تر نظر ښایسته نظر ورکړي او دده تر مقولې غوره مقوله ووایي خلګ پام نه ورته کوي ، نه یې یادوي او نه یې دمثال لپاره بیانوي دا ځکه چي دخلګو په ذهنونو کي دبطلیموس شخصیت منل سوی دئ او دغه کس چي تر بطلیموس یې ښه نظر ورکړی دئ دده شخصیت دخلګو په ذهنونو کي نه دئ منل سوی استاذ هم که یې دشاګردانو په ذهنونو کي شخصیت ومنل سي شاګردان یې خبرو ډېره ښه توجه کوي ، خبري یې یادوي او درس ته یې زیاته توجه کوي او که داستاذ شخصیت دشاګردانو په ذهنونو کي ونه منل سو نو بیا داستاذ درس ته هیڅ توجه نه کوي هرڅومره چي غوره درس وي بیا هم ددوی په فکرونو کي کوم مقام نه لري. همدا ډول دنالایقه او کمزورو شاګردانو لپاره داستاذ درس داسي مثال لري لکه یوڅوک چي دریاضي یوه اوږده عملیه اجرا کوي که دغه کس د نوموړي عملیې په حل کي یو عدد غلط ولیکي دعملیې حل به خامخا غلط وي استاذ چي کله نالایقه شاګردانو ته درس وایي نو دهغه اصولو څخه به کار اخلي چي ددرس لپاره ټاکل سوي دي که یې په اصولو

کي لږه غلطي وکړه نو دکمزورو شاګردانو زده کړه بیا نه سي کولای ځکه په کمزورو شاګردانو درس زده کول داسي ګران کار دئ لکه دریاضي یوه ګرانه عملیه حلول په عملیه کي چي عدد غلط سي نتیجه یې غلطه وي دکمزورو شاګردانو په ورزده کړع کي چي یو اصل غلط سي نتیجه یې غلطه وي یعني شاګردان خالي لاس پاتیږي په هر صورت استاذ چي کله شاګردانو ته درس وایي نو خپله پوهه دخبرو له لاري انتقالوي استاذ مکلف دئ چي په خبرو کي سلاست ولري که استاذ په خبرو کي سلاست نه لري ، خبري یې قطع کیږي تکړه شاګردان فکر کوي چي ګویا استاذ پوهه نه لري چي خبري ځني قطع سي او پر کمزورو شاګردانو بیا ګډوډي راځي ځکه کمزوري شاګردان چي سلیسي خبري ورته کیږي دپوهي انفعال په تکلیف کوي نو چي خبري قطع ، قطع کیږي نو څه حال به یې وي. دهمدې خبري په نظر کي نیولو سره استاذ ته پکار ده چي خپلي خبري تر خپله وسه سلیسي او رواني وساتي. البته دا کار کله داستاذ په وسه نه وي ځکه دانسان په باطني حواسو چي کوم دخیال حس دئ هغه دخزانه حس څخه خبري راباسي که دانسان دخیال حس پیاوړی نه وي په فطري ډول کمزوری وي او یا دپیاوړي کولو لپاره یې پریکټیس نه وي سوی داسي انسان که استاذ سي که هرڅومره پوهه په دماغ کي ولري بیا هم خبري سلیسي نه سي کولای ځکه دخیال حس چابکي ، چابکي خبري دخزانې څخه نه سي راپورته کولای چي سلیسي خبري وکړي په پایله کي استاذ دستونزو سره مخ کیږي ددې ستونزي دهواري لپاره او ددې لپاره داسي استاذ دشاګردانو په وړاندي خپل حیثیت وساتي او یا کمزورو

شاګردانو ته غوره درس ورکړي استاذ ته په کار ده چي لاندي لارښووني په نظر کي ونيسي ، عملي يې کړي او ګټه څني پورته کړي تر ډېره بريده به يې ستونزي هواري وي:

1. استاذ چي کله شاګردانو ته يوه موضوع څېړي دڅېړني پرمهال خبري څني ورکي سي استاذ دغم احساس کوي ، دا کار دځان لپاره نه سي زغملاى او دځان دحيثيت لپاره دا کار ټيټوالى بولي په پايله کي داستاذ روحيات تر فشار لاندي راسي زده خبري لاځني ورکي سي نو لومړى دده لپاره پکارده چي لومړى دهغه زده خبرو غم وخوري يعني داچي پر ټاکلې موضوع خو خبري څني ورکي سوي زده خبري خو بايد څني ورکي نه سي ددې لپاره استاذ ته پکارده چي تر درس مخکي لا دخبرو قطع پرځان ومني او دافکر وکړي چي دهرانسان خبري قطع کېدلاى سي او په خپل فکر کي ټينګه فيصله وکړي چي دخبرو قطع زما لپاره هيڅ عيب نه دئ ځکه زه په فطري ډول ناروغه يم داچي خبري مي قطع سوې هيڅ دتشويش خبره نه ده يو کس چي جسمي ناروغه وي ، ژبه يې بنده ، بنده کيږي يا دماغي تکليف لري دضرورت پرته ګډيږي خلګ دى معذور بولي داسي کړنه ددغه ناروغ لپاره هيڅ عيب نه دئ دغه استاذ به هم دخبرو قطع په خپل فکر کي دځان لپاره هيڅ عيب نه بولي که داسي فيصله دځان سره وکړي او خپل فکر پر دغه نظر باندي ثابت پريږدي نو کله چي خبري څني ورکي سوې دستي به دى تر روحي فشار لاندي نه راځي او زده خبري به نه څني ورکيږي.

www.Hammadia.com

2. کوم استاذ ته چي تجربه وي چي زما خبري قطع کيږي نو هرکله چي دشاګردانو درس ته تياري نيسي نو يوه بله موضوع به حتما مطالعه کوي چي ددرس سره يو څه ورته والی لري کله چي يې شاګردانو ته درس پيل کړی نو که داستاذ خبري قطع سوې استاذ به بېله دي چي تر روحي فشار لاندي راسي دستي به هغه موضوع ته ځي چي ده مخکي مطالعه کړې ده هغه به څېړي شاګردانو ته به دا فکر نه ورکوي چي موضوع زما څخه ورکه سوه يامي خبري قطع سوې بلکي هغه موضوع چي ده مخکي مطالعه کړې ده داسي به يې شاګردانو ته څرګنده کړي داموضوع دمطلوبه موضوع لپاره دمثال يا دتشريح شکل لري.

3. پر کوم ځای چي داستاذ خبري قطع سوې استاذ به هغه ځای په خپل ذهن کي معلوم کړي ځکه چي کله دده دخبرو قطع پای ته ورسېده نو بېرته به دهغه ټاکلي ځای څخه خبري پيلوي ځکه که بېرته خبري تر ټاکلي ځای مخکي يا وروسته پيل سي نو دشاګردانو پر ذهنونو باندي بد اثر کوي.

4. کوم استاذ چي دخبرو قطع ورسره مله وي بايد دخپلو خبرو ټيمپو ياسرعت کم کړي په ارامۍ او هوسايۍ سره دموضوع ريسرچ او تحقيق پرمخ بوزي دخپلو خبرو په جريان کي لنډي وقفې او سکتې وکړي تر ډېره بريده دقطع په مخ نيوي کي رول لري.

www.Hammadia.com

5. دخبرو دقطع دلمنځه وړلو لپاره باید دتجربه کارانو او فصیحو استاذانو سره مشورې کوي ، دهغه تجربې به په کار اچوي او دهغو مشورې به اوري عمل به په کوي.

6. که کوم شاګرد داستاذ څخه یوه پوښتنه وکړي داستاذ سره یې دستي جواب نه وي نو استاذ ته په کارده چي لومړی دهغې پوښتني سره څرنګوالی وکړي بیا خپله دنورو شاګردانو څخه وپوښتي چي ددغه پوښتني په جواب کي څه نظر لري؟ تردې وروسته به دغور او دقت په کولو سره دپوښتني جواب په حکیمانه ډول سره صبا ته پرېږدي.

7. که استاذ دموضوع څېړنه وکړي او استاذ په دغه څېړنه کي تېروتلی وي دیوه شاګرد له خوا داستاذ نیمګړتیا په ګوته سي استاذ ته ثابته سي چي زما نظر غلط دئ دشاګرد نیوکه واقعا پرځای ده استاذ دي پر خپل باطل نظر نه ټینګیږي بلکي دشاګرد خبره دي ومني او خپل تېروتل دي شاګردانو ته داسي ابلاغ کړي چي دا دانساني طبیعت او فطرت غوښتنه ده دازما شخصي نیمګړتیا نه ده.

8. استاذ دي هڅه وکړي چي دخبرو دقطع په لاملونه پسي وګرځي او دحل لاري چاري یې ولټوي په دې کار کي تجربه لرونکي استاذان زیات رول لوبولای سي چي پوښتنه ځني وسي.

# په صنف کي دبې انضباطۍ مخه څنګه نیول کېدلای سي؟

داچي ددرس لپاره اړين کار نظم دئ چي نظم په ټولګۍ کي نه وي امکان نه لري چي درس پنځوس فيصده هم صورت ونيسي نو استاذ ته په کارده چي دخپل درس دکيفيت دښه والي لپاره په ټولګۍ (درسګاه) کي نظم رامنځته کړي . دښه نظم لپاره که استاذ لاندي ټکي په نظر کي ونيسي نو دنظم کيفيت به يې ډېر ښه وي:

1. استاذ دي شاګردانو ته دنظم لپاره يو لړ څرګند اصول وضع کړي چي په مټ يې شاګردان دبې نظمۍ څخه رامنځته سي دمثال په ډول استاذ دي شاګردانو ته امر وکړي چي ټول شاګردان مکلف دي چي ددرس تر پيل پنځه دقيقي وړاندي په ټولګۍ کي حاضر وي کوم شاګردان چي دتعليمي ساعت تر پيل وروسته راسي په ټولګۍ او درس کي اخلال جوړوي او بې نظمي رامنځته کوي ، ټول شاګردان مکلف دي چي ددرس په جريان دهر ډول واخله راکړه او خبرو څخه په کلکه ډډه وکړي، ټول شاګردان مکلف دي چي کله پوښتنه کوي نو لومړی ګوته پورته کړي داستاذ داجازې وروسته ولاړ سي او خپله پوښتنه مطرح کړي ، ديوه شاګرد دپوښتني په جريان کي بل شاګرد حق نه لري چي څه ووايي او يا ګوته پورته کړي، ټول شاګردان مکلف دي چي دصنف ارامه فضا ناارامه اواخلال نه کړی ،شاګرد بايد خپلی نيوکی اووړانديز ددرنښت په فضا کي داستاذ سره مطرح کړی، شاګرد بايد په پاخه هوډ سره ودمدرسې ته حاضرسی اودغيرحاضری څخه ډډه وکړی ،شاګرد بايد دخپلو ټولګيوالو سره په درسونو کې سالمه سيالی وکړی ،شاګرد بايد دصنف په راتګ سره

اخلالونکی توکی لکه ټلیفون اویانور دلوبو سامانونه داستفادې څخه بند کړی، شاګرد باید داستاذ په نه موجودیت کې وادارې ته خبر ورکړی، هرشاګرد باید دادرې وټولو اصولوته درانوی وکړی ،شاګرد باید پرخپل وخت ومدرسې ته حاضرسی ،شاګرد باید دځان سره درسی مواد لکه قلم کتابچه اوداسی نورولری ،شاګرد باید د ځان اوصنف دنظافت پوره خیال وساتي ،شاګرد باید د مدرسې دلوازمو ( میز ،چوکۍ ،تخته پنکه اوداسی نور ) څخه سالمه ګټه واخلی اودخرابتیا په صورت کې واداری ته خبرورکړی، شاګرد باید دوینښ غړی په ډول دچارو په سمون اوسمبالتیا کې پوره ونډه واخلی اومدرسه دخپل کور په څیر وبولی، شاګرد باید دمدرسې مذهبي او فرهنګي یونیفورم دځان سره ولری، شاګرد باید داستاذ سره ددرس دباندی جر اوبحث ونه کړی، شاګرد باید داستاذ لخوا ورکړل سوی کورنۍ دنده په ښه کیفیت سره ترسره کړی،شاګرد باید دنورو ټولګیوالو سره ښه دورور ګلوی برخورد ولری . استاذ ته پکارده چي پورتني اصولو ته ورته نور اصول هم شاګردانو ته دا ړتیا په اندازه وضع کړي.

2. استاذ چي کله د شاګردانو لپاره دټولګۍ دنظم نسق لپاره کوم اصول ټاکي نو دښه نظم نسق لپاره دي دشاګردانو نظرونه هم واخلي که ددوی په نظرونو کي معقول شیان وي هغه دي هم پلي کړي . کله چي استاذ شاګردانو ته خپل اصول ابلاغ کړه نو دشاګردانو موافقه دي واخلي او ددغه اصولو ګټي دي ورته بیان کړي که استاذ

دغه کار ترسره کړي نو شاګردان بیا دبې نظمۍ لپاره جرئت نسي کولای ځکه که بې نظمي رامنځته کړي خامخا دا فکر ورته پیداکیږي چي دا زه هغه کار کوم چي زما دخپلي موافقې خلاف کار دئ.

3. کله چي یو شاګرد دټولو اصولو درانوی وکړي نو داستاذ لخوا دي په یوډول سره مکافات سي او یا دي یې استاذ تمجید اوستایش وکړي څو شاګرد داصولو دتطبیق لپاره تشویق سي.

4. کوم شاګرد چي داصولو څخه مخالفت وکړي استاذ دي یې په معقول ډول مجازات کړي او یا دي شاګرد دځني امتیازاتو څخه بې برخي کړي لکه داخلاقو نومرې نه ورکول او داسي نور.

5. که داسي شاګرد کشف سو چي په قصدي ډول سره په ټولګۍ کي اخلال جوړوي نو استاذ دي یې بالفور بلي ټولګۍ ته بدل کړي څوصنف یې دبدو عواقبو څخه وژغورل سي.

6. که په ټولګۍ کي کومه دبې نظمۍ موضوع رامنځته سوه او دهغې موضوع پایلي بدي وي استاذ دي نوموړې موضوع وڅیړي ، داموضوع دي نه پریږدي چي بل عواقب ایجاد کړي.

7. کوم شاګردان چي په ټولګۍ کي بې انضباطي ایجادوي استاذ دي هغه شاګردان په نښه کړي په ټولګۍ کي دي یې ودروي څو شاګردان ورته وګوري او اخلالونکو ته یو ډول روحي ضربه سي او یادي یې په تکراري ډول دڅو دقیقو لپاره دټولګۍ څخه وباسي.

## دتوري یا سپیني تختې څخه استفاده کول

www.Hammadia.com

ښكاره خبره ده چي پـه درس ځاى كي دتختې لـرل ددرس لپـاره ډېـر ګټور تماميږي كوم درس چي پر تختـه بانـدي وليكـل سي او تشـريح سي ترهغه درس ښه اغېزمن تماميږي كوم درس چي پـه تقريـري ډول بانـدي تشريح سي استاذ چي كله ټولګۍ ته داخـل سـي دتختـې څخـه دي اسـتفاده كوي استاذ ته پكارده چي دلاندي نكاتو څخه استفاده وكړي څـو درس يـې ښه مؤثر تمام سي:

1. استاذ چي كله ټولګۍ تـه داخل سي پكـار ده چي تـر سـلام اچولو وروسته دشاګردانو احـوال پرسي وكـړي ورپسـې نېټـه پـر تختـه بانـدي وليكي او كـوم درس چـي وايـي دهغـې موضـوع عنـوان پرتختـه باندي وليكي.
2. استاذ به پر تختـه باندي شاګردانو تـه پـه داسـي ښـه ليكنـه كوي چي ليري او نژدې ټول شـاګردان يـې مشـاهده كـړي او ګټـه ځنـي واخلي.
3. كه استاذ غواړي چي موضوع شاګردانو ته تشريح كړي نو مهم ټكي دي يې پرتخته وليكي.
4. اسـتاذ دي هڅـه كـوي چـي دشـاګردانو دارزيـابۍ پـرمهـال شاګردان تختې تـه راولاړ كـړي څـو شاګرد وكولاى سـي چـي داسـتاذ لـه خوا پوښتل سوې موضوع پـه كـره توګـه تشـريح كـړي ، نـور شـاګردان ښـه اسـتفاده ځنـي وكـړي او پـه عـين حـال كـي دشـاګرد دجرئـت پـه زياتېدو كي هم ښه رول لري.

www.Hammadia.com

5. که شاګرد کومه پوښتنه وکړي استاذ دي يې پرتخته وليکي وروسته دي يې جواب کړي.

6. کله چې استاذ موضوع په ليکلي ډول پرتخته باندي وليکي بيا شاګردانو ته امر وکړي څو هغه ليکل سوی شي په خپلو کتابچو کي وليکي نو ترهغه بريده دي استاذ خپله ليکنه نه خرابوي څو باور يې سي چې شاګردانو ټول شيان وليکل.

7. کله چې مو درس پای ته ورسيږي اودټولګۍ څخه وزئ نو کوم څه چې مو پرتخته ليکلي وي هغه خراب کړئ څو بل استاذ ته ستونزي ايجاد نه کړي.

# شاګردانو ته عملي درس ورکول

دشاګردانو دښې زده کړي په لړ کي شاګردانو ته عملي کارونه کول ښه اثر لري ، کومه موضوع چې استاذ په تقريري ډول سره شاګردانو ته تشريح کړي ، شاګردان يې ياد کړي خامخا به ځني داسي شاګردان وي چې په نوموړې موضوع باندي ښه پوه سوي نه وي دمثال په ډول استاذ خپلو شاګردانو ته داختر لمونځ شرحه کړئ ، شاګردانو زده کړئ ، که استاذان خپل شاګردان دباندي راوباسي په عملي ډول اودسونه په تازه کړي ، په عملي توګه داختر لمونځ په ادا کړي نو دشاګردانو به خپل درس ښه زده سوی وي بلکي استاذ ته پکارده چې په هر درس کي چې عملي کيږي شاګردانو ته يې په عملي توګه اجرا کړي ، که عين هغه عمليه شوني نه وي نو استاذ دي يې په تمثيلي ډول هغه درس ورته

www.Hammadia.com

شرحه کړي داچي استاذ په عملي درس کي ښه کامیابه وي نو پکارده چي لاندي ټکي په نظر کي ونیسي :

1. کله چي استاذ غواړي چي شاګردانو ته په عملي توګه درس شرحه کړي نو پکارده چي هغه توکي دوړاندي لا برابر کړي چي په عملیه کي پکاریږي.

2. استاذ ته پکارده چي دتقریري درس مهم ټکي شاګردانو ته وریاد کړي او دعملیې په وخت کي یې دهرټکي په عملي کېدو سره دهغه ټکي نوم واخلي او شاګردانو ته یې وریاد کړي چي موږ په تقریري ډول کي داسي ویلي وه اواوس یې په عملي ډول وینو.

3. استاذ دي شاګردانو ته وخت ورکړي چي دعملیې په اجرا کي پوښتني وکړي او استاذ دي هم دعملیې داجرا په وخت کي شاګردان ګام پر ګام ارزیابي کوي.

4. استاذ دي شاګردان وهڅوي څو دعملیې داجرا په توکو کي داستاذ سره کومک وکړي.

5. استاذ دي دعملیې تر اجرا وروسته شاګردانو ته وخت ورکړي څو شاګردان په څو ځلي هغه عملیه په خپل فکر او خپل توان سره اجرا کړي که کومه نیمګړتیا ځني ترسره سي استاذ دي یې نیمګړتیا ور په نښه کړي او بیا دي یې وراصلاح کړي.

6. استاذ دي شاګردانو ته دنده ورکړي څو شاګردان ځیني شیان خپله هم عملي کړي دمثال په توګه که استاذ شاګردانو ته دنړۍ نقشه تعریف کړې وي استاذ دي ځینو شاګردانو ته وظیفه

ورکړي چي شاګردان دنړۍ په نقشه کي دافغانستان نقشه نقش کړي، ځينو ته دي بيا بله سيمه ورپه نښه کړي چي شاګردان يې نقش کړي.

7. استاذ دي شاګردان تشويق کړي چي دعملي درس داړتيا توکي شاګردان دتوان مطابق پيدا کړي او دکار اخستني لپاره يې ټولګي ته راوړي.

8. استاذ بايد دعملي درس په لړ کي شاګردانو ته تحريري کورنۍ دندي ورکړي او دشاګردانو تر اجرا کولو وروسته يې بايد وګوري او نيمګړتياوي يې اصلاح کړي.

# دشاګردانو سره داستاذرويه بايد څنګه وي؟

ښکاره خبره ده چي داستاذ په درس کي دشاګردانو سره داستاذ برخورد زيات رول لري ځکه استاذ اړ دئ چي خپل شخصيت په شاګردانو داسي ومني چي شاګردان يې دخپل رهنمود په توګه قبول کړي که داستاذ دريز دشاګردانو په وړاندي ټيټ وي شاګردان يې درس ته په ډېره لږه پيمانه پاملرنه کوي که استاذ غواړي چي دشاګردانو په وړاندي خپل حيثيت وساتي پکارده چي لاندي ټکي په نظر کي ونيسي:

1. استاذ بايد دشاګردانو سره يوازي علمي اړيکي ولري مطلب داچي که استاذ دشاګرد په وړاندي خپل حيثيت ساتل غواړي نو خپلي اړيکي دي دشاګرد سره يوازي علمي کړي دنورو دنياوي چارو لکه کار وبار ، انډيوالي او داسي نورو څخه دي ځان وساتي.

www.Hammadia.com

2. استاذ باید دشاګردانو سره په ورین تندي خبري وکړي ، دزشتي رويې څخه ډډه وکړي او دشاګردانو دخوشاله کولو ، دانګېزې دخپرولو او تر یوه بریده ددرس دڅرنګوالي لپاره دي کله ، کله شاګردانو ته یوه فکاهة هم وايي.

3. استاذ باید دشاګردانو سره دومري ټوکي ټکالي زیاتي نه کړي چي هغه بیخي دداسي کس په سترګه ورته وګوري چي دده سره مساوي وي.

4. استاذ دي دشاګرد دمنفي عمل په کولو سره دستي زشت او فوري عکس العمل نه ښيي بلکي دفکر وهلو اوشاګردانو ته ددغه منفي عمل دبدو عواقبو ترڅرګندولو وروسته دي خپل مدبرانه عکس العمل وښيي.

5. استاذ ته پکارده چي شاګردانو ته خپل ځان دمشفق ، نرم او مهربان انسان په توګه معرفي کړي څو دهغوی مینه ورسره پیدا سي او دده خبري بیا په غور سره واوري.

6. استاذ دي کله ، کله بداخلاقه شاګردانو ته معقول مجازات هم ورکوي څو شاګردان دا خبره درک کړي چي په استاذ کي دقهر ماده سته ځکه تل نرمي هم دستونزو هواری نه سي رامنځته کولای .

7. مدرس باید دخپلی مذهبی ، وجدانی اواجتماعی دندی لمخی پرخپل وخت خپلی سپیڅلی وظیفی ته حاضرسی څو شاګردان داستاذ ددغه کړني څخه خودي تربیت ترګوتو کړي.

www.Hammadia.com

8. استاذ باید خپل درس داهدافو په یوه لنډه ټاکلی جمله پیل کړي څو شاګردانو ته جالبه ، په زړه پوري او ددوی په ذهنونو کي دمطلوب دحصول لپاره ښه نقش سي .

9. استاذ باید دیوه ښه لارښود په صفت دشاګردانو پوهنیزی ستونزی حل کړی اومرسته ورسره وکړی .

10. استاذ باید دشاګردانو سره پوره او کامل اخلاص ولري.

11. استاذ باید دشاګردانو داخلاقو په جوړولو کې زیات رول ولری .

12. استاذ باید دشاګردانو سره خپلي خبري ، درس او رویه داسلام دسپېڅلي دین او دافغانانو دفرهنګ او عنعناتو مطابق پر مخ بوزي.

13. استاذ ته پکارده چي دشاګردانو ددرس په نه زده کړه کي ددوی دنه زده کړي لاملونه پیدا کړي او بیا دي یې په معقوله لاره باندي ستونزي ورحل کړي.

14. استاذ ته پکارده چي دشاګردانو فکرونه په نظر کي ونیسي هغه څه دي پرشاګردانو نه غورځوي چي ددوی طبائع یې نه مني ځکه که داسي وکړي دشاګرد او استاذ په منځ کي دمیني واټن زیاتیږي او شاګرد بیا استاذ ته دکرکي په سترګه ګوري.

15. استاذ ته پکارده چي دشاګردانو روغتیا او ناروغتیا ، دفکر ناارامي او ارامي په نظر کي ونیسي او ددوی دحالاتو مطابق درس پر مخ بوزي.

www.Hammadia.com

16. استاذ ته پکارده چې شاګردان په پوره نومونو باندې یاد کړي.

17. استاذ ته پکارده چې شاګردانو ته دهر ډول ښکنځل کولو او داسې خبرو کولو څخه ډډه وکړي چې دشاګرد فکر یې نه سي زغملای.

18. استاذ ته پکارده چې دشاګردانو ترمنځ تفکیک وکړي لائق ، نالائقه ، اخلاقي ، بداخلاقه ، اخلالونکی او نه اخلالونکی شاګردان وپېژني او ددوی دسویو مطابق رویه ورسره وکړي.

19. استاذ باید خپل شاګرد دشخصي دخوابدتیا پربنسټ دامتیازاتو څخه نه بې برخي کوي یا په بل عبارت دصنف دباندې ناخوالي دې په صنف کې نه سپړي.

20. استاذ باید دشاګردانو په وړاندې دهرډول منفي کارونو څخه ډډه وکړي لکه درواغ ویل ، نسوار کول ، سګرېټ څکول ، دشاګرد سره پر نفس درېدل ، خیانت کول او داسې نور.

21. استاذ ته پکارده چې دټولو شاګردانو سره په یوه ډول رویه وکړي مطلب داچې استاذ ته پکار نه ده چې یوه شاګرد ته امتیاز ورکوي بل څني بې برخي کوي ، دیوه سره ناسته ولاړه کوي دبل څخه بې موجبه کرکه کوي یعني استاذ باید دمساوي شاګردانو ترمنځ توپیر ونکړي.

www.Hammadia.com

22. استاذ باید دشاګردانو ترمنځ هر ډول تبعیضات له منځه یوسي او ددوی په منځ کي دورورګلوي او صمیمیت فضا رامنځته کړي.

23. استاذ باید دخپلو شاګردانو ترمنځ علمي رقابت او سیالي رامنځته کړي.

# شاګردانو ته کورني کار ورکول او دهغه کتل

داستاذ لخوا شاګردانو ته کورنۍ دنده ورکول دعملي کار یوه برخه ده او ددرس په زده کړه کي کورني کار زیات اغېزمن تمامیږي استاذ به په پوره هڅه سره دشاګردانو کورنۍ دندي ته متوجه کیږي او په هیڅ درس کي به شاګردان نه پرېږدي چي کورنۍ دنده ترسره نه کړي او ددې لپاره چي دشاګردانو کورنۍ دنده په درس کي ښه اغېزمنه تمام سي استاذ ته پکارده چي دکورنۍ دندي په اړه لاندي ټکي په نظر کي ونیسي:

1. تر ټولو وړاندي باید استاذ وشاګردانو ته دکورنۍ دندي هر اړخیزي ګټې ور په نښه کړي دمثال په ډول کورنۍ دنده ترسره کول وشاګردانو ته ددرس تمرین دئ ، کورنۍ دنده په درس کي دشاګردانو دذهن انکشاف رامنځته کوي، کورنۍ دنده دشاګردانو دلیک ښکلا زیاتوي ، کورنۍ دنده دشاګردانو درسي ستونزي لمنځه وړي یعني که یوشاګرد ناسم پوه سوی وو یا نه وو پوه سوی کله چي کورنۍ دنده ترسره کړي داستاذ له خوا یې نیمګړتیا په نښه کیږي او شاګرد ددوهم ځل لپاره سم پوه کیږي ، کورنۍ دنده دشاګرد لپاره تر

ټولو ښه بوختیا ده ځکه که شاګرد په کور کې په نورو شیانو بوخت سي دشاګرد ذهن ددرس څخه فاصله نیسي بیا ددرس په زده کړه کې ستونزې ورته پیښیږي، کورنۍ دنده ترسره کول ددې مخه نیسي چې شاګردان په ناسمو کارونو باندې بوخت سي او داسې نورې ګټې هم پکښې سته استاذ ته پکار ده چې دخپل ټول مهارت څخه کار واخلي ، دکورنۍ دندې ټولې ښیګڼې شاګردانو ته بیان کړي او په پایله کې شاګردان کورنۍ دندې ته وهڅوي.

2. استاذ ته پکار ده چې شاګردانو ته دکورنۍ دندې دپوره کولو په صورت کې امتیاز ورکړي مثلا شاګردانو ته دې دښه کورني کار دپوره کولو په صورت کې پنځه نمرې او افرین ورکړي، دمتوسط کار دپوره په صورت کې دې درې نمرې او شاباس ورکړي ورسره دې ولیکې چې کوشش کوه، دکمزوري کار دترسره کولو لپاره دې یوه نمره ورکړي بیا دې ورته ولیکي چې پوره کوشش وکړه کار دې ډېر کمزوری دئ. کوم شاګرد چې کورنۍ دنده ترسره کړې نه وي هغه ته دې جزا ورکړي مثلا ددغه شاګرد څخه دې دصنفي لیاقت او یا صنفي اخلاقو نمرې وګرځوي.

3. استاذ چې کله شاګردان دکورني کار دپوره کولو په ګټو پوه کړي بیا به شاګردانو ته دکورنی کار امتیازات او مجازات په ډېر دقت سره وښیي او دهغو مطابق بیا چلند ورسره وکړي.

4. کله چې شاګرد کورنی کار ترسره کړی وي استاذ یې باید لاسلیک کړي ، نېټه پر ولیکي او امتیاز پر ولیکي.

5. کله چې شاګرد کورنی کار ترسره کړی وي استاذ باید دشاګرد په کورني کار کي غلطیاني په ګوته کړي او بیا یې اصلاح کړي.

6. استاذ باید دشاګردانو کورنی کار په هیڅ صورت کي په بل شاګرد ونه ګوري.

7. استاذ چي کله دشاګردانو کورنی کار ګوري لومړی باید شاګردانو ته ووایي چي دکورني کار کتابچې خلاصي کړئ استاذ به دټولګۍ دسر څخه تر پایه پوري ولاړ سي په ولاړه به دشاګردانو کورني کارونه دومره وګوري چي کومو شاګردانو کورنی کار راوړی دئ که یا؟ کومو شاګردانو چي کورنی کار نه وي راوړی هغه به ولاړ کړي قانوني کړنه به ورسره وکړي.

8. استاذ باید په ورځني پلان کي دکورني کار دکتلو لپاره وخت بیل کړي او دهغه وخت مطابق دشاګردانو کورنی کار وګوري.

9. که دشاګردانو شمېر زیات وو استاذ نه سوای کولای چي ددوی کورني کارونه په ټولګۍ کي وګوري استاذ ته پکارده چي ددوی څخه کتابچې ټولي کړي دځان سره یې کورته یوسي او په کور کي یې په ښه دقت سره وګوري.

10. استاذ به په هیڅ صورت کي دشاګردانو کورنی کار داسي نه ګوري چي یوازي لاسلیک پر وکړي نور یې ونه څېړي بلکي په ښه دقت سره به یې ګوري ځکه که دقت پکښي ونه کړي دشاګردانو کورنی کار ترسره کول ډېره لږه ګټه کوي.

www.Hammadia.com

11. کوم شاګرد چي کورنی کار نه ترسره کوي استاذ باید لومړی دغه شاګرد کښېنوي او اصل لامل ځني وپوښتي چي ولي شاګرد کورنی کار نه ترسره کوي او دهغې ستونزې دحل لپاره دي بیا استاذ همکاري ورسره وکړي. که بیا هم شاګرد کورنی کار نه ترسره کوي استاذ باید ددغه شاګرد داولیاؤ سره په رابطه کي سي او دهغوی سره په مشوره دده ستونزه حل او یا یې په دواړو دکورنی کار پوره والي ته وهڅوي.

12. استاذ ته پکارده چي دشاګردانو دکورني کار دکتلو په وخت دشاګرد املا ، انشاء او لیکنی ښي ته وګوري همدا ډول وڅېړي چي شاګرد ددرس مطلوب څنګه په کورني کار کي څرګند کړی دئ.

13. استاذ به دکورني کار دکتلو په وخت کي دصحت( √ ) او غلطی (x) دنښانو څخه استفاده کوي څو شاګرد ته غلط او صحیح ځای معلوم سي.

14. استاذ باید یوازي پردې بسنه ونه کړي چي شاګردانو ته تحریري کورني کارونه ورکړي بلکي پکارده چي نور عملي کارونو هم په کورني دندو کي ورکړي لکه شفاهي تمرین ، نقش لیکل ، سپورټ او داسي نور.

# دشاګردانو ددرس ارزيابي

په ښه درس کي ارزيابي زيات اغېز لري که یو استاذ دشاګردانو درس ارزيابي کوي داستاذ درس ډېر مؤثر وي دهغه درس په پرتله چي دهغه

درس ارزيابي نه وي سوې که يو استاذ غواړي چي دارزيابۍ له لاري خپل درس زيات اغېزمن کړي نو پکارده چي لاندي ټکي په نظر کي ونيسي نو درس به يې په ښه توګه صورت نيولی وي:

1. **ورځني ارزيابي** : اصلا دارزيابۍ مطلب دادئ چي استاذ ځانته معلومه کړي چي کوم درس چي ما شاګردانو ته ويلی دئ ايا شاګردانو هغه درس زده کړی دئ که يا؟ ددې کار دمعلومولو لپاره استاذ ته پکارده چي هر ورځ درس پيلوي په خپل ورځني پلان کي به دارزيابۍ لپاره څو دقيقې وخت ورکوي البته کله چي استاذ ټولګۍ ته ورسي نو لومړی حاضري اخلي ، بيا دشاګردانو احوال پرسي کوي ، ورپسې دنوي درس عنوان اونښه پر تخته باندي ليکي مګر تر نوي درس وړاندي بايد استاذ دزاړه درس پوښتنه دشاګردانو څخه وکړي چي په کومه کچه شاګردانو درس زده کړی دئ دا ددرس په جريان کي لومړی ارزيابي سوه کله چي استاذ درس بشپړ کړئ بيا به دشاګردانو څخه پوښتنه کوي چي تاسو په نني درس کي کومي پوښتني لرئ؟ هغه پوښتني زما څخه وکړئ څو په درس ښه پوه سئ . شاګردانو چي خپلي پوښتني وکړې بيا به استاذ دشاګردانو ارزيابي په نوي درس کي کوي په کوم ځای چي شاګردان نه وه پوه سوي په هغه ځای به شاګردان پوه کوي.

2. **اونيزه ارزيابي** : استاذ ته پکارده چي خپل اونيز پلان ولري او په پلان کي اونيزي ارزيابۍ ته ځای ورکړي يعني يوه ورځ په نصفي ډول و ارزيابۍ ته ورکړي په هغه ورځ دي دټولي اونۍ درس

دشاګردانو څخه وپوښتي چي څو فیصده شاګردانو درس زده کړی دئ او دغه فیصدي دي دځان سره ولیکي کله چي په دوهمه اونۍ کي ارزیابي وکړي فیصدي دي یې ځانته معلومه کړي او بیا دي ددې اونۍ او تیري اونۍ ارزیابي سره پرتله کړي چي څومره توپیر لري که په دې اونۍ کي فیصدي ټیټه سوې وي حتما دي یې استاذ ځانته لامل معلوم کړي او هغه ستونزه دي له منځه یوسي دکومي له امله چي ددرس دزده کړي فیصدي ټیټه تللې وه او که په دې اونۍ کي دفیصدي اندازه زیاته سوې وه بیا دي یې هم لامل ځانته معلوم کړي دکوم شي له امله چي ددرس دزده کړي فیصدي لوړه تللې وه هغه شي دي تعقیب کړي او دځان لپاره دي دغوره درس روش وټاکي او تل دي ددغه روش څخه استفاده کوي.

3. **میاشتنۍ ارزیابي**: ددرس دښې زده کړي لپاره استاذ مکلف دئ چي دورځني ، اوونیزو پلانونو په څېر میاشتنی پلان هم ولري په دې پلان کي به دتېرو پلانو په څېر دارزیابۍ لپاره ورځ وټاکي او په ټاکلي ورځ به دشاګردانو ددرس ارزیابي کوي او داوونیزي ارزیابۍ په څېر به یې فیصدي ځانته معلوموي او دنورو میاشتو سره به یې پرتله کوي څو استاذ ددې مهارت له لاري خپل درس ته وده او ترقي ورکړي او خپله تجربه پیاوړې کړي.

## دارزیابۍ ګټې

استاذ که دپورتنیو ارزیابیو څخه استفاده وکړي نو دیوې خوا يې په درس کي تجربه زیاتیږي ځکه استاذ ددې لاري کولای سي چي ددرس منفي او مثبت نکات ځانته معلوم کړي دبله پلوه به دهغه شاګردانو مکلفیت رامنځته سوي وي چي په درس کي لاوبالي کوي ځکه که شاګرد دا شي درک کړي چي زما څخه پوښتنه کیږي او دنه زده کړي په صورت کي زه دعکس العمل سره مخ کیږم نو حتما يو څه زده کوي او ځان په پوه کوي او که مکلفیت ورته نه وي نو پر خپله لاوبالي باندي پاتیږي درس ته هیڅ توجه نه کوي علاوه پردې باندي ددې لاري څخه لایق شاګردان تشویقیږي ځکه کوم شاګردان چي په ارزیابي کي ښه وبریښي هغه حتما تقدیریږي او مکافات ورکول کیږي کوم شاګردان چي په ارزیابي کي ټیټي نمرې لاسته کړي خامخا روحا یا جسما تهدیدیږي او دیو ډول نه یوډول مجازات سره مخ کیږي دانساني طبیعت له اړخه څوک چي مکافات او تقدیر ترګوتو کړي په هغه لاره کي نور هم کوشش کوي او څوک چي دتهدید او مجازات سره مخ سي حتما ددې ویرجن حالت څخه ځان باسي لنډه داچي لایق شاګردان به ددغه ارزیابۍ په برکت نور تشویق سوي وي او نالایقه شاګردان به حتما دا حالت نه وي زغملی ځان به يې ځني ژغورلی وي او ددرس زده کړي ته به يې مخه کړې وي.

4. **په درس کي نغښتې ارزیابي** : ارواپوهان په دې اند دي چي هر انسان په ځانګړي ډول ماشوم په فطرتي لحاظ داسي جوړ دئ چي فقط پنځه دقیقي یوې خاصي موضوع ته نسي متوجه کېدای حتما يې فکر بلي خوا ته ځي کوم انسانان چي دفکر څښتنان

وي هغه له دې امله چې عقل او پوره فکر لري خپله توجه او خپل پام راګرځوي ځکه ددرس اهميت ورته معلوم دئ او غواړي چې دعلم ګټې ځانته راجلب کړي په هر قيمت چې وي ، ماشوم چې کامل فکر نه لري استاذ چې ديوې موضوع څېړل ورته پيل کړي دلنډي مودې تر تېرېدو وروسته يې دستي فکر بلي خواته ځي دومره تعقل او تدبر نه لري چې خپل فکر دي راجمع کړي او دا فکر دي وکړي چې استاذ خو موږ ته علم رازده کوي او ددې علم په مټ موږ کولای سو چې درښتني ژوند برخليک وټاکو او تل پاتي ګټې ترګوتو کړو . دداسي شاګردانو سره بلکي دټولو شاګردانو سره به استاذ همکاري کوي چې فکر يې برقرار وساتي ، دفکر دبرقرار ساتلو لپاره په درس کي نغښتې ارزيابي زيات رول لري په درس کي نغښتې ارزيابي په دې معنا ده چې داستاذ درس په پوښتنيزه بڼه وي يعني داچې کله استاذ دموضوع په څېړلو پيل وکړي کله چې يوه يادوې جملې ووايي دستي يو شاګرد ولاړ کړي چې ما څه وويل؟ شاګرد که داستاذ دوينا په وخت کي متوجه وو جواب ورکوي که متوجه نه وو چوپ پاتېږي ټول شاګردان ورته ګوري او ده ته دحال په ژبه وايي چې استاذ فقط دوې يا درې جملې وويلې ستا فکر نو په دغه وخت کي چيري تللی وو ؟ شاګرد داحالت نه سي زغملای داستاذ راتلونکی درس ته ان په ان متوجه کيږي ، بيا چې استاذ څو جملې نوري ووايي بيا به دبل شاګرد څخه پوښتنه وکړي چې ما څه وويل ؟ شاګرد به جواب ورته وايي بيا چې استاذ څو نوري جملې وويلې بيا به دبل شاګرد څخه پوښتنه کوي چې

ما څه وويل؟ لنډه داچي استاذ به خپل درس تر پايه پوري په دغه ډول باندي وايي که استاذ دغه ميتود په کار واچوي ټول شاګردان فکر کوي چي استاذ موږ نه پريږدي چي درس راباندي زده نه کړي نو داستاذ هري جملې ته ښه متوجه کيږي زده کوي يې که يې زده نه سي دستي داستاذ څخه پوښتنه کوي څو ځان ښه پوه کړي ، دبله پلوه داستاذ داسي پوښتني دجذاب درس لپاره ښه ميتود دئ داستاذ درس خسته کوني نه تماميږي ځکه هره پوښتنه چي استاذ کوي دشاګردانو لپاره په درس کي يو ډول نوښت دئ ، دکومو شاګردانو فکرونه چي بې اختياره بلي خوا ته تللي وي استاذ چي پوښتنه وکړي دستي دهغوی فکرونه راجمع سي بيا درس ته توجه وکړي او که استاذ دموضوع څېړل پيل کړي تر پايه پوري په مسلسل ډول باندي خپل درس جاري وساتي په ټولګۍ کي به زيات شمېر داسي شاګردان وي چي فکرونه به يې بلي خواته تللي وي هغه وخت به يې فکرونه راجمع سي چي استاذ درس پای ته ورسوي بيا نو که استاذ پوښتنه وکړي ګټه نه لري ځکه ټول درس بېرته تکرارول ګران کار وي او نه وخت ددې اجازه ورکوي چي استاذ دي بېرته درس تکرار کړي او که استاذ دڅو جملو ورسته پوښتنه وکړي که څه هم دزيات شمېر شاګردانو فکرونه بلي خواته تللي وي استاذ کولای سي چي ويل سوي جملې په ډېره اساني سره شاګردانو ته تکرار کړي او شاګردانو ته دا فکر ور کړي چي داجملې خو مي تکرار کړي تاسو بايد خپل فکرونه برقرار وساتئ زه ستاسو څخه ددرس زده کړه او دفکر ثابت ساتل غواړم

يعني داچي استاذ ددې لاري څخه دلوی تاوان  مخه نيولای سي . بله خبره داده چي استاذ ټول درس په مسلسل ډول ووايي په منځ کي يې هيڅ پوښتنه نه کوي نو ددې ترڅنګ چي دډيرو شاګردانو فکرونه به بلي خواته تللي وي او ددرس دزده کړي څخه به بې برخي سوي وي نور تاوانونه هم پکښي سته يو داچي داستاذ انرژي به بې ځايه  مصرف سوي وي ، وخت به يې ضايع سوي وي ، په پلان کي به يې ګډوډي رامنځته سوی وي ځکه ده خو په شاګردانو درس نه دئ زده کړی حتما به بله ورځ ورکوي چي ددغه ورځي درس په زده کړي او دکومو شاګردانو چي فکرونه پر ځای او ثابت وه هغو خو به يو څه زده کړي وي مګر داستاذ درس به ډېر ورته خسته ونکی تمام سوی وي هر کله چي ددغه استاذ ددرس سره مخ کيږي نو دوی به دديغت احساس کوي او ددرس څخه به يې هيڅ خوشالي نه ښکاره کوي.

# دښه استاذ صفتونه

ښکاره خبره ده چي داستاذ لفظ سپېڅلی او ددرنښت وړ دئ ، هر استاذ چي په ځان کي دحقيقي استاذ صفات ځای کړي داحترام وړ دئ په دې لحاظ استاذ ته پکارده چي خپلو هر اړخيزو صفتونو ته پوره پاملرنه وکړي. داستاذ صفات پر درو ګټګوريو وېشل کېدای سي :

1. **په ټولنه کي داستاذ صفات** : استاذ ته پکارده چي په ټولنه کي غوره صفات ولري چي ځني يې په لاندي ډول دي:

الف:استاذ مکلف دئ چي دالله ﷻ دټولو اوامرو اطاعت وکړي او دټولو نواهیو څخه یې منعه وکړي، ټول فرائض ، واجبات ، سنن ، مستحبات وپېژني او وعمل په وکړي، همدا ډول ټول محرمات ، مکروهات اوناوړه شیان وپېژني او ځان ځني وژغوري که استاذ دغه شیان په ځان کي عملي کړي ددې ترڅنګ چي دالله ﷻ رضا به یې خپله کړې وي دده عزت او درنښت هم په ټولنه کي زیاتوي ځکه الله ﷻ فرمایي:

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ سَيَجْعَلُ لَهُمُ الرَّحْمَنُ وُدًّا.(6)

ژباړه : بېشکه هغه کسان چي ایمان یې راوړی وي او نیک عملونه یې ترسره کړي وي ژر به الله ﷻ دوی ته (په ټولنه کي) عزت او مقبولیت ورپه برخه کړي.

ب : استاذمکلف دئ چي دټولني ټول مثبت عنعنات ، او فرهنګ ته درناوی وکړي ، خپل کړه وړه ، لباس ، خبري به دټولني دمثبتو عنعناتو سره برابروي.

ج: استاذ مکلف دئ چي په ټولنه کي دداسي کسانو سره اړیکي ونه لري چي په ټولنه کي منفور او سپک خلګ وي چي داستاذ پر حیثیت باندي بد اثر کوي.

د : استاذ ته پکارده چي دټولني دوګړو سره ښه اخلاق او ښه برخورد ولري ، په معاملاتو کي ورسره شفافیت ولري دهر ډول خیانت ، درواغو او دوکې څخه ځان وژغوري.

---

[6]: سورة مريم الاية ٩٦

2. **دننه په صنف کي داستاذ صفات** : دا هغه صفات چي وړاندي دخودي تربيت تر عنوان لاندي او داستاذ دمشخصاتو ترعنوان لاندي تر يوه بريده پرې وړغېدو . استاذ مکلف دئ چي دځان دغوره والي لپاره همدغه صفات په ځان کي عملي کړي.

3. **داستاذ مسلکي صفات** : دا هغه صفات دي چي داستاذ سره په تدريس ، دشاګردانو په ښه پوه کولو او داهدافو په ښه واضح کولو کي مرسته کوي چي ځني يې په لاندي ډول دي:

الف: استاذ بايد دخپل مسلک سره علاقه ولري او په مينه ، مينه شاګردانو ته درس ورکړي يعني استاذ دي داسي نه کوي چي درس کول دځان لپاره يو درد سر بولي او يوازي داقتصادي ګټي لاسته راوړلو په موخه ترسره کوي دچا پرچم هسي يې تر سر اړوي.

ب : استاذ بايد په خپل مضمون کي وارد وي ځکه که استاذ په خپل مضمون کي پوره برلاسى ونه لري نو هيڅکله دښه استاذ په توګه نسي څرګندېدلاى او نه يې په شاګردانو کي درس ښه اغېزمن کېداى سي بلکي تل به دستونزو سره لاس او ګرېوان او دلايقو شاګردانو په وړاندي به يې حيثيت هم ټيټ وي ، که استاذ دکمزوري درس له لاري يو ځلي دشاګردانو په وړاندي حيثيت دلاسه ورکړئ نو بيا که هغه مضمون شاګردانو ته پيل کړي چي استاذ ښه پکښي ماهر وي بيا هم خپل دلاسه ورکړى حيثيت نسي ګټلاى او دشاګردانو په وړاندي حيثيت ساتل مهمه خبره ده ځکه که شاګردانو داستاذ شخصيت دخپل علمي رشد لپاره رهنمود نه وي منلى داستاذ درس نتيجه نه لري.

www.Hammadia.com

ج: استاذ بايد دنوو علومو سره توافق ولري.دمثال په توګه تر نولسمي پيړۍ وړاندي دمذهب پوهانو او ساينس پوهانو ترمنځ دستورو ماتوالى او يا نه ماتولى يوه توده موضوع وه په پايله کي ډېر اوږده بحثونه ـ مناظرې پرې جوړي وي ، بلکي دپيړيو ، پيړيو څخه دواړو ډلو دخپلونظرونو دثبوت لپاره اوږده اوږده کتابونه ليکلي وه. دمذهب پوهانو په ډله کي دنوموړي موضوع ثبوت دعقيده پوهانو دنده وه او په دوئ پوري يې اړه درلوده ددوئ له انده ټول ستوري که سيارات دي ،که ثوابت دي په خپل منځ کي ماتوالى مني او دساينس پوهانو له انده دغه کار شونى نه وو بلکي ټول ستوري يو نه جلاکېدونکي او نه څيري کېدونکى شيان وه خو ددوئ دغه اوږدې مناظرې په اوس مهال کي په څرګند ډول بې ګټې ثابتي سوي دي او په ښکاره ډول دمذهب پوهانو په ګټه موضوع ثابته سوې ده څوک چي لږ مطالعه لري هغه ته ثابته ده چي ستوري په هر مهال کي کېدلاى سي چي ټوټه ټوټه سي او په خپل منځ کي ماتوالى او څيري والى ومني ځکه په دې نژدې وختو کي يعني دنوولسمي پيړۍ راپدې خوا ټولي نړۍ وليده چي د روسيې په سيمه کي په شلمه پيړۍ کي دځينو سيارو ټوټې ولوېدې او داخبره ثابته سوه چي سيارې ماتيږي. دپورتني خبري په نظر کي نيولو سره کوم کتابونه چي دستورو دنه ماتوالي ددليلونو لپاره ليکل سوي دي او يا هغه کتابونه چي دستورو دماتوالي ددليلونو لپاره ليکل سوي دي هغه ټول بې ګټې دي ، څوک چي يې مطالعه کوي هيڅ ګټه پرې مرتبه نه ده ځکه په اوس وخت کي دټولي نړۍ پوهان په يوه خوله وايي چي ستوري په خپل ځان کي ماتوالى مني . داستاذ مسلکي صفت

دادئ چې دنوو علومو او نوو لاسته راوړنو سره توافق ولري يعني په پوره ډول که کومه موضوع نوې ثابته سوې وي استاذ يې بايد ومني دزړو او دبې ګټو خبرو څخه چې پکار نه وي لاس واخلي يعني داچې که فرض يې کړه په پورته موضوع کې بيا هم استاذ هغه پخواني نظريات تر سر نيولي وي او ددې نوو موضوعاتو څخه خبر نه وي يا توافق نه لري بلکي يوازي په دې دليل چې داموږ داسلافو نظرونه دي دغه بې ګټې کتابونه لولي او نظريات يې ابلاغوي دا داستاذ مسلکي ضعف دئ استاذ بايد ځان ځني وساتي.

د : استاذ بايد نوي معلومات دخپلي پوهي جز وګرځوي يعني داسي فکر وکړي چې که زه نوي معلوماتونه تر لاسه نه کړم لکه زما دپوهي يوه برخه چې نوي.

هـ : دفردي اختلافاتو سره اشنا وي دتدريس پر مهال يې دمثبتو او منفي نکاتو څخه ګټه پورته کړي.

و : استاذ بايد يو ښه انتقال کونکی ، يعني دښې قوه افادې څښتن وي ، داسي قوه ولري چې په مټ يې شاګردان ښه پوه کړي او شاګردان ښه استفاده ځني وکړي.

ز: استاذ بايد خپل درس ، کړه وړه ، کردار او اخلاق داسي جوړ کړي چې داستفادې وړ وګرځي.

ح : استاذ بايد دتدريس په فعاليتونو او مهارتونو کي جدي وي او دځان لپاره لازمي او نه بېلېدونکي شيان وګڼي.

ط :استاذ بايد باجرئته وي ، هيڅکله دچا تر تاثير لاندي رانسي چې دخپلي پوهي څرګندتيا نه سي کولای.

www.Hammadia.com

ي : استاذ باید داستراري موضوع په وړاندي دسازش جوړولو وړتیا ولري.

ک:استاذ باید دښه شخصیت ، اسلامي او اجتماعي رویې څښتن وي.

ل : استاذ باید مهربانه ، صابر ، حلیم او دښو اخلاقو سره علاقه من وي.

م : استاذ باید تل خپلو معلوماتو ته توسع ورکړي پر هغه معلوماتو باندي بسنه ونه کړي کوم چي دده سره وړاندي سته ځکه دنړۍ دودي فارمول ددې تقاضا کوي چي نوي ، نوي شیان باید ورځ تر بلي دهري زماني مطابق راڅرګند سي.

ن : استاذ باید په خپل فکر او ذهانت سره دتدیس مهارتونو ته انکشاف ورکړي او نوي لاسته راوړني پکښي وي او دګټو څخه یې ځان برخمن کړي.

س : استاذ باید عادل ، رحم لرونکی ، همکار ، باثباته او پر خپل ځان باندي معتمد انسان وي.

ع : استاذ باید دشاګردانو مشوق وي یعني استاذ باید دشاګردانو تشویق ته زیاته توجه وکړي ځکه تشویق په ښه پوه کولو کي زیات اغېز لري، استاذ باید تواضع ولري، او دشاګردانو سره ددوستانه رویې درلودونکی وي.

ف: استاذ باید دښه قضاوت څښتن وي او په ټولګي کي ښه ډسپیلین ایجاد کړي.ځکه څو چي په ټولګۍ کي قانون او ډسپلین موجود نه وي تر

www.Hammada.com

هغه وخته پوري نظم راتلای نه سي او کله چي نظم رامنځته نه سي نو درس هم په هيڅ صورت کي په صحيح توګه صورت نه سي نيولای.

ص : استاذ بايد دشاګردانو سره دصميميت په فضا کي ژوند وکړي يعني نه داسي چي دشاګردانو سره يې رويه زشته وي چي شاګردان کرکه ځني وکړي او نه يې رويه داسي وي چي ډېر دشاګردانو سره په ناسته ولاړه کي دخيل وي او بالاخره شاګردان په داسي سترګه ورته وګوري لکه ددوی سره مساوي څوک.

ق : استاذ بايد دخپل درسي کار پلان او نقشه طرحه کړي او دشاګردانو سره يې هم شريکه کړي.لکه مخکي چي مو پردې موضوع باندي خبري کړي دي استاذ بايد دخپلي طرحي مطابق خپل درسونه پر مخ بوزي او شاګردان دهري اونۍ په پای کي پوه کړي چي دا اونۍ زموږ دپلان سره سم هغه موضوع پيلوو کومه چي مو په پلان کي وه.

ش : استاذ بايد دمدرسې او مکتب دادارې سره په هر ډګر کي همکاري وکړي بلکي دمدرسې او مکتب دادارې سره داستاذ همکاري ډېره لازمي ده اداره کولای سي چي په ټوله مدرسه کي کامل ډسپلين هغه وخت رامنځته کړي چي داستاذ همکاري ورسره وي.

ت : استاذ بايد شخصي مصؤنيت ولري ، دمدرسې سره امين واوسي ، په پوره صداقت سره خپلي نيکي مشوري دصميميت په فضا کي ورسره شريکي کړي.

# تدريس څه ته وايي؟

دتدريس کلمة دښووني او روزني دپوهانو له انده دهغه فعاليت څخه عبارت ده چي دښوونکي لخوا صورت نيسي او په پايله کي شاګرد زده کړه کوي. يو عالم بيا دتدريس کلمه داسي تعريفوي : تدريس عبارت دئ دمشخصو موضوعاتو په باره کي دتصوراتو ايجادول. تدريس يوه اصطلاح ده چي په دې اصطلاح کي دورزده کولو پروسه مشخصه کيږي نوموړې اصطلاح له يوه پلوه دپوهي تقديمول احتوا کوي او دبله پلوه دپوهي اخيستل يا اخذ کول احتوا کوي. په دغه پروسه کي دزده کړي ښوونکی زيات رول لري . دتدريس پروسه په ظاهر ډېر ساده ښکاري مګر که څوک دقيق ورته متوجه سي نو دتدريس پروسه څه ساده کار نه دئ بلکي يوه ګرانه او مشکله عمليه ده . هر استاذ ته پکارده چي دتدريس په اصولو باندي ځان پوه کړي دتعلم دقانونيت دماهيت د پېژندلو په واسطه دتدريس پروسه نظارت او اداره کړي مطلب داچي لکه په پيل کي چي مو ويلي وه : څومره چي زده کړه مهم او پېچلی کار دئ په همدغه پيمانه ورزده کړه هم مهم او پېچلی کار دئ تاسو وينی په ټولنه کي بېلابيل استاذان شتون لري خو شاګردان يې په وړاندي بېلابېل نظرونه لري دځينو په اړه وايي چي دغه استاذ ښه پوه دئ خوپه درس يې موږ نه پوهيږو ، دځينو په اړه بيا وايي چي دغه استاذ ښه درس وايي خو مطالعه نه لري ، دځينو په اړه وايي : دغه استاذ ښه درس وايي ، ښه مهارت لري مګر په زړه کي مي ښه نه ځني راځي او دې ته ورته نور نظرونه هم سته ددې وجهه يوازي داده چي استاذ دتعلم دقانونيت په ماهيت نه دئ پوهېدلی او دتدريس لپاره يې اصوليکه لاره نه ده انتخاب کړې همدا

وجهه ده چي وايي : (عالم کېدل اسان کار دئ خو استاذ کېدل مشکل کار دئ) .دتدريس پروسه عبارت ده دتاريخي او اجتماعي تجاربو دکسبېدو او انتقال دخاص شکل څخه يعني کومي تاريخي او اجتماعي تجربې چي په لاس راغلي دي هغه په کسبي ډول زده سي او دتدريس په پروسه کي ورکړي سي . زده کړه پخپل ځان کي يوه دوه اړخيزه عمليه ده او ديوه مشترک هدف درلودونکي ده چي داستاذ او شاګرد ددواړو فعاليت احتوا کوي . مطلب داچي په دې عمليه کي استاذ او شاګردان دواړه سهم لري هدف يې دشاګرد په اړخ کي زده کړه ده او داستاذ په اړخ کي ورزده کړه ده، شاګردان په دغه عمليه کي داستاذ دمهارت او غوره عادت په مټ معلومات لاسته راوړي او ضمنا تربيت هم حاصلوي . استاذ خپل معلومات وشاګردانو ته انتقالوي . تدريس بايد داسي ترسره نه سي چي يوازي وشاګردانو ته دمعلوماتو ورکول وي بلکي بايد استاذ دخپل مضمون تدريسي بڼه داسي جوړه کړي چي شاګردان په پوره پيمانه سهم په کښې واخلي څومره چي شوني وي شاګردان دي ددرس په جريان کي په درسي موضوعاتو کي مداخله وکړي څو شاګردان د تربيت تکاملي جنبه ولري . ښوونکی بايد تدريس په ځانګړي توګه دسر څخه تر پايه انجام نه کړي بلکي استاذ بايد دلارښود رول ادا کړي او شاګردان په خپله دتدريس پروسه مخ ته بوزي ځکه دمعاصري نړۍ پوهان په دې اند دي چي په معاصر وخت کي بايد ښوونکی شاګردان په ټولګی کي فعال (Active)وساتي نه داچي يوازي ( Passiva ) انفعال کونکي او په پټو سترګو قبلونکي وي نوره په ځان کي هيڅ د تحرک قوه ونه لري . زده

کړه نه یوازې قبولي ، انفعالي یا دپوهې لاس ته راوستل دي چې دښوونکی له خوا ورکول کیږي بلکې یوه مغلقه فعالیتي پروسه ده چې دپوهې دلاس ته راوړلو سره سم فردي تجارب هم صورت نیسي .یعنې داچې کله شاګرد داستاذ تدریسي کړنلاره ویني نو شاګرد تدریسي کړنلاره دځان لپاره انتخابوي البته که داستاذ تدریسي کړنلاره اصولي وي نو شاګرد به فردي تجارب په تکاملي توګه تر ګوتو کړی وي او که داستاذ کړنلاره ناسمه وه نو شاګرد به یې ددې پرځای چې دپوهې څښتن کړي یې وي پر ناسمه لاره به یې روان کړی وي تدریس او تعلیم دیوې پروسې دوه جهته تشکیلوي چې یوه زده کړه او بل ورزده کړه ده او دا دوه جهته یو دبله نه شکېدونکی پیوند لري. پاته دې نه وي چې په زده کړه او ورزده کړه کې داشي لازمي دئ چې دهر شاګرد خصوصیت او پوره پېژندنه وسي ځکه چې تدریس دانسانانو دانفرادي شکل څخه عبارت دئ ځکه هر شاګرد وځان ته جلا خصوصیت لري چې هغه خصوصیت دده ځانګړی صفت دئ او نور شاګردان هغه صفت یا خصوصیت نه لري ځکه نو په تدریس کې باید دشاګردانو د درک ، فهم ، معرفت او دشاګردې قابلیت په نظر کې ونیول سي په دې اساس ویلای سو چې تعلیم یا تدریس دبنسټیزې پېژندنې په مثل دئ یعنې لکه څرنګه چې په کومه طریقه اساسي پېژندنه راتلای سي تدریس هم باید داسې سي چې په مټ یې دشاګرد اساسي پېژندنه وسي او شاګردته دخصوصیاتو او قابلیت په کچه زده کړه ورکړل سي. یوه عالم هم په دې برخه کې ویلي دي : زده کړه دهغه مشاهدې څخه عبارت ده چې دادارک په وسیله رامنځته کیږي یعنې لکه ځینې شیان

چي په سترګو مشاهده کيږي زده کړه همداسي دادراک په وسيله مشاهده کيږي البته په عمل کي لکه ليدل سوی شي همداسي تطبيقيږي. دلا سپيناوي په موخه ويلای سو چي کله يوکس په مځکه کي ديوشي زراعت کوي ده ته تر ټولو وړاندي لازمي ده چي يو وار ددې مځکي خصوصيت ځانته معلوم کړي چي دا مځکه دکوم شي زراعت ښه کولای سي ځکه دمځکي خصوصيات بېل ، بېل دي ديوې سيمي مځکه دانګورو او انارو کښت ښه کوي دبلي سيمي مځکه بيا نوموړي مېوې بيخي نه کوي نوري مېوې کوي. که بزګر دمځکي خصوصيات ځانته معلوم نه کړي بلکي په ناخبرتيا سره په مځکه کي کښت وکړي حتما به دستونزو سره مخ کيږي کېدای سي په مځکه کي يې داسي څه کرلي وي چي هغه مځکه بيخي ددغه شي دکښت هيڅ جوګه نه وي نو کوم تخم چي يې کرلی وي هغه به بې ځايه تللی وي ، نور مصارف کي يې په کړي وه هغه به بې ځايه تللي وي همدا ډول بزګر چي په مياشتو ، مياشتو پر دغه مځکه اوبه لګولي دي ، خوارۍ يې په کښلي دي هغه به ټولي بې ځايه تللي وي. داستاذ او شاګرد مثال همداسي دي استاذ بايد دشاګرد خصوصيات لومړی وپېژني ورپسي په شاګرد کي تخم وکري يعني زده کړه او پوهه ورانتقال کړي که داسي وکړي نو داستاذ اقدام به پرځای وي او که په ناخبرۍ سره پوهه ورانتقال کړي دهغه ناخبره بزګر په څېر به دزياتو ستونزو سره مخ سي.

# دتدريس خصوصيات

1. **په شاګردانو کي دزده کړي احساس فعالول** : مطلب داچي که په شاګرد کي دا احساس فعاله سي چي زه يو څه زده کوم او بايد څه ډول يې زده کړم خو يوه خبره لازمي ده هغه داچي دمدرسې دشاګردانو درسي محتويات په هر شکل چي تقديم کيږي بايد دشاګردانو دحافظې او ددوی دسابقه تجربې په پيمانه ورزده سي يعني دومره څه ورزده سي چي ددوی حافظې يې ديادولو وړتيا لري او داسي څه ورزده سي چي دوی يې په مقدماتي شيانو پوهيږي يعني ددوی پروړاندي تجربې باندي اتکاء ولري دمثال په ډول يو شاګرد اعداد نه وي زده کړي هغه نسي کولای چي اعداد سره جمعه کړي چا چي جمع نه وي زده کړي هغه نسي کولای چي دجمعې لنډه طريقه يعني ضرب زده کړي . همدا ډول شاګردانو ته درسي محتويات دشاګردانو دهغي پوهي سره چي دوی يې په ازادانه ډول دمشاهدې په واسطه لاس ته راوړي اتکاء ولري نوي پوهه هغه وخت ښه زده کيږي چي دهغه تقديم کېدل دشاګردانو دامادګۍ ، دفهم دسطحي سره متناسب او متکي په عيني واقعاتو وي ، مثلا ماشوم شاګرد ګل ، دېوال ، پنکه او داسي نور شيان چي دشاګرد ورسره سر وکار وي پېژني او که دغه ماشوم ته دګل زراعي امراض ورښودل کيږي ، ياد دېوال ساختماني اصولي جوړښت ورښودل کيږي او يا دپنکي تخنيکي جوړښت ورښودل کيږي دا دشاګرد دفهم دسطحي سره متناسب نه دئ همداډول دشاګردانو په حافظه کي دتجربې احساس بيداره او فعاله کړي څو دشاګردانو سطحي معلومات عميق تره ، مکمل تره ، دقيق

www.Hammadia.com

تره او درست تره سي . په شاګرد کي دحافظې دتجربې احساس فعاله کوي دشاګرد دتشويق او متوجه کېدلو له لاري کېدلای سي دمثال په ډول يو شاګرد ته وويل سي چي په درس کي هر څه ويل کيږي هغه ته حتما انسان اړتيا پيدا کوي شاګرد ته ددې خبري تر کولو وروسته ده ته ددليل په توکه وويل سي : اې شاګرده ! که ستاسره په کتابچه کي ددوستانو دتليفونونو نمرې وي ته په يو سفر روان سي دلاري په اوږدو کي نابېره ستا دتګ وسيله موټر ، موټر سايکل ، بايسکل دفعاليت څخه ولويږي ته ژر جيب ته لاس کړي غواړي چي کتابچه راوباسي او دوستانو ته تليفون وکړي چي هغه ستا مرستي ته راسي کله چي ته په جيب کي وګوري ستا په جيب کي کتابچه نه وي ورکه سوې وي او ستا ده هيڅ دوست نمبر په ياد نه وي نو ته به حتما دزياتو مشکلاتو سره مخ سي او که ستا دځينو دوستانو دتليفون نمرې په ياد وي کېدلای سي ستا سره ډېره همکاري وکړي. بله خبره داده چي استاذ بايد دشاګرد پوهه دحافظې دلاري عميق تره کړي څو شاګرد دموضوع په اصل مفهوم پوه سي که چيري دښوونکو معلومات دواقيعتونو سره متناسب او مشخص نه وي شاګرد دموضوع په اصل مفهوم پوه سوی نه وي په دې صورت کي دښوونکو درس لفظي شکل اختياروي او طوطي واره زده کړه منځته راځي شاګرد هيڅ ګټه نسي ځني پورته کولای.

2. دشاګردانو ددرسي فعاليت انګېزه : وشاګردانو ته دموثره درس په جريان کي انګېزه بيدارول زيات ګټمن دئ ځکه دغه درسي

انګېزه بیدارول شاګردان درس ته تشویقوي، په شاګرد کي دزحمت او استقامت قوه پیاوړې کوي دانګېزې دبیدارولو لاري په لاندي ډول دي که یې استاذ په نظر کي ونیسي او عملي یې کړي حتما به یې دګټو څخه برخمن وي:

الف: په شاګردانو کي ددرس علاقه او مېنه پیدا کول: شعوري علاقه دزده کړي دپروسې په واسطه پرورښت کوي او دښوونکو د درسي وسایلو سره مستقیم ارتباط لري ځکه چي درسي وسایل دزده کړي کیفي صفات زیاتوي دشاګردانو دزده کړي مثبت مناسبات نه یوازي چي علاقه او درسي مینه دمحتویاتو سره روزي بلکي دزده کړي په پروسه کي مهم رول لري دزده کړي دپروسي ددلچسپه کېدو لپاره باید وشاګردانو ته دمشاهدې او دهغه څخه ازادانه نتیجه ګیري دقضایاوو حل او لابراتواري کارونه په درسي ډول اجراسي. دمثال په ډول کله چي شاګرد په بیولوژي کي دویني ګروپ په نظري ډول زده کړي بیا داستاذ لخوا لابراتوار ته بوتلل سي کومه عملیه چي ده په کتاب کي ویلې وه هغه ورته عملي سي او بیا دښه تشویق لپاره ورته وویل سي چي ته کولای سي چي هر وخت دخپلي کورنۍ دغړو دوینو ګروپ معلوم کړي او ته کولای سي چي دګروپ دمعلوملو په پایله کي مطابقه وینه داړتیا په وخت کي دچا څخه واخلي اویایې چاته ورکړي حاصل داچي دنوي پوهي دزده کړي ددلچسپۍ بیداروونکې ، انکشاف ورکونکې او تاید کوونکې طریقه عبارت ده دمفاهیمو او نظري موادو سره دشاګردانو اشناکېدنه ، شاګردانو ته هغه ټولي عملیې په عملي توګه اجرا کول کوم چي یې په علمي ډول ویلي وې

همدا عملي کارونه دي چي په شاګردانو کي ددرس سره علاقه او ددرس سره مینه زیاتوي.

ب : ددرس په جریان کي دمناسبي او قناعت ورکونکي وضعي منځته راوستل : دزده کړي دتحریک دمهمو عواملو څخه یو دمناسبي او قناعت ورکونکي وضعي راوستل دي د درس په جریان کي ددغه مطلب دحل لپاره دهرشاګرد په واقعي امکاناتو پوهېدل ضروري ګڼل کیږي. مطلب داچي په شاګردانو کي توپیر سته ځني تېز فهمه ، ځیني متوسط او ځیني کرار فهمه دي استاذ چي هره موضوع شاګردانو ته تشریح کوي باید په داسي الفاظو یې تشریح کړي چي شاګردان قناعت پرې وکړي یعني دشاګرد هر (ول) ته داسي جواب ووایي چي دی پرې قانع سي که هغه عقلي وي ، منقولي ، مثالي وي او که په بل ډول وي.

ج : دشاګردانو دلیاقتونو ، عادتونو ، پوهي او مهارت ارزیابي : که دشاګردانو په زحمت کي دښوونکو له خوا په عادلانه ډول ارزیابي وسي ممکن دشاګردانو تدریجي پوهه په داخلي انګېزه او تحریک بدله سي. لکه مخکي چي مو دارزیابۍ دګټي تر عنوان لاندي پردې خبره باندي تر یوه بریده خبري وکړي.

3. موضوع ، اهداف او د درس قضایا : د درس داهدافو ، نتایجو او موضوع سره دشاګردانو بلدتیا ډېره مهمه ده ښکاره خبره ده چي دهر درس موضوع تقویمي پلان تعینوي ښوونکی ته پکارده چي نوموړې موضوع ددرس په جریان کي ابلاغ کړي او دلکچر دمېتود څخه په استفاده کولو ابلاغ په ښه ډول صورت سره نیسي یعني کله

چي استاذ دخپل پلان څخه يو ټاکلې موضوع شاګردانو ته ابلاغوي نو که يې پرتخته باندي دعنوان په توګه وليکي او دپلان يادونه ورته وکړي ،دا کار شاګردانو ته دمختته تللو خط سير دئ، دلکچر تر څنګ پرموضوع باندي شفاهي بيان دشاګردانو ادراک فعاله کوي او دهغه په واسطه دپلان مختلفي برخي واضح کيږي يعني کله چي استاذ مربوطه عنوان پرتخته باندي وليکئ بيا به استاذ همدغه عنوان په شفاهي ډول شاګردانو ته تفصيل واره بيان کړي چي ديوې خوا به دعنوان ټول جزئيات په ګوته سوي وي او دبله پلوه به دشاګردانو دادارک قوه فعاله سوې وي. ښوونکی بايد په درسي پلان کي لومړی خپل درسي سيستم واضح کړي او وروسته ددرس موضوع په درسي پلان کي واضح کړي . استاذ بايد شاګردان مکلف کړي چي دپلان مطابق درسي محتويات وحافظې ته وسپاري . ښوونکی ته پکارده چي دشفاهي بيان په واسطه اګاهانه او شعوري زده کړه شاګردانو ته انتقال کړي که استاذ دغه کړني عملي کړي نو په دغه ډول سره دتدريس اصولي طريقه عملي کيږي .

4. په شعوري ډول دنوو موادو درک : د درسي موادو درک دپراکتيکي پروسې په حيث بايد اساسي او مستقيم نتايج ولري دا هغه وخت کېدای سي چي دنوو درسي موادو څخه په اساسي توګه استفاده وسي ښکاره خبره ده چي ادراک بېله قبلي تفکر او بېله دمخکني تقريبي اهدافو صورت نه نيسي . ادراک دمختلفو موادو په مؤثر کېدو تکيه لري لکه په لوړ اواز خبري کول ، په ادارک باندي

دشاګردانو پوهاوی دادراک حافظې ، تفکر او بیان سره چې دادراک په مؤثر کېدو کې مستقیم رول لري . ادراک دشیانو او پدېدو دپېژندنې دلارې دحافظې سره رابطه برقراره کوي چې دحسي تجاربو دفعال کېدو باعث کیږي همدا ډول تفکر دشعور له لارې دادراک دلومړۍ مرحلې په ډول رابطه برقراروي یادول او شعور یو دبل سره نه شکېدونکې رابطه لري په هره اندازه چې شیان په حافظه کې باقي پاته سي په هغه اندازه ادراک شعوري دئ .ادراک همېشه دشیانو دبېلونکو نښو په اساس تفکیک یا جلا کیږي دمثال په ډول درخته ساقه لري ، او به جریان لري ، اوسپنه صیقل سوېده نوموړي درې شیانو په ښکاره او بېلونکو نښو سره بیل دي نو هر څومره چې دتفکیک علایم زیات وي ادراک ژر صورت نیسي شاګردان د درسي مطالبو دیادولو په غرض باید په عین وخت کې کلمات واوري چې علایم او مفاهیم یې دشیانو او پدیدو ترمنځ دعملي فعالیتونو دپروسې په واسطه په حافظه کې مستحکم کیږي دبیان درک دشاګردانو دحسي تجربو سره هم ارتباط لري . ددې لپاره چې شاګردان په درست ډول دښوونکو بیان درک کړي باید دوی دهري کلمې په مفهوم وپوهیږي معلومې کلمې مستقیما او بېله امادګۍ څخه درک کیږي ددې لپاره چې شاګردان په نا اشنا کلمو وپوهیږي ضروري ده چې خپل خاص ادراکي فعالیتونه په کار واچوي.

5. عیني تفکر دزده سوو موادو رابطه او مناسبات ، همدا ډول دزده سوو پدېدو داخلي ماهیت روښانه کوي هر ډول علمي پوهه چې

www.Hammadia.com

وشاګردانو ته ورکول کيږي بايد شعوري وي او شاګردان معلومات په اګاهانه ډول زده کړي  کله چي شاګردانو علمي موضوعات په شعوري ډول زده کړل دغه فهم او پوهه ددوی پر فکر تاثير اچوي ځکه چي شعور په خپله درست او دقيق انعکاس ، درست او دقيق واقعيت دانسان په ذهن کي دئ لکه څنګه چي ددرسي مطالبو درک دپوهي يادولو باعث او همداډول په شاګردانو کي دعلمي جهان بينۍ سبب کيږي  ځکه نو دقانون مندۍ درک دزده کړي دموادو په ارتباط او دپديدو دماهيت کشف اساسي رول لوبوي . اطفال دزده کړي په جريان کي ترهغه څه له مخه محسوس شيان زده کوي ا ودوی يې دحسي اعضاوو په واسطه درک کوي دغه دادراک مقدماتي مراحل دي چي دنوي پوهي په واسطه دوباره حقايق حاصليږي د درسي کتاب دمتن درک او فهم او شفاهي بيان دپوهي دلاسته راوړلو عمده او اساسي مراحل دي ځکه نوشاګردان بايد دشعوري فعاليتونو زده کړي ته اماده او مجهز وي که شاګردان دعلمي موضوعاتو په زده کړه کي استعداد په کار اچوي او د درس څخه مثبته نتيجه اخلي .

6. دپوهي تصميم او سستماتيک کول : تعليم او ستماتيک کول دپوهي دزده کولو دمهمو او عمده وسايلو څخه دي چي دنوو موادو دزده کولو په وخت کي له هغه څخه کار اخيستل کيږي ديوه عالم پوهه بې له تسلسله څخه ديوې کتابخانې سره تشبيه کيږي چي په هغه کي هر شي وي مګر تحويلدار داړتيا وړ شي نه سي پيدا کولای بايد وويل سي چي په خپله تر پوهي تسلسل مهم دئ دپوهي تسلسل

www.Hammadia.com

کول دادئ چي درس په فصلو ، حصو ، بابو او حتي په جلا مضمونونو ووېشل سي او بیا وروسته یې په تدریس پیل وسي مطلب داچي که شاګردانو ته پوهه په داسي ډول ورکړل سي چي سلاست نه لري کوم څه چي باید مخکي وي هغه وروسته سي او کوم څه چي باید وروسته وي هغه مخکي سي په دغه حالت کي شاګرد ډېر لږ څه زده کوي بلکي امکان نه لري چي شاګردان دي شعوري او اګاهانه پوهه تر لاسه کړي، که یې کوم څه یاد وي هغه به هم طوطي واره زده کړه وي.

7. پایلي معلومول: ښوونکی دپایلي معلومولو په واسطه دا پیدا کوي چي کوچنیانو کوم نوي شیان ددرس په جریان کي زده کړي دي ، څه ډول شاګردانو کار کړی دئ ، دشاګردانو دکار ارزښت دکار په جریان کي معلوم ، مشاهده او تر دقیقي څېړني لاندي نیسي څو دی وکولای سي دهغو نیمګړتیاوي تعین او په اینده درسو کي هغه رفع کړي. لکه وړاندي چي موږ داوونیزي او ماشتنۍ ارزیابۍ په اړه خبري وکړي او وموښودل چي استاذ باید دهري او نۍ او میاشتي ترارزیابۍ وروسته فیصدي ولیکي او دنورو اوونیو او میاشتو سره یې پرتله کړي که پرمختګ سوی وي او یا شاتګ سوی وي لامل یې باید معلوم کړي.

8. کورنۍ دنده : کورنۍ دنده په حقیقت کي دصنفي کار ادامه ده کورنی کار په شاګردانو کي دزحمتکښۍ او مسؤلیت احساس او علاقه راولي ، دې ورته نوري ګټي هم پکښي نغښتي دي دکورني کار محتویات باید دښوونکو له خوا په ارامۍ یا تحمل سره تشریح سي

په کورني کار کي بايد ښوونکی دکار مېتود او شکل واضح کړي ځکه کورني کارونه دوه ډوله شاګردانو ته ورکول کيږي چي عبارت دي له شفاهي کورني کار څخه او تحريري کورني کار څخه ، شفاهي کورني کار داسي دئ لکه چي شاګرد ته ديوشي ديادولو اوياتمرين کولو دنده ورکړل سي څو دی يې په شفاهي ډول تمرين او يا ياد کړي او تحريري ډول دکومي موضوع په ليکني ډول ، تمرين کولو ، تشريح کولو او يا رانقل کولو ته وايي.

تمت

# دليکوال نور چاپ سوی آثار

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | اړينه پوهه | تاليف |
| ۲ | لوی ګناهونه ددوزخ لمبې | = |
| ۳ | سپېڅلي ورځي | = |
| ۴ | موسيقي او نوي ليکوالان | = |
| ۵ | تجويد درسي کتاب | = |
| ٦ | دزړه يادونه | = |

www.Hammadia.com

| | | |
|---|---|---|
| ۷ | داسلامي نړۍ مظلوميت او دخلاصون لاري چاري | = |
| ۸ | رشتيني باور | = |
| ۹ | دتلاوت لارښود | = |
| ۱۰ | دماشومانو لمونځ درسي کتاب | = |
| ۱۱ | نبوي کورنۍ | = |
| ۱۲ | نبوي معجزې | = |
| ۱۳ | نبوي غزاوي | = |
| ۱۴ | دسپېڅلي پيغمبر ﷺ سپېڅلی ژوند | = |
| ۱۵ | اسلامي آداب درسي کتاب | = |
| ۱۶ | ايازمونږ په هيواد کي دجمعې لمونځ سته؟ | = |
| ۱۷ | ښوونه چي ورزده کړو | = |
| ۱۸ | په اسلام کي حرام ديد | ژباړه |
| ۱۹ | خپل ځانونه وپېژنئ | = |
| ۲۰ | دنبوت او انبياؤ تاريخ | = |
| ۲۱ | ددوزخ او دوخيانو حالات | = |
| ۲۲ | يوولس ګناه کاري ډلي | = |
| ۲۳ | په سرو تيارو کي سرې لمبې | = |
| ۲۴ | کوډي جادوګري او ناروا تعويذونه | = |
| ۲۵ | فضائل اعمال | = |
| ۲۶ | فکري جګړه | = |

www.Hammada.com

## ۲۷ د امام اعظم رحمۃ اللہ علیہ وصیتونه =

*Download From: Aghalibrary.com*